د افغانستان بانک

DA AFGHANISTAN BANK



# کلنی راپور سالانه ۱۳۹۷

(۱۳۹۶ مرغومی – ۱۳۹۷ لیندی)

DA AFGHANISTAN BANK



# کلنی راپور سالانه ۱۳۹۷

(۱۳۹۶ مرغومی – ۱۳۹۷ لیندی)

info@dab.gov.af
0093 0202104761
Da Afghanistan Bank-Youtube
Da Afghanistan Bank-Google+
www.facebook.com/AFGCentralbank
twitter.com/AFGCentralbank

Web: www.dab.gov.af

## د مطالبو لړلیک


**د افغانستان بانک د سرپرست او لومړی مرستیال پیغام** ........ الف

**۱– د نړۍ د اقتصادي کړنو لنډیز** ........ ۱

۱.۱ پرمختللي هېوادونه ........ ۱

۲.۱ د غوړیدو په حال کې هېوادونه ........ ۲

**۲– د هېواد اقتصادي وضعیت او د پولي سیاست کړنې** ........ ۵

- په افغانستان کې اقتصادي بدلونونه ........ ۵

۱.۲ حقیقي سکتور ........ ۵

- اقتصادي وده ........ ۵
- پولي انفلاسیون ........ ۶

۲.۲ بهرنی سکتور ........ ۷

- جاري حساب ........ ۷
- د توکو حساب ........ ۷
- د خدمتونو حساب ........ ۷
- د لومړني عاید حساب ........ ۷
- د ثانوي عاید حساب ........ ۸
- د جاري لیږدونو حساب (بلاعوضه مرستې) ........ ۸
- د کارګرانو د خالصو لیږدونو حساب ........ ۸
- د ادایٔنو بیلانس د پانګې حساب ........ ۸
- د ادایٔنو د بیلانس مالي حساب ........ ۸
- مستقیمه پانګه اچونه ........ ۹
- غیر مستقیمې پانګې اچونې ........ ۹

۳.۲ د پولي سکتور بدلونونه ........ ۹

- نقدینګي (پولي زیرمې او په ګردښت کې پیسې) ........ ۹
- د افغانستان بانک د خالصو نړیوالو زیرمو کچه ........ ۱۰
- د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغاني د مبادلې نرخ ........ ۱۰
- د پولي سیاست د پلي کیدو په برخه کې د افغانستان بانک اقدامات ........ ۱۱
- د اسعارو پلورل ........ ۱۱
- د پانګه ایزو پاڼو پلورل ( د ټکټانې مناقصه) ........ ۱۱

۴.۲ د مالي سکتور بدلونونه ........ ۱۲

**۳– د بانکي نظام د وضعیت او کړنو څرنګوالی** ........ ۱۵

- لنډیز ........ ۱۵
- ۱. ټولیزه شتمنی ........ ۱۷

- د ټولیزه شتمنیو بهیر ........ ۱۸
۱.۱ ټولیزه پوراینې ........ ۱۹
- د ټولیزه پورونو میاشتنی وده ........ ۱۹
۲. ټولیزه امانتونه ........ ۲۲
۱.۲ د ټولیزه امانتونو د ودې میاشتنی پرتلنه ........ ۲۳
۳. ټولیزه پانګه ........ ۲۳
۴ ګټه ........ ۲۳
۱.۴ میاشتنی ګټه ........ ۲۳
۲.۴ په ۱۳۹۷ مالي کال کې د بانکي نظام ټولیزه ترلاسه شوې ګټې ........ ۲۴
۵. سیالیت ........ ۲۵
۶. د اسعارو پرانیستی وضعیت ........ ۲۵
**۴– د اداینو لوی آمریت** ........ ۲۹
- ۱. عملیاتي برخه ........ ۲۹
- نړیواله اداینې (سویفټ Swift) ........ ۲۹
- د بانکونو ترمنځ د ادراینو سیستم ........ ۲۹
- د داخلي ادراینې برخه ........ ۳۰
- د چکونو د تصفیې او تسویې برخه ........ ۳۰
- ۲. د پلان او پالیسي د پراختیا برخه ........ ۳۰
- د ATSپروژه ........ ۳۱
- د ATSپروژې عمده کړنې ........ ۳۱
**۵– د بازار عملیات** ........ ۳۵
- اسعاري شتمنی ........ ۳۵
- لیلاف کریډټونه ........ ۳۵
- د بیه لرونکو پاڼو لیلام ........ ۳۶
- د اسعارو لیلام ........ ۳۷
**۶– د عامه اعتبارونو د ثبت لوی آمریت** ........ ۴۱
- د عامه اعتبارونو د ثبت مدیریت ........ ۴۱
- د منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت مدیریت ........ ۴۳
- د سوداګریزې پراختیا برخه ........ ۴۳
- د معلوماتی ټکنالوژۍ مدیریت ........ ۴۴
- د حقوقي مشاوریت برخه ........ ۴۴

**۷– د افغان امانتونو د بیمې اداره** ...... ۴۹
- د افغان امانتونو د بیمې ادارې پولي سرچینې ...... ۴۹
- هغه سوداګریز بانکونه چې په ۱۳۹۷ مالي کال کې د افغان امانتونو د بیمې ادارې غړیتوب لري ...... ۴۹
- د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د حق البیمې راټوله شوې کچه ...... ۵۰
- د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د دې ادارې د پانګونې د فعالیت کچه ...... ۵۰

**۸– د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز** ...... ۵۳

**۹– بودجه او مالي صورت حساب** ...... ۵۹
- د عوایدو شقوق ...... ۵۹
- د لګښتونو شقوق ...... ۶۰
- مالي صورت حسابونه ...... ۶۲

**۱۰– د بانکي عملیاتو لوی آمریت** ...... ۶۹
- الف. د نغدو پیسو او د غیر نغدي معاملو اداره کول ...... ۶۹
- ب. اداري او پرمختیایي برخه ...... ۷۰

**۱۱– اداره او پراختیا** ...... ۷۵
- د ټولو ناظر اداره ...... ۷۵
- د ریاست د دفتر لوی آمریت ...... ۷۶
- حقوقي مشاوریت ...... ۷۹
- د بشري سرچینو لوی آمریت ...... ۸۰
- د معلوماتي ټکنالوژۍ آمریت ...... ۸۴
- د مالي خدمتونو د پراختیا لوی آمریت ...... ۸۶
- د مالي نظام د ټینګښت د پروژو دفتر ...... ۸۷

## د ګرافونو لړلیک


۱ ګراف: د کورنیو ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ ........ ۶
۲ ګراف: په کلني توګه د مصرفي توکو د بیو شاخص (لیندۍ ۱۳۹۶– لیندۍ۱۳۹۷) ........ ۷
۳ ګراف: د ۱۳۹۶ او ۱۳۹۷ مالي کال د سوداګرۍ بیلانس پرتله ........ ۸
۴ ګراف: په ۱۳۹۷ مالي کال کې د حقیقي ودې د نرخ څرنګوالی اود پولي زیرمو او په ګردښت کې د پیسو ټاکل شوی اهداف ........ ۱۰
۵ ګراف: د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانی د مبادلې نرخ ........ ۱۱
۶ ګراف: د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو او د صرافانو د زیاتیدو بهیر ........ ۱۷
۷ او ۸ ګرافونه: د ۱۳۸۸ کال د لیندۍ له میاشتې څخه د ۱۳۹۷ کال تر لیندۍ میاشتې پورې د تولیزه شتمنی بهیر او د بانکي نظام په ټولیزه شتمنۍ کې د بانکونو ونډه ........ ۱۷
۹ ګراف: د ټولیز شتمنیو وده ........ ۱۹
۱۰ ګراف: د تیرو ۳۶ میاشتو په اوږدو کې د پورونو بهیر ........ ۱۹
۱۱ ګراف: دټولیزه ناخالصه پورونو پر وړاندې د صعب الحصول پورونو نسبت ........ ۲۱
۱۲ ګراف: د ټولیزه امانتونو او ټولیزه پورونو بهیر ښکاره کوي ........ ۲۲
۱۳ ګراف: د تیرو ۳۶ میاشتو په اوږدو کې د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو د ودې بهیر ........ ۲۳
۱۴ ګراف: د ۱۳۸۸ کال له کب څخه د ۱۳۹۷ کال تر لیندۍ پورې د بانکی نظام ټولیزه پانګه ........ ۲۳
۱۵ ګراف: د دولتي، خصوصي او د بهرنیو بانکونو د نماینده ګیو په تفکیک سره د بانکي نظام ګټه او زیان ........ ۲۵
۱۶ ګراف: د ۱۳۹۷ کال په اوږدو کې د نړیوالو ادراینو د سیستم صادره او وارده مبلغونه ........ ۲۹
۱۷ ګراف: د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د داخلي ادراینو، ایسکوډا او تیلګرام مبلغونه ........ ۲۹
۱۸ ګراف: د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د کلیزنګ هاوس د برخې مبلغونه ........ ۳۰
۱۹ ګراف: د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د بیه لرونکو پاڼو او د شپې امانتونو د ټکټانې د نرخ نوسانونه ........ ۳۰
۲۰ ګراف: د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږده کې د پانګه ایزو پاڼو د تقاضا وړ ټولیزه مبلغ او لیلام ........ ۳۶
۲۱ ګراف: د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږده کې د بیه لرونکو پاڼو او د شپې امانتونو د ټکټانې د نرخ نوسانونه ........ ۳۶
۲۲ ګراف: د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې ناتصفیه شوې بیه لرونکې پاڼې ........ ۳۶
۲۳ ګراف: د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د بیه لرونکو پاڼو او د شپې امانتونو د ټکټانې لګښتونه ........ ۳۷
۲۴ ګراف: د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې په ربعوار ډول د حق البیمې راټولونه ........ ۵۰
۲۵ ګراف: په ۱۳۹۶ او ۱۳۹۷ کلونو کې د حق البیمې د راټولونې پرتلنه ........ ۵۰
۲۶ ګراف: د حقیقي او تصویب شوې بودجې د شقوقو زیاتوالی او کموالی ........ ۵۹
۲۷ ګراف: د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د حقیقي او تصویب شوي عوایدو شقوق ........ ۶۰
۲۸ ګراف: د حقیقي او تصویب شویو لګښتونو شقوق ........ ۶۰
۲۹ ګراف: د اثاثیې، تجهیزاتو او پرمختیایي تعمیراتي لګښتونو شقوق ........ ۶۱
۳۰ ګراف: پلټل شوې او نا پلټل شوې ساحې ........ ۷۵
۳۱ ګراف: د پلټل شویو ساحو تعقیبونه ........ ۷۶

## د جدولونو لړلیک


۱ جدول: د کورنیو ناخالصه تولیداتو وده ښکاره کوي ۵
۲ جدول: د کلني عمومي شاخص د انفلاسیون نرخ ۶
۳ جدول: د جاري حساب بیلانس ۸
۴ جدول: د مالي او پانګه ایزو حسابونو بیلانس (په میلیون امریکایي ډالر) ۹
۵ جدول: په پولي شاخصونو او نړیوالو زیرمو کې بدلونونه ۱۰
۶ جدول: د ۱۳۹۷ مالي کال وړاندیز شوې بودجه، تحقق موندلې بودجه او منظور شوې بودجه ۱۲
۷ او ۸ جدولونه: په هېواد کې د نمایندګیو شمېر او د بانکي نظام نورې شته اسانتیاوې ۱۶
۹ جدول: د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو له مخې د ټولو سوداګریزو بانکونو او د بهرنیو بانکونو د نماینده ګیو د شتمنی سلنه ۱۸
۱۰ جدول: د بانکي نظام د ټولیزه پورونو ډلبندي (شمېرې په میلیون افغانی) ۲۰
۱۱ جدول: د بانکي نظام کوچني او منځني پورونه (په میلیون افغانی) ۲۰
۱۲ جدول: د ۱۳۹۷ مالي کال د لیندۍ میاشتې پر بنسټ د بانکونو په توپیر د بانکي نظام ټولیزه ناخالصه پورونه ۲۰
۱۳ جدول: په ولایتونو کې (له جغرافیایي پلوه)د پورونو وېش ۲۱
۱۴ جدول: د پورونو سکتوري وېش د ۱۳۹۷ مالي کال د لیندۍ میاشت ۲۱
۱۵ جدول: د ۱۳۹۷ مالي کال په لړم میاشت کې د مؤسسو د شمېر له پلوه د مسفاء د شریکانو عمومي جزئیات ۲۲
۱۶ جدول: د ۱۳۹۷ مالي کال د لیندۍ میاشتې په پای کې د ټولیزه امانتونو ترکیب ۲۳
۱۷ جدول: د بانکونو کارکوونکو، پوروړو، امانت ایښودونکو او نورو پیرودونکو د شمې احصائیه ۲۵
۱۸ جدول: د ۱۳۹۷ مالي کال کې د سوداګریزو بانکونو د الزامي زیرمو ټولیزه کچه ۳۷
۱۹ جدول: د ۱۳۹۷ مالي کال کې ټولیزه راټول شوې عواید ۴۵
۲۰ جدول: د افغان امانتونو د بیمې ادارې پولي سرچینې ۴۹
۲۱ جدول: د هغه بانکونو لړلیک چې د افغان امانتونو د بیمې ادارې ته حق البیمه ورکوي ۴۹
۲۲ جدول: د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د حق البیمې ټولیزه وضع شوې کچه ۵۰
۲۳ جدول: د دولت، بانکونو او نورو ادارو د افغانی او اسعاري معاملو شمېر او مبلغونه ۷۰
۲۴ جدول: د ۱۳۹۷ مالي کال د بودجې پربنسټ د وزارت/ادارې د ټولو کړنو پرمختګ ۸۸

# د افغانستان بانک د سرپرست او لومړي مرستیال پیغام

د افغانستان بانک د مشرتابه پلاوي په استازیتوب خوښ یم چې د دې بانک د ۱۳۹۷ مالي کال د سیاستونو او کړنو کلنی راپور چې د اقتصادي او پولي وضعیت ترڅنګ د پولي سیاست کړنې، د بازار عملیات، د اداینو سیستم، د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی او د بانک د نورو برخو کړنې رانغاړي، وړاندې کوم.

د افغانستان بانک هغو ادارو او اشخاصو ته چې د بانک د سیاستونو او د بانکي نظام د کړنو په اړه شمېرو، ارقامو او هر اخیزو معلوماتو ته اړتیا لري، د کره معلوماتو د وړاندې کولو په برخه کې خپلې چارې په بریالیتوب سره ترسره کړي او د بېلابېلو ابزارونو له لارې یې د عامه خلکو، محصلینو، اکاډمیکې ټولنې او د افغانستان بانک له کړنو او سیاستونو څخه د د نورو ذینفع شریکانو د پوهاوي په موخه د دې بانک او بانکي نظام کړنو په اړه معلومات خپاره کړي دي.

له نیکه مرغه، ۱۳۹۷ مالي کال د پولي انفلاسیون د کنټرول او د اسعاري زیرمو د زیاتوالي په برخو کې د افغانستان بانک لپاره مطلوب کال ؤ.

په ۱۳۹۷ مالي کال کې د پولي انفلاسیون نرخ د ۴.۳۰ او منفي ۱.۶۳ سلنې ترمنځ په نوسان کې وه او د ۱۳۹۷ مالي کال د لیندۍ په میاشت کې یې کچه ۰.۷۵ سلنې ته رسیده، حال دا چې دا کچه د تیر کال په ورته موده کې ۳.۰۸ سلنه ثبت شوې وه.

د افغانستان خالصې اسعاري زېرمې چې د ۱۳۹۶ مالي کال په پای کې شاوخوا ۷،۳۵۰.۳۴ میلیونه امریکایي ډالره وې ، د ۱۳۹۷ مالي کال د لیندۍ د میاشتې په ۳۰ نېټه ۷،۷۰۸.۵۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته ورسیدې چې د مالي کال له پیل څخه تر ارزونې لاندې مودې پورې ۳۵۸.۲۵ میلیونه امریکایي ډالره زیاتوالی ښکاره کوي.

د هېواد د اقتصادي ودې نرخ د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې ۲.۷ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال په پرتله ټیټوالی په ګوته کوي. د اقتصادي ودې د کمېدو اصلي لامل په همدې کال کې د اورښت ټیټه کچه ښودل شوې ده، له همدې امله د کرنې د سکتور د بیلابیلو برخو د تولیداتو په کچه کې د پام وړ کموالی تر سترګو کېږي او د نورو سکتورونو په پرتله یې د کورنې ناخالصه تولیداتو پر وده باندې د پام وړ اغیزه کړې ده.

ټولیزه امانتونه چې په بانکونو کې د تمویل بنسټیزه سرچینه ګڼل کېږي، د مشتریانو او د بانکونو ترمنځ امانتونو رانغاړي. د بانکی نظام ټولیزه امانتونه د ۱۳۹۷ مالي کال د لیندۍ په میاشت کې ۲۷۳.۳۳ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال په پرتله ۱.۱۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو د زیاتیدو ستر لامل د افغانۍ پر وړاندې د امریکایي ډالر د نرخ زیاتوالی ښودل شوی دی.

بانکي نظام په ټولیزه توګه په ۱۳۹۷ مالي کال کې ګټه کړې ده. بانکي نظام د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې ۲.۴۶ میلیارده افغانۍ (۳۲.۶۹ میلیونه امریکایي ډالره) ګټه کړې ده، حال دا چې په ۱۳۹۶ مالي کال کې بانکي نظام ۱.۷۷ میلیارده افغانۍ خالصه ګټه کړې وه.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان بانک د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د نورو برخو ترڅنګ د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې د مرکز، د امانتونو د بیمې، د عامه اعتبارونو د ثبت او اداري چارو په برخو کې ښې کړنې درلودلې دي چې د چارو د ښه والي لپاره د افغانستان بانک د ټولو تجربه لرونکو کارکوونکو له بې دریغه هلو ځلو او زیارونو څخه مننه کوم او ورته د نورو چارو په ترسره کولو کې بریاوې غواړم.

**واحد الله نوشیر**

**د افغانستان بانک سرپرست او لومړی مرستیال**

# د نړۍ د اقتصادي کړنو لنډیز

په ۱۳۹۷ مالي کال کې د نړۍ اقتصادي وده لږ څه راکمه شوې ده. د نړیوال بانک راپور ښکاره کوي چې د تولیدي سکتور د کړنو له ښه کیدو سره سره بیا هم د سوداګریزو کړنو د کمیدو له امله د نړۍ اقتصادي وده راټیټه شوې ده. که څه هم د نړیوالې سوداګرۍ په برخه کې د لویو اقتصادونو ترمنځ خبرې اترې دوام لري، خو په دې برخه کې شته کړکیچونه لا هم حل شوي نه دي. همدا ډول دا کړکیچونه، د نړۍ د بالقوه اقتصادي ودې د کموالي په اړه د اندیښنو ترڅنګ د توکو د نړیوالو بیو د ټیټوالي لامل شوي دي. د پور ټکټانه په غوړیدلو اقتصادونو او د ودې په حال هېوادونو کې زیاتوالی موندلی چې لامل یې د پرمختللو هېوادونو په بېلابېلو برخو کې د ورته پالیسیو دوام ګڼل کېږي. همدا ډول، د انرژۍ بیو هم د پام وړ نوسانونه درلودلي چې بنسټیز لامل یې د ۱۳۹۷ مالي کال په پای کې د انرژۍ د عرضې کمښت په ګوته شوی دی.

په پرمختللو هېوادونو کې اقتصادي کړنې یو له بل سره توپیر لري، څرنګه چې د امریکې په متحدو ایالتونو کې دا کړنې زیاتې شوې، خو په اروپایي ټولنه کې بیا دا کړنې کمې شوي دي. په ټولیزه توګه، په پرمختللو هېوادونو کې اقتصادي ودې ۲.۲ سلنه ټیټوالی موندلی دی. د غوړیدو په حال هېوادونو کې اقتصادي وده راکمه شوې او ۴.۲ سلنې ته رسیدلې چې د تیرې اټکل شوې کچې په پرتله ۰.۳ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي چې د دې کموالي بنسټیز لامل د غوړیدو په حال ځینو هېوادونو کې د اقتصادي کړنو کموالی په ګوته شوی دی.

**پرمختللي هېوادونه**

څرنګه چې وویل شو، په پرمختللو هېوادونو کې اقتصادي وده توپیر لري. د دې هېوادونو له ډلې، د امریکې متحدو ایالتونو اقتصادي وده په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۲.۹ سلنې ته رسیدلې چې د تیر کال د ۲.۲ سلنې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي چې د دې زیاتوالي اصلي لاملونه د خصوصي لګښتونو مثبته ونډه، نامېشته ثابته پانګونه، صادرات، د خصوصي سکتور له لورې په مصرفي توکو پانګونه او د فدرالي دولت لګښتونه ګڼل کېږي. د دې ترڅنګ، د ځایي دولت د لګښتونو کموالی او د مېشتې ثابتې پانګونې کمیدو په اقتصادي وده باندې منفي اغیزې کړې دي. همدا ډول په دې هېواد کې د انفلاسیون نرخ له ۱.۹ سلنې څخه ۲.۱ سلنې ته لوړ شوی دی.

د بریتانیې اقتصادي وده ۱.۴ سلنې ته رسیدلې چې د ۱۳۸۹ مالي کال له اقتصادي کړکیچ راهیسې تر ټولو ټیټه کچه بلل کېږي. د خدمتونو سکتور د دې هېواد په اقتصادي وده باندې مثبته اغیزه کړې ده، حال دا چې د تولیدي او رغونې سکتور کمزورې کړنې پر اقتصادي ودې دا اغیزه راکمه کړې ده. کورني ناخالصه تولیدات د لګښت د میتود پر بنسټ د خصوصي او دولتي لګښتونو ښې کړنې درلودې، حال دا چې پانګونې او بهرنۍ سوداګرۍ ښې کړنې نه درلودلې.

د جرمني اقتصادي وده په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۱.۵ سلنه ثبت شوې ده چې له تیرو پنځو کلونو راهیسې د اقتصادي ودې تر ټولو ټیټ نرخ ښکاره کوي. د جرمني له احصائیې ادارې څخه د ترلاسه شویو شمېرو پربنسټ په ۱۳۹۷ مالي کال کې د دې هېواد واردات زیات شوي دي، حال دا چې په صادراتو کې یې یو څه کموالی راغلی دی. سربیره پر دې، شمېرې ښکاره کوي چې کورني لګښتونه راکم شوي، حال دا چې د ماشین آلاتو، تجهیزاتو او رغونې په برخو کې پانګونه زیاته شوې ده. همدارنګه په دې هېواد کې د سوداګرۍ د کموالي ستر لامل د

موټرو د تولید کمښت ښودل شوی دی.

**د غوړېدو په حال کې هېوادونه**

په غوړېدونکو هېوادونو کې اقتصادي وده لږ څه کموالی ښکاره کوي.

د چین اقتصاد په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۶.۶ سلنه وده کړې ده چې د ۱۳۶۹ مالي کال راهیسې تر ټولو ټیټه وده ګڼل کېږي. د ۱۳۹۷ مالي کال په څلورمه ربعه کې د دې هېواد اقتصادي وده ۶.۴ سلنې ته رسیږي چې د کلنی محاسبې پر بنسټ د تیرې ربعې د ۶.۵ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. د امریکې متحدو ایالتونو سره د چین د سوداګریزو کړکیچونو او داسې نورو عواملو له امله د دې هېواد بهرنۍ سوداګرۍ کمزوره کړنه درلودلې ده چې یادو کړکیچونو د چین تولیدات ټکنې کړي او له امله یې د دې هېواد اقتصادي وده راکمه شوې ده.

د هند د اقتصادي ودې کچه په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۷.۲ سلنې ته رسیږي چې د تیر مالي کال د ۶.۷ سلنې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. په دې هېواد کې د کرنې، څنګلونو او کب نیونې وده د تیر کال د ۳.۴ سلنې په پرتله په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۳.۸ سلنې ته لوړه شوې ده. سربېره پر دې، تمه کېږي چې په دې موده کې به د تولیدي سکتور وده ۸.۳ سلنې ته ورسیږي چې د تیر کال د ۵.۷ سلنې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. په ورته وخت کې د کانونو سکتور وده په ترتیب سره له ۲.۹ سلنې څخه ۰.۸ سلنې او د خدمتونو سکتور وده له ۸ سلنې څخه ۶.۹ سلنې ته راټیټه شوې ده.

د ترکیې اقتصادي وده د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې راټیټه شوې ده. د دې هېواد د احصائیې انستیټیوټ د شمېرو پر بنسټ د ترکیې کورني ناخالصه تولیدات ۲.۶ سلنې ته رسیږي، حال دا چې دا کچه په تیر کال کې ۷.۴ سلنه ثبت شوې وه. د کرنې سکتور ۱.۳ سلنه، د صنعت سکتور ۱.۱ سلنه او د رغونې سکتور ۱.۹ سلنه وده کړې ده. په ورته وخت کې د ترکیې لیرې د مبادلې نرخ راټیټ شوی دی چې په دې هېواد کې د تیرو ۱۵ کلونو راهیسې د پولي انفلاسیون نرخ تر ټولو لوړې کچې ته رسیدلی دی.

**سرچینې:**

د نړیوال بانک خپرونه ”د نړۍ اقتصادي لید لوری“ ۲۰۱۹ جون

**نورې سرچینې:**

**سازمان**

**ویب پاڼه**

| سازمان | ویب پاڼه |
|---|---|
| ۱- د امریکا متحده ایالاتو د اقتصادي شننې اداره، د سوداګرۍ وزارت | www.bea.gov |
| ۲- د بریتانیې د احصائیې ملي اداره | www.ons.gov.uk |
| ۳- د جرمني د احصائیې فدرالي اداره | www.destatis.de |
| ۴- د چین د احصائیې ملي اداره | www.stats.gov.cn |
| ۵- د ترکیې د احصائیې انستیټیوټ | www.turkstat.gov.tr |
| ۶- Trading economics | www.tradingeconomics.com |

# د هېواد اقتصادي وضعيت او د پولي سياست کړنې

**په افغانستان کې اقتصادي بدلونونه**

**حقيقي سکتور**

**اقتصادي وده:**

د هېواد کورني ناخالصه توليدات د کرنې، صنعت او د خدمتونو سکتورونه جوړوي. د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د هېواد اقتصادي وده ۲.۷ سلنې ته رسيږي چې د تير کال په پرتله ټيټوالی ښکاره کوي. د اوربښت ټيټه کچه په روان کال کې د اقتصادي ودې د ټيټوالي عمده لامل ګڼل کيږي، ځکه چې د کرنې د سکتور بېلابېلې برخې د توليداتو په کچه کې د پام وړ کموالی ښکاره کوي او د نورو سکتورونو په پرتله په کورنې ناخالصه توليداتو خورا ډيره اغيزه لري.

په ۱۳۹۷ مالي کال کې د صنعت سکتور کړنې ښې شوي دي چې په ارزونې لاندې موده کې د دې سکتور وده ۷.۶ سلنې ته رسيږي او د تير کال د ۰.۹ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله زياتوالی ښکاره کوي. حال دا چې د دې سکتور د ځينو برخو د ودې نرخ ټيټېدونکی بهير ښکاره کوي.

د خدمتونو سکتور وده د ۱۳۹۷ کال په اوږدو کې ۱.۲ سلنه راټيټه شوې ده. که څه هم دا ټيټوالی ډيرکم دی، خو په ټولېز شاخص کې د زياتې ونډې په درلودلو سره پر اقتصادي ودې باندې خورا ډيره اغيزه پرېښودلای شي.

له نشه يي توکو پرته د کرنې د سکتور وده هم راټيټه شوې ده، خو د خدمتونو په سکتور کې اغيزناکتيا هم کمه شوې ده چې د کرنې سکتور د کړنو د کموالي له امله د خدمتونو د سکتور کړنې زيانمنې شوي دي.


سره له دې چې د وچکالۍ له امله د هېواد اقتصاد انقباض او ناسمې کړنې درلودلي دي، خو د صنعت سکتور بيا په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۷.۶ سلنه وده کړې ده چې د صنعت په سکتور کې د زياتوالي بنسټيز لاملونه د فابريکو د صنايعو په برخه کې له ۰.۷ سلنې څخه ۱.۵ سلنې، د غير فلزي منرالونو په برخه کې له منفي ۸.۹ سلنې څخه منفي ۱.۸ سلنې او د رغونې په برخه کې له ۰.۴ سلنې څخه ۱۲.۶ سلنه زياتوالی ګڼل کيږي.

لکه څنګه چې مخکې يادونه وشوه، د اقليم نامطلوب بدلون چې د کرنې سکتور د کړنو د کموالي لامل شوی، د خدمتونو د سکتور په کړنو باندې يې هم اغيزه کړې ده او په نسبي ډول د دې سکتور د ودې د ټيټېدو لامل ګرځيدلی دی. د احصائيې او معلوماتو د ملي اداري لخوا د ترلاسه شويو معلوماتو پر بنسټ، په ۱۳۹۷ مالي کال کې د خدمتونو سکتور وده ۱.۲ سلنه راټيټه شوې ده، حال دا چې په تير کال کې دا کچه ۳.۳ سلنه ثبت شوې ده. د خدمتونو دسکتور د کړنو د کموالي بنسټيز لاملونه د عمده او پرچونې سوداګرۍ،هوټلونو او رستورانتونو له ۱۲.۹ څخه ۱.۷ سلنې، ترانسپورټ او زيرمو له ۱.۳ څخه منفي۱.۳ سلنې، د پوست او مخابراتو سکتور له ۵.۲ څخه ۱.۳ سلنې، د معاملاتو لاربښوونې او سوداګريزو خدمتونو له ۲.۲ څخه ۰.۳ سلنې، عامه، شخصي او ټولنيز خدمتونو له ۰.۰۱ څخه منفي ۰.۴ سلنې او نورو خدمتونو له ۹.۴ څخه منفي ۱۹.۰ سلنې ته ټيټوالی او ناسمې کړنې ګڼل کيږي.

(۱) جدول د کورنيو ناخالصه توليداتو وده ښکاره کوي

| د کورنيو ناخالصه توليداتو وده | | |
|---|---|---|
| **کلونه** | ۱۳۹۷ | ۱۳۹۶ |
| کورني ناخالص توليدات | ۲.۷ | ۲.۹ |
| کرنه | -۰.۹ | ۳.۸ |
| صنعت | ۷.۶ | ۰.۹ |
| خدمتونه | ۱.۸ | ۲.۶ |

(۱) ګراف د کورنیو ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ ښکاره کوي




**پولي انفلاسیون:**

د افغانستان پولي انفلاسیون د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې په مطلوب حد کې وه. د افغانستان بانک د انفلاسیون په نرخ کې له نوسانونو سره سره توانیدلی دی چې دا نوسانونه په بریالیتوب سره کنټرول کړي. په ۱۳۹۷ مالي کال کې د انفلاسیون نرخ د ۴.۳۰ او منفي ۱.۶۳ ترمنځ ؤ او د ۱۳۹۷ مالي کال د لیندۍ په میاشت کې ۰.۷۵ سلنې ته رسیدلی دی، حال دا چې په تیر کال کې دا نرخ ۳.۰۸ سلنه ثبت شوی دی. د ۱۳۹۷ کال د لیندۍ په میاشت کې د عمومي انفلاسیون نرخ د تیر کال د ورته مودې په پرتله راټیټ شوی دی چې بنسټیز لامل یې د خوراکي توکو د بیو په شاخص کې کموالی په ګوته شوی دی.


د ۱۳۹۷ کال د لیندۍ په میاشت کې د خوراکي توکو د بیو شاخص منفي ۰.۳۰ سلنې ته راټیټ شوی دی، حال دا چې د تیر کال په ورته موده کې دا شاخص ۴.۵۵ سلنه ثبت شوی ؤ. له بلې خوا ، د نا خوراکي توکو انفلاسیون چې د ۱۳۹۶ مالي کال د لیندۍ په میاشت کې ۱.۷۲ سلنه ثبت شوی ؤ، د ۱۳۹۷ مالي کال په وروستیو کې ۱.۷۶ سلنې ته زیات شوی دی. په هېواد کې د انفلاسیوني بدلونونو د کره کتنې په موخه، د افغانستان بانک د اصلي انفلاسیون معیار هم تر غور لاندې نیولی دی. د دې معیار پر بنسټ، کوم غیر معمولي عوامل چې د موسمي بدلونونو یا نورو ځانګړو حالتونو له امله رامنځته کېږي، له شاخص څخه ویستل کېږي څو پر عمومي شاخص باندې د هغه له اغیزې څخه مخنیوی وشي.

د اصلي انفلاسیون له مهمو معیارونو څخه یو هم د اوسط مونډنې میتود دی. دا معیار د شاخص یوه ځانګړې (۷۰ سلنه) برخه چې عادي بدلونونه ښکاره کوي، رانغاړي. د دې معیار پر بنسټ، د انفلاسیون نرخ د ۱۳۹۶ مالي کال په وروستیو کې له ۲.۰۱ سلنې څخه د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې ۱.۹۳سلنې ته لوړ شوی دی.

(۲) جدول: د کلني عمومي شاخص د انفلاسیون نرخ

| توکي | لیندۍ ۱۳۹۶ | مرغوم ۱۳۹۶ | سلواغه ۱۳۹۷ | کب ۱۳۹۷ | وری ۱۳۹۷ | غویی ۱۳۹۷ | غبرګولی ۱۳۹۷ | چنګاښ ۱۳۹۷ | زمری ۱۳۹۷ | وږی ۱۳۹۷ | تله ۱۳۹۷ | لړم ۱۳۹۷ | لیندۍ ۱۳۹۷ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| عمومي شاخص | ۳.۰۸ | ۴.۳۰ | ۳.۵۶ | ۰.۱۸ | -۰.۷۴ | -۱.۰۵ | -۱.۶۳ | -۰.۱۴ | ۰.۰۹ | ۰.۲۷ | ۰.۸۰ | ۱.۱۱ | ۰.۷۵ |
| د خوراکي توکو شاخص | ۴.۵۵ | ۵.۵۷ | ۴.۳۶ | -۱.۶۲ | -۲.۵۶ | -۳.۶۳ | -۵.۰۰ | -۳.۴۷ | -۲.۵۵ | -۱.۹۳ | -۰.۸۵ | -۰.۵۳ | -۰.۳۰ |
| د نا خوراکي توکي شاخص | ۱.۷۲ | ۳.۷۲ | ۲.۸۱ | ۱.۹۶ | ۱.۵۷ | ۱.۴۹ | ۱.۷۱ | ۳.۱۱ | ۲.۶۳ | ۲.۳۰ | ۲.۳۷ | ۲.۶۷ | ۱.۷۶ |
| لنډیز شوی منځنی حد (30% Trimmed Mean) | ۲.۰۱ | ۲.۶۹ | ۲.۳۶ | ۰.۸۹ | ۰.۹۲ | ۰.۹۱ | ۰.۱۶ | ۱.۲۳ | ۱.۴۰ | ۱.۴۰ | ۱.۷۲ | ۱.۴۸ | ۱.۹۳ |

ګراف (۲) په کلني توګه د مصرفي توکو د بیو شاخص (لیندۍ ۱۳۹۶- لیندۍ۱۳۹۷) ښکاره کوي




**بهرنی سکتور**

**جاري حساب**

په ټولیزه توګه د هېواد جاري حساب د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د تیر کال په پرتله ۲ سلنه کسر ښکاره کوي. د جاري حساب کسر چې په ۱۳۹۶ مالي کال کې ۴،۱۴۵.۳۲ میلیونه امریکایي ډالره ثبت شوی ؤ، په ۱۳۹۷ کال کې ۴،۰۵۵.۷۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي. د ادراینو د بیلانس د جاري حساب کسر له یوې خوا د صادراتو د زیاتوالي او د وارداتو د کمولي او له بلې لخوا د خدماتي عوایدو د زیاتوالي لکه (د رغنیزو، مخابراتي او ترانسپورټي خدمتونو عواید) او هم د لومړنیو عوایدو (پانګونې عواید) د زیاتوالي له امله رامنځته شوی دی.

**د توکو حساب**

په ۱۳۹۷ مالي کال کې د هېواد د صادراتي توکو ټولیزه ارزښت ۸۷۵.۲۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۷۸۳.۹۶ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۱۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. سربیره پر دې، د هېواد د وارداتي توکو ټولیزه ارزښت په ۱۳۹۷ کال کې ۶،۸۹۹.۸۰ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۷،۰۲۳.۸۰ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

**د خدمتونو حساب**

په ۱۳۹۷ مالي کال کې د خدمتونو د حساب کسر د تیر کال په پرتله ۳۰ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. د خدمتونو د حساب کسر په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۵۱۵.۴۸ میلیونه امریکایي ډالره ته رسیږي چې د تیر کال د ۷۳۷.۲۸ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله کموالی ښکاره کوي.

د خدمتونو د حساب کسر په ۱۳۹۷ کال کې د درې ډوله ترلاسه شویو عوایدو څخه په استفادې اغیزمن شوی دی چې په لاندې ډول دي:

- له رغنیزو خدمتونو څخه ترلاسه شوي عواید په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۹۱.۵۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۶ مالي کال د ۳۹.۲۲ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله زیاتوالی لري.
- له ترانسپورټي خدمتونو څخه ترلاسه شوي عواید په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۵۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۶ مالي کال د ۳۸ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله زیاتوالی په ګوته کوي.
- له مخابراتي خدمتونو څخه ترلاسه شوي عواید چې په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۷۰ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۶ مالي کال د ۵۷ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي.

په ټولیزه توګه د سوداګرۍ د بیلانس کسر (د توکو د صادراتو، وارداتو او خدمتونو) په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۶،۵۴۰.۰۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۶ مالي کال د ۶،۹۷۷.۱۱ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۶ سلنه کموالی په ګوته کوي.

**د لومړني عاید حساب**

په ۱۳۹۷ مالي کال کې د هېواد لومړني خالصه عواید ۲۲۱.۶۹

میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي چې د تیـر کـال د ۱۵۳.۴۵ میلیونه امریکايي ډالرو په پرتله ۴۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

**د ثانوي عاید حساب**

په ۱۳۹۷ مالي کال کې د هېواد ثانوي عواید ( بلاعوضه مرستـې او له بهر څخه د کارګرانو لخوا هېواد ته رالیږل شـوې پیـسـې) ۲،۲۶۲ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۲،۶۷۸ میلیونه امریکايي ډالرو په پرتله ۱۶ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

**د جاري لیږدونو حساب (بلاعوضه مرستې)**

د افغانستان دولت ته جاري خالصې لیږدونې په ۱۳۹۷ مالي کـال کې ۱،۷۶۸ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي چې د تیـر کـال د ۲،۱۰۵ میلیونه امریکايي ډالرو په پرتله ۱۶ سلنه ټیټوالـی ښـکـاره کوي.


**د کارګرانو د خالصو لیږدونو حساب**

هېواد ته د کارګرانو له لوري خالصې لیږدونې پـه ۱۳۹۷ مـالـي کال کې ۳۸۱ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۲۶۸ میلیونه امریکايي ډالرو په پرتله ۴۲ سلنه زیاتـوالـی ښـکـاره کوي.

(۳ ) جدول: د جاري حساب بیلانس (په میلیون امریکايي ډالره)

| اجزاوې/ دوره | ۱۳۹۶ لومړۍ ربعه | ۱۳۹۶ دویمه ربعه | ۱۳۹۶ درېیمه ربعه | ۱۳۹۶ څلورمه ربعه | ۱۳۹۶ مالي کال | ۱۳۹۷ لومړۍ ربعه | ۱۳۹۷ دویمه ربعه | ۱۳۹۷ درېیمه ربعه | ۱۳۹۷ څلورمه ربعه | ۱۳۹۷ مالي کال |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د توکو صادرات او خدمتونه | ۲۱۳.۷ | ۲۳۰.۵۴ | ۳۳۴.۶۷ | ۳۶۸.۷۸ | ۱،۱۴۷.۷ | ۳۲۰.۴۹ | ۳۶۴.۲۱ | ۴۳۸.۰۴ | ۴۳۷.۴۱ | ۱،۵۶۰.۱۶ |
| د توکو واردات او خدمتونه | ۱،۸۲۱.۲۷ | ۲،۲۱۲.۳۶ | ۱،۹۰۸.۰۹ | ۲،۱۸۳.۰۹ | ۸،۱۲۴.۸۱ | ۲،۱۵۵.۰۶ | ۱،۹۲۵.۰۷ | ۱،۹۸۱.۲۱ | ۲،۰۳۸.۸۷ | ۸،۱۰۰.۲ |
| د سوداګرۍ د بیلانس کسر | -۱،۶۰۷.۵۷ | -۱،۹۸۱.۸۲ | -۱،۵۷۳.۴۲ | -۱،۸۱۴.۳۱ | -۶،۹۷۷.۱۱ | -۱،۸۳۴.۵۷ | -۱،۵۶۰.۸۶ | -۱،۵۴۳.۱۷ | -۱،۶۰۱.۴۶ | -۶،۵۴۰.۰۴ |
| خالص لومړني عواید | ۱۹.۰۲ | ۳۶.۲۴ | ۲۱.۳۹ | ۷۶.۸ | ۱۵۳.۴۵ | ۲۴.۸۳ | ۵۴ | ۹۸.۵۴ | ۴۴.۳۲ | ۲۲۱.۶۹ |
| خالص ثانوي عواید | ۵۳۳.۱۱ | ۵۱۵.۳ | ۸۰۷.۸۳ | ۸۲۲.۱۸ | ۲،۶۷۸.۴۳ | ۵۴۲.۶۷ | ۶۶۴.۴۶ | ۵۵۴.۷۴ | ۵۰۰.۷۱ | ۲،۲۶۲.۵۷ |
| د جاري حساب کسر | -۱،۰۵۵.۴ | -۱،۴۳۰.۳ | -۷۴۴.۲ | -۹۱۵.۳۳ | -۴،۱۴۵.۲ | -۱،۲۶۷.۱ | -۸۴۲.۴ | -۸۸۹.۸۹ | -۱،۰۵۶.۴ | -۴،۰۵۵.۸ |

(۳) ګراف د ۱۳۹۶ او ۱۳۹۷ مالي کال د سوداګرۍ بیلانس پرتله ښکاره کوي




سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**د ادواینو بیلانس د پانګې حساب**

د ادواینو بیلانس د پانګې حساب چې پانګه ایزې لیږدونې هم پـه کې شاملې دي، په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۱،۴۰۴ میلیونه امریکايـي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۱،۷۹۰ میلیونه امریکایـي ډالـرو په پرتله ۲۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

**د ادواینو د بیلانس مالي حساب**

د ادواینو د بیلانس مالي حساب چې مستقیمې او غیر مسـتـقـیـمـې پانګې اچونې، نورې پانګې اچونې او د شتمنیو زیرمې رانـغـاړي، په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۴۱۳ میلیونه امریکايي ډالرو تـه رسـیـږي چې د تیر کال د ۴۵۳ میلیونه امریکايي ډالرو په پرتلـه ۹ سـلـنـه

ټیټوالي په ګوته کوي.

**مستقیمه پانګه اچونه**

د هېواد دننه د بهرنیو وګړو له لوري مستقیمې پانګې اچونې په ۱۳۹۷ مالي کال کې منفي ۲۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیېږي چې د تیر کال د منفي ۱۰ میلیونه امریکایي ډالرو کچې په پرتله ټیټوالي ښکاره کوي. له هېواده بهر د افغانانو له لوري مستقیمې پانګې اچونې په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۱۱۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیېږي چې د تیر کال د ۵۱ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله زیاتوالی لري.

**غیر مستقیمې پانګې اچونې**

غیر مستقیمې پانګې اچونې (د پوراینې په اسنادو کې پانګه اچونه) په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۲۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیېږي چې د تیر کال د ۲۹ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي.

(۴) جدول: د مالي او پانګه ایزو حسابونو بیلانس (په میلیون امریکایي ډالر)

| اجزاوې/ دوره | ۱۳۹۶ لومړۍ ربعه | ۱۳۹۶ دویمه ربعه | ۱۳۹۶ درېیمه ربعه | ۱۳۹۶ څلورمه ربعه | ۱۳۹۶ مالي کال | ۱۳۹۷ لومړۍ ربعه | ۱۳۹۷ دویمه ربعه | ۱۳۹۷ درېیمه ربعه | ۱۳۹۷ څلورمه ربعه | ۱۳۹۷ مالي کال |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مالي او پانګه ایز حساب | ۱۸۶.۲۰ | ۴۵۴.۶۷ | ۳۲۷.۹۲ | ۳۶۸.۶۲ | ۱،۳۳۷.۴ | ۱۶.۸ | ۲۲۶.۰۹ | ۲۷۶.۵۷ | ۴۷۱.۳ | ۹۹۰.۷۵ |
| پانګه ایز حساب | ۲۳۷.۵۶ | ۴۲۸.۲ | ۵۵۵.۷۲ | ۵۶۹.۲۹ | ۱،۷۹۰.۸ | ۶۲.۸۹ | ۲۲۱.۳۸ | ۴۷۸.۷۲ | ۶۴۱.۵۳ | ۱،۴۰۴.۵ |
| پانګه ایزې لیږدونې | ۲۳۷.۵۶ | ۴۲۸.۲ | ۵۵۵.۷۲ | ۵۶۹.۲۹ | ۱،۷۹۰.۸ | ۶۲.۸۹ | ۲۲۱.۳۸ | ۴۷۸.۷۲ | ۶۴۱.۵۳ | ۱،۴۰۴.۵ |
| مالي حساب | ۵۱.۳۶ | -۲۶.۴۶ | ۲۲۷.۸ | ۲۰۰.۶۸ | ۴۵۳.۳۸ | ۴۶.۰۹ | -۴.۷ | ۲۰۲.۱۶ | ۱۷۰.۲۳ | ۴۱۳.۷۸ |
| مستقیمې پانګونې | -۱۱.۱۶ | -۲۰.۴۴ | -۱۶.۹۸ | -۱۳.۷۳ | -۶۲.۳۳ | -۳۱.۵۸ | -۴۰.۸۵ | -۳۶.۷۴ | -۲۹.۸۵ | -۱۳۹.۰۲ |
| غیر مستقیمې پانګونې | ۳۶.۶۲ | -۳۰.۱۵ | -۱۱.۵۷ | -۲۴.۰۱ | -۲۹.۱۱ | -۵۴.۰۲ | ۱۸.۲۲ | ۲۴.۳۷ | ۳۴.۹۴ | ۲۳.۵۱ |

سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**د پولي سکتور بدلونونه**

**نقدینګي (پولي زیرمې او په ګردښت کې پیسې)**


د پولي سیاست لوی آمریت د هېواد د اقتصادي شرایطو په پام کې نیولو سره او د پولي تقاضا د بنسټیزو او اغیزناکه اړخونو په آړانه کې د دولت مالي پروګرام (عواید او بودجوي لګښتونه)، د اقتصادي ودې لید لوری او په هېواد کې د بیو عمومي کچه او د افغانستان بانک پولي سیاست طرحه او ترتیبوي.

له همدې امله، دې آمریت پولي زیرمې او په ګردښت کې پیسې د شاخصونو او کمې موخو په توګه ټاکلي دي او د ۱۳۹۷ مالي کال لپاره یې د پولي سیاست د پلان او د پیسو له نړیوال صندوق سره د رسمي هوکړې پر بنسټ دا وده ۱۲ سلنه په پام کې نیولې ده.

د ۱۳۹۷ مالي کال په لومړیو کې د پولي زیرمو کچه ۲۷۶،۳۱۸.۰۵ میلیونه افغانۍ ته رسیږي چې د همدې کال په اوږدو کې دا وده له ټاکل شوې کچې څخه راټیټه شوې ده. د ۱۳۹۷ مالي کال د لینډۍ میاشتې په ۳۰ نېټه د پولي زیرمو ټاکل شوی هدف ۳۰۹،۴۷۶.۲۲ میلیونه افغانۍ وه او د پولي زیرمو حقیقي کچه ۲۷۱،۸۰۴.۹۳ میلیونه افغانۍ ثبت شوې ده چې دا کچه له ټاکل شوې کچې څخه ۳۷،۶۷۱.۲۹ میلیونه افغانۍ کم ده او د مالي کال له پیل راهیسې ۱.۶۳ سلنه منفي وده ښکاره کوي. په همدې توګه په ګردښت کې پیسې چې د مالي کال په پیل کې ۲۲۸،۶۸۵.۱۹ میلیونه افغانۍ وې، د ۱۳۹۷ مالي کال د لینډۍ میاشتې په ۳۰ نېټه ۲۲۸،۲۰۵.۹۵ میلیونه افغانۍ ته رسیدلې دي،

حال دا چې ټاکل شوی هدف یې ۲۵۶،۱۲۷.۴۱ میلیونه افغانۍ ؤ. دا کچه له ټاکل شوي کچې څخه ۲۷،۹۲۱.۸۳ میلیونه افغانۍ کمه ده چې د مالي کال له پیل راهیسې ۰.۲۱ سلنه منفي وده ښکاره کوي.

(۴) ګراف په ۱۳۹۷ مالي کال کې د حقیقي ودې د نرخ څرنګوالی او د پولي زیرمو او په ګردښت کې د پیسو ټاکل شوی اهداف ښکاره کوي




**د افغانستان بانک د خالصو نړیوالو زیرمو کچه**

په دې وروستیو کلونو کې د افغانستان د اسعاري زیرمو زیاتوالی، چې د ملي اقتصاد له بنسټیزو شاخصونو څخه شمېرل کېږي، د هېواد په مالي سیستم کې یو له تر ټولو لویو لاسته راوړنو څخه ګڼل کېږي. بې له شکه د دې زیرمو کچه او د زیاتوالي څرنګوالی د پولي سیاستونو په غوره تطبیق او د افغانۍ د مبادلې نرخ او د پولي انفلاسیون د شاخصونو په کنټرول او د ادایو د بیلانس په ثبات او انډول ساتلو کې مستقیمه اغیزه لري. د ۱۳۹۶ مالي کال په پای کې د افغانستان خالصه نړیوالې زیرمې شاوخوا ۷،۳۵۰.۳۴ میلیونه امریکایي ډالره وې، چې د ۱۳۹۷ مالي کال د لیندۍ میاشتې په ۳۰ نېټه ۷،۷۰۸.۵۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسېږي، چې د مالي کال له پیل راهیسې تر ارزونې لاندې مودې پورې ۳۵۸.۲۵ میلیونه ډالره زیاتوالی ښکاره کوي.

(۵) جدول: په پولي شاخصونو او نړیوالو زیرمو کې بدلونونه

| د پولي او نړیوالو زیرمو شاخصونه | | | |
|---|---|---|---|
| | ۱۳۹۶ لیندۍ ۳۰ | ۱۳۹۷ لیندۍ ۳۰ | بدلون په سلنه |
| د امریکایي ډالر پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ | ۶۹.۴۹ | ۷۴.۹۶ | -۷.۳۰ |
| پولي زیرمې په میلیون افغانۍ | ۲۷۶،۳۱۸.۰۵ | ۲۷۱،۸۰۴.۹۳ | -۱.۶۳ |
| په ګردښت کې پیسې په میلیون افغانۍ | ۲۲۸،۶۸۵.۱۹ | ۲۲۸،۲۰۵.۵۸ | -۰.۲۱ |
| ټولیزه نړیوالې زیرمې په میلیون ډالر | ۷،۳۵۰.۳۳ | ۷،۷۰۸.۵۸ | ۴.۸۷ |


سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ**

سره له دې چې د افغانۍ د مبادلې نرخ د افغانستان بانک موخه نه ده، خو په نورو اقتصادي شاخصونو باندې د اغیزناکتیا په پام کې نیولو سره د افغانۍ د مبادلې نوسانونه په بشپړې څېرتیا سره څاري. د ازاد بازار په نظام کې د مبادلې په نرخ کې نوسانونه یو طبیعي کار دی او عرضه او تقاضا په بازار کې د افغانۍ د مبادلې نرخ د بدلونونو او ټاکلو اصلي لامل دی. د شته شمېرو پر بنسټ، د امریکایي ډالرو او نورو بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ له روان مالي کال راهیسې تر اوسه پورې یو لړ نوسانونه تجربه کړي دي.

په ۱۳۹۷ مالي کال کې د افغانیو پر وړاندې د امریکایي ډالرو نرخ په منځني ډول ۷۲.۲۰ افغانۍ ثبت شوی دی، حال دا چې دا نرخ د ۱۳۹۷ مالي کال د لیندۍ میاشتې په ۳۰ نېټه ۷۴.۹۶ افغانۍ ته رسیږي چې د افغانۍ په ارزښت کې ۷.۳۰ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. همدا ډول د پونډ او یورو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ په ترتیب سره ۲.۳ او ۳.۸ سلنه راټیټ شوی دی.

(۵) ګراف د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ ښکاره کوي




سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**د پولي سیاست د پلي کیدو په برخه کې د افغانستان بانک اقدامات**

د افغانستان بانک له بنسټیزو موخو څخه یو هم د کورنیو بیو د ټیکاو ساتل دي. د افغانستان بانک دا موخه د پولي حجم د رژیم له لارې تعقیبوي چې د اسعارو د لیلام او د پانګه ایزوسندونو په کارونې سره په بازار کې د پیسو عرضه کنټرولوي. له دې ابزارونو څخه د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ د ټیکاو په ساتلو کې ګټه اخیستل کېږي، ځکه چې د افغانستان بانک مدیریت شوی متحوله رژیم ( Managed Floated Exchange Rate) تعقیبوي چې په له مخې یې د بازار د عرضې او تقاضا ترڅنګ، د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د ملي پیسو د ارزښت په ساتلو کې د افغانستان بانک لاسوهنه هم اغیزناکه ده.

**د اسعارو پلورل**

د ۱۳۹۷ مالي کال له پیل څخه د لیندۍ تر ۳۰ نېټې پورې د افغانستان بانک د اسعارو د لیلام د بهیر له لارې شاوخوا ۲،۴۱۵.۵۲ میلیونه امریکایي ډالره پلورلي دي چې پر وړاندې یې ۱۷۴.۸۳۸ میلیارده افغانۍ له بازار څخه راټولې کړي دي.

همدارنګه په اسعاری بازار کې د اسعارو په عرضه کولو سره په ټولیزه توګه ۷۱.۸۶ سلنه د اسعارو د بازار تقاضا پوره شوې ده. سربیره پر دې، د ۱۳۹۷ مالي کال له لومړیو راهیسې د روان کال د لیندۍ تر ۳۰ نیټې پورې د افغانستان بانک په بریښنا شرکت باندې په ټولیزه توګه ۱۰ میلیونه امریکایي ډالره پلورلي دي. د یادولو وړ ده چې د افغانستان بانک د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د بیو د ټیکاو ساتلو لپاره له ډالرو سربیره ۱۲۸.۴۵ میلیونه یورو هم پلورلي دي چې په پایله کې یې په ټولیزه توګه ۱۰.۸ میلیارده افغانۍ له بازار څخه راټولې شوې دي.

**د پانګه ایزو پاڼو پلورل ( د ټکټاني مناقصه)**

پانګه ایزې پاڼې د پولي سیاست یو بل ابزار دی چې د افغانستان بانک ترې د نقدینګۍ د حجم او د پولي سیاست د تطبیق په موخه ګټه اخلي. دا ابزار له بانکي نظام څخه د زیاتې نقدینه ګۍ د راغونډولو، د بیه لرونکو پاڼو د ثانوي بازار د دودیدو، د پولي انفلاسیون د نرخ له نوسانونو څخه د مخنیوی، د پولي سیاست د ابزار د تنوع او له خلکو څخه د افغانۍ امانتونو جذبولو ته د سوداګریزو بانکونو د هڅولو په موخه کارول کېږي.

د پورتني وضعیت په پام کې نیولو سره پانګې اچونو ته د خلکو د هڅونې او پورونو ته د هېوادوالو د زیات لاسرسي په موخه د بانک د مشریزه پلاوي د لارښوونې پر بنسټ د ۳۶۴ او ۱۸۲ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو د لیلام عرضه په پر له پسې ډول سره راکمه شوې ده چې په ورته وخت کې ورسره د ټکټانې نرخ هم راټیټ شوی دی، څو سوداګریز بانکونه د ټکټانې په ټیټ نرخ او اسانه شرایطو سره پورونه ورکړي. د ۱۳۹۷ مالي کال له پیل راهیسې د لیندۍ تر ۳۰ نېټې پورې د پانګه ایزو پاڼو ناورکړل شوی مبلغ ۳۳.۷۲ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې له دې درکه د پانګه ایزو پاڼو ۱۰۸.۳ میلیونه افغانۍ ټکټانه ورکړل شوې ده.

**د مالي سکتور بدلونونه**

د افغانستان بانک د کلني کاري پلان پر بنسټ د پولي سياست د آمريت مالي سکتور د عامه او خصوصي مشارکت ( Public Private Partnership) د پروګرامونو د عملي کولو لپاره د دې رياست د عامه مشارکت د مشورتي بورډ د غړي په توګه ونډه لري. همدا ډول دا برخه د ماليې وزارت د دولت بيارغونې د تړون (State Building Contract) په پروګرام کې چې په ۱۳۹۶ مالي کال کې پيل شوی، د اروپايي ټولنې له قوانينو او مقرراتو سره سم ونډه لري. د دې تړون پر بنسټ، د عامه پاليسی، د لوی اقتصاد د اډانې او د عامه مالي مديريت په برخو کې په يو لړ سمونونو باندې هوکړه شوې ده او اروپايي ټولنې د دې سمونونو په بدل کې له افغانستان سره د ۲۰۰ ميليونه يورو اختياري مرستې ژمنه کړې ده.

د افغانستان بانک د يادو پروګرامونو لپاره د ځانګړي استازي په توګه د اقتصادي شاخصونو د بيلو راپورونو په جوړولو کې بنسټيز رول لوبوي.

د پولي سياست د لوی آمريت مالي سکتور د ۱۳۹۷ مالي کال له کلني کاري پلان سره سم توانيدلی دی څو د مالي سکتور د متحولينو اړونده شمېرې(ارقام) په مياشتنې، درې مياشتنې او کلنې توګه راټولې او په درې مياشتنې او کلني احصائيوي بولټن کې يې خپرې کړی. همدا ډول پر له پسې ډول به په دې برخه کې تر ټولو مهم بدلونونه په هر اړخيزه توګه تر ارزونې لاندې ونيسي.

له شتو ننګونو سره سره، په ۱۳۹۷ مالي کال کې ټوليزه راټول شوي عوايد (کورني عوايد) ۱۸۹.۸۴ ميلیارده افغانۍ ته رسيږي چې د تير کال د ۱۶۹.۳۸ ميلیارده افغانۍ راټول شويو عوايدو په پرتله ۱۲.۰۸ سلنه زياتوالی ښکاره کوي.

(۶ ) جدول: د ۱۳۹۷ مالي کال وړانديز شوې بودجه، تحقق موندلې بودجه او منظور شوې بودجه

| | × د ۱۳۹۷ مالي کال منظور شوې بودجه | | د ۱۳۹۷ مالي کال په پای کې تحقق موندلې بودجه | | د ۱۳۹۷ مالي کال وړانديز شوې بودجه | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | ميليارد افغانۍ | ميليارد ډالر | ميليارد افغانۍ | ميليارد ډالر | ميليارد افغانۍ | ميليارد ډالر |
| ټوليزه اصلي بودجه | ۳۷۷.۱۹ | ۵.۵۲ | ۳۸۴.۵۲ | ۵.۶۲ | ۳۶۰.۹۰ | ۵.۲۸ |
| عادي بودجه | ۲۶۶.۱۳ | ۳.۸۹ | ۲۵۸.۰۲ | ۳.۷۸ | ۲۶۷.۱۵ | ۳.۹۱ |
| پراختيايي بودجه | ۱۱۱.۰۶ | ۱.۶۳ | ۱۲۶.۴۹ | ۱.۸۵ | ۹۳.۷۴ | ۱.۳۷ |
| ټوليزې سرچينې | ۳۵۲.۹۰ | ۵.۱۶ | ۳۹۸.۱۲ | ۵.۸۳ | ۳۴۹.۴۱ | ۵.۱۱ |
| کورنۍ سرچينې | ۱۶۱.۶۲ | ۲.۳۶ | ۱۸۹.۸۴ | ۲.۷۸ | ۱۶۱.۶۲ | ۲.۳۶ |
| بهرنۍ سرچينې (بهرنۍ مرستې او پورونه) | ۱۹۱.۲۸ | ۲.۸۰ | ۲۰۸.۲۸ | ۳.۰۵ | ۱۸۷.۷۹ | ۲.۷۵ |

د ۱۳۹۸ مالي کال لپاره ټوليزه عوايد ۳۸۷.۰۲ ميلیارده افغانۍ او ټوليزه لګښتونه ۳۹۹.۴۲ ميلیارده افغانۍ اټکل شوي دي. د دې ترڅنګ، د دې عوايدو او لګښتونو په عمومي بيلانس کې ۱۲.۴۰ ميلیارده افغانۍ (کسر) ښودل شوی دی. د دې ترڅنګ، د خزانو له نقدي زيرمو څخه به د بودجې د کسر د کموالي او د افغانستان بانک د پانګې د کموالي د جبران په موخه (چې 7.1 ميلیارده افغانۍ کيږي) ۱۰ ميلیارده افغانۍ وکارول شي.

د افغانستان بانک د پانګې د کموالي د جبران او د خزانو د نقدي زيرمو له کارونې وروسته د ملي بودجې عمومي بيلانس (کسر) ۹.۴۹ ميلیارده افغانۍ اټکل شوی دی.

# د بانکي نظام د وضعیت او کړنو څرنګوالی

# د بانکي نظام د وضعیت او کړنو څرنګوالی

د افغانستان په بانکي نظام کې دولتي، خصوصي او د بهرنیو بانکونو نماینده ګۍ شاملې دي. د افغانستان بانکي نظام د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د امانتونو د اخیستلو، د پورونو د ورکولو او داسې نورو برخو کې کړنې ترسره کړي دي چې په لاندې ډول تر څېړنې او ارزونې لاندې نیول کېږي.

**لنډیز**

د راپورونو پر بنسټ، د بانکي نظام د ۱۳۹۷ مالي کال د لیندۍ د میاشتې (۲۰۱۸ ډیسمبر) بنسټیز مالي شاخصونه د ۱۳۹۶ کال د لیندۍ له میاشتې سره پرتله او ارزول شوي دي چې جزئیات یې په لاندې ډول وړاندې کېږي.

د یادې مودې په اوږدو کې د بانکي نظام ټولیز امانتونه او ګټې زیاتې شوې دي چې دا زیاتوالی د ډالرو د نرخ د زیاتیدو سربیره، په ټولیزه توګه د ګټورتیا له امله رامنځته شوی دی. د بانکي نظام سیالیت په مطلوب او مناسب حد کې واقع دی، حال دا چې ټولیزه شتمنیو، پوراینو او د بانکي نظام مالي پانګې ټیټیدونکی بهیر درلودلی دی.

د بانکي نظام ټولیزه شتمنی د ۱۳۹۷ کال د لیندۍ په میاشت کې ۳۱۵.۷۸ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې په پرتله ۰.۱۱ سلنه ټیټوالی لري. حال دا چې ټولیزه شتمنی د تیرې میاشتې په پرتله ۲.۶۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د بانکي نظام په ټولیزه شتمنیو کې د زیاتوالي په ټولیزه توګه د خزانې د نغدو پیسو، پر د افغانستان بانک د طلباتو، د بانکونو ترمنځ طلباتو او پانګونو په برخو کې راغلی دی چې په ټولیزه توګه د امانتونو زیاتوالی یې بنسټیز لامل ګڼل کېږي.

د ۱۳۹۷ کال د لیندۍ په میاشت کې د بانکي نظام ټولیزه ناخالصې پوراینې ۴۱.۴۳ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې (۱۳۹۶ لیندۍ) په پرتله یې ۰.۸۷ سلنه ټیټوالی کړی دی. په ټولیزه توګه کې دا ټیټوالی د بانکونو له بیلانس شیټونو څخه د پورونو ایستل، د پورونو د تصفیې، د بانکونو لخوا د پورونو په بدل کې په تضمین کې د ایښودل شویو ملکیتونو د پیرودلو او د یوه بانک د تصفیې لاندې نیولو له امله منځته راغلی دی. د تیرې میاشتې (۱۳۹۷ لړم) په پرتله په ټولیزه ناخالصو پوراینو کې ۵.۱۱ سلنه ټیټوالی راغلی دی چې د پورونو تصفیه، د پورونو د حذفول او د اضافه برداشت پورونو کمه کارونه یې بنسټیز لاملونه ګڼل کېږي.

ټولیزه امانتونه چې په بانکونو کې د تمویل بنسټیزه سرچینه ګڼل کیږي د مشتریانو امانتونه او د بانکونو ترمنځ امانتونه رانغاړي. د ۱۳۹۷ مالي کال د لیندۍ په میاشت کې د ټولیزه امانتونو کچه ۲۷۳.۳۳ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال په پرتله ۱.۱۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د ټولیزه امانتونو د زیاتیدو بنسټیز لامل د افغانۍ پر وړاندې د امریکایي ډالر د نرخ زیاتوالی په ګوته شوی دی. حال دا چې ټولیزه امانتونه د تیرې میاشتې په پرتله ۴.۰۷ سلنه زیات شوي دي چې دا زیاتوالی په جاري امانتونو او د مشتریانو په سپماوو کې راغلی دی.

په همدې توګه، بانکي نظام په کافي اندازه پانګه لري چې د ۱۳۹۷ مالي کال د لیندۍ په میاشت کې د بانکونو ټولیزه مالي پانګه ۳۴.۴۳ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د بانک د ټولیزه شتمنیو ۱۰.۹۰ سلنه جوړوي. مالي پانګه د تیرې مودې په پرتله ۴.۲۱ سلنه کمه شوې ده چې بنسټیز لاملونه یې د ونډو د ګټو ورکول او د یوه خصوصي بانک د تصفیې لاندې نیول په ګوته

شوي دي. د افغانستان بانک په ۱۳۹۷ مالي کال کې په ټولیزه توګه ۲.۴۶ میلیارده افغانۍ خالصه ګټه ترلاسه کړې ده چې د بانکي نظام ټولیزه ګټه د تیر کال د ورته مودې په پرتله ۳۸.۴۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د ټولو بانکونو سیالیت د افغانستان بانک د ټاکل شوي تر ټولو ټیټ حد سره په مطابقت کې قرار لري، خو د اسعاور د پرانیستي وضعیت له پلوه ټول بانکونه (له څلورو بانکونو پرته چې د افغانستان بانک د ټاکل شوي تر ټولو ټیټ حد څخه د اسعارو لپاره ±۴۰ او د انفرادي اسعارو، اوږد مهاله ډالرو، اوږد مهاله یورو لپاره ±۲۰ سلنې څخه سرغړونه کړې ده) نور بانکونه د افغانستان بانک د حد اقل ټاکل شویو حدودو سره مطابقت لري.

د ۱۳۹۷ کال د لیندۍ میاشتې د راپورونو پر بنسټ له یوه بانک پرته د ټولو بانکونو د مقرراتي پانګې نسبت د افغانستان بانک د ټاکل شوي تر ټولو ټیټ حد (د خطر پر بنسټ د عیار شوي شتمنۍ په سلو کې ۱۲) څخه لوړ دی. د بانکي نظام د مقرراتي پانګې نسبت شاوخوا ۲۵.۹۱ سلنه ثبت شوی دی چې د تیر کال د لیندۍ میاشتې په پرتله ۳.۹۰ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

**سریزه**

د هېواد بانکي نظام له ۱۴ بانکونو څخه جوړ دی چې له دې ډلې ۳ دولتي بانکونه، ۷ متعارف[1] خصوصي بانکونه، ۱ اسلامي بانک او پاتې ۳ د بهرنیو بانکونو نماینده ګۍ دي.

(۷ او ۸) جدولونه: په هېواد کې د نمایندګیو شمېر او د بانکي نظام نورې شته اسانتیاوې وړاندې کوي

| اسانتیاوې | شمېر |
|---|---|
| له بشپړو خدمتونو سره نماینده ګۍ | ۲۰۳ |
| له محدودو خدمتونو سره نماینده ګۍ | ۲۱۲ |
| د صرافۍ اتومات ماشینونه (۲۲ ډوله) | ۳۴۱ |
| *نورې اسانتیاوې (۲۱، ۲۴، ۲۵ ډوله) | ۱۷۰ |
| د پلور ځایونه (۲۳ ډوله)** | ۸۷ |
| **ټولیزه** | ۱۰۱۳ |

| کارتونه | |
|---|---|
| د پوراینې کارت (ډېبټ کارت) | ۵۰۶۵۵۷ |
| د اعتبار کارت (کریډېټ کارت) | ۲۰۰۸ |
| ای ټي ایم کارت(ATM) | ۲۲۶۰۶۶ |
| ویب سرفر کارت | ۱۲۸۸۷ |
| د وروسته ورکړې کارت | ۵۰۸۸ |
| ماسټر کارت | ۱۵۶۶ |
| **ټولیزه** | ۷۵۴۱۷۲ |

پورته اسانتیاوې د کابل ښار په ګډون د هېواد په ۳۳ ولایتونو کې د لاسرسی وړ دي. حال دا چې د ATM خدمتونه د هېواد په ۲۸ ولایتونو، دبټ کارت په ۳۱ ولایتونو او د کریډېټ کارت په ۶ ولایتونو کې د لاسرسی وړ دي.

د دې ترڅنګ، تر اوسه پورې په ټولیزه توګه ۱،۲۸۵ د پولي خدمتونو جواز لرونکي وړاندې. کوونکي او ۱،۶۹۹ جواز لرونکي صرافان فعالیت کوي. د پولي خدمتونو د ۱،۲۸۵ جواز لرونکو وړاندې کوونکو له ډلې، ۲۶۱ یې په کابل او پاتې ۷۵۳ یې د هېواد په نورو ولایتونو کې فعالیت کوي. سربېره پر دې، د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د مرکزي دفتر ۲۷۱ نمایندګۍ په کابل ښار او

---

[1] د عالي شورا د ۴ ګڼې، ۱۳۹۷/۴/۱۲ نیټې تصویب پر بنسټ، د افغانستان سوداګریز بانک د تصفیې د مدیریت لاندې دی.

* **د ۲۱ ډول اسانتیا:** هغه واحد یا دفتر دی چې د پور د طی مراحل ابتدایي صلاحیت ولري، مګر د پور د ورکړې صلاحیت ونلري.

* **د ۲۴ ډول اسانتیا:** هغه واحد چې د نغدو پیسو د ورکړې صلاحیت ولري لکه د دولتي او غیر دولتي کارمندانو معاشات او یا د بانک د پیرودونکو نورې نغدي اداینې.


* **د ۲۵ ډول اسانتیا:** هغه واحد چې د عامو خلکو څخه د حکمي او حقیقي اشخاصو (سفارتونه، هوټلونه او داسې نور) په مختلفو حسابونو کې د امانتونو په توګه د نغدو پیسو د ترلاسه کولو صلاحیت ولري.

** **د ۲۳ ډول اسانتیا:** په پلورنځیو کې خدماتي شبکې (پوازې لګښتونه وضع کوي، مګر د سپماوو صلاحیت نلري).

نورو ولایتونو کې په فعالیت لګیا دي. همدا ډول، له ۱،۶۹۹ مجوزو صرافیو څخه، ۳۸۴ صرافي په کابل، ۱،۳۱۰ په نورو ولایتونو او د دوی د مرکزي دفتر ۵ نمایندګۍ د هېواد په نورو ولایتونو کې فعالیت کوي.

(۶) ګراف د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو او د صرافانو د زیاتیدو بهیر ښکاره کوي

د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي او صرافي





**۱. تولیزه شتمنی**

د بانکي نظام تولیزه شتمنی د ۱۳۹۷ مالي کال د لیندۍ په میاشت کې ۳۱۵.۷۸ میلیارده افغانۍ (۴.۱۹ میلیارده امریکایي ډالرو) ته رسیږي چې ۰.۱۱ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. حال دا چې د تیر کال په لیندۍ میاشت کې د بانکي نظام تولیزه شتمنی د ۵.۷۳ سلنه زیاتوالي په درلودلو سره ۳۱۶.۱۳ میلیارده افغانۍ (۴.۵۴ میلیارده امریکایي ډالرو) ته رسیدې. د بانکي نظام د تولیزه شتمنیو د ټیټوالي بنسټیز لامل د ونډې د ګټو ورکړه، د یو خصوصي بانک تصفیه او د امانتونو ویستل په ګوته شوي دي.


د بانکي ډلو په کچه د تولیزه شتمنیو د زیاتوالي په پام کې نیولو سره، خصوصي بانکونو شتمنیو تر ټولو ډیره وده کړې ده چې د تیري دورې په پرتله ۶.۷۱ سلنه زیاتوالی لري، حال دا چې دولتي بانکونو او د بهرنیو بانکونو نماینده ګیو په تولیزه شتمنیو کې په ترتیب سره ۷.۶۱ سلنه او ۲۶.۲۶ سلنه ټیټوالی ثبت کړی دی. د سلنې پر بنسټ د بانکي نظام تولیزه شتمنۍ، خصوصي بانکونه د ۶۷.۴۰ سلنې ونډې په درلودلو سره په لومړۍ درجه، دولتي بانکونه د ۲۶.۵۰ سلنې ونډې په درلودلو سره په دویمه درجه او د بهرنیو بانکونو نماینده ګۍ د ۶.۰۹ سلنې ونډې په درلودلو سره په وروستۍ درجه کې راځي.

(۷) او (۸) ګرافونه د ۱۳۸۸ کال د لیندۍ له میاشتې څخه د ۱۳۹۷ کال تر لیندۍ میاشتې پورې د تولیزه شتمنۍ بهیر او د بانکي نظام په تولیزه شتمنۍ کې د بانکونو ونډه ښکاره کوي

د بانکي نظام تولیزه شتمنۍ، پورواینې او د پانګې بهیر (په میلیون ډالر)




له ۱۳۸۸ کال څخه تر اوسه پورې د بانکي نظام په تولیزه شتمنۍ کې د بانکونو ونډه (ارقام په میلیون ډالر)



(۹) جدول: د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو له مخې د ټولو سوداګریزو بانکونو او د بهرنیو بانکونو د نماینده ګیو د شتمنۍ سلنه


| د ۱۳۹۷ کال د لیندۍ میاشتې (۲۰۱۸ ډیسمبر) پر بنسټ په نزولي ترتیب سره د بانکي نظام شتمنۍ | | | |
|---|---|---|---|
| شمېره | بانکونه | شتمنۍ (په میلیون افغانۍ) | د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو سلنه |
| ۱ | افغانستان نړیوال بانک | ۷۱،۷۲۳.۳۲ | ۲۲.۷۱ |
| ۲ | افغان ملي بانک | ۴۱،۸۷۹.۳۵ | ۱۳.۲۶ |
| ۳ | عزیزي بانک | ۴۰،۴۵۴.۷۹ | ۱۲.۸۱ |
| ۴ | میوند بانک | ۲۵،۰۸۳.۱۹ | ۷.۴۹ |
| ۵ | نوی کابل بانک | ۲۱،۲۲۶.۵۲ | ۶.۷۴ |
| ۶ | پښتنی بانک | ۲۰،۵۴۶.۲۳ | ۶.۵۱ |
| ۷ | افغان یونایټیډ بانک | ۲۰،۳۴۶.۱۵ | ۶.۴۴ |
| ۸ | افغانستان اسلامي بانک | ۱۷،۲۷۹.۸۹ | ۵.۴۷ |
| ۹ | آرین بانک | ۱۳،۶۰۸.۱۴ | ۴.۳۱ |
| ۱۰ | الفلاح بانک لمیټډ | ۱۲،۷۶۴.۶۸ | ۴.۰۴ |
| ۱۱ | فرسټ مایکروفایننس بانک | ۱۲،۴۹۸.۶۲ | ۳.۹۶ |
| ۱۲ | غضنفر بانک | ۱۱،۸۵۱.۲۳ | ۳.۷۵ |
| ۱۳ | نشنل بانک آف پاکستان | ۳،۸۵۸.۵۶ | ۱.۲۲ |
| ۱۴ | حبیب بانک لمیټډ | ۲،۶۱۹.۸۳ | ۰.۸۳ |
| ټولیزه | | ۳۱۵،۷۸۰.۵۰ | ۱۰۰.۰۰ |

**د ټولیزه شتمنیو بهیر**

د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د بانکي نظام ټولیزه شتمنیو لوړېدونکی بهیر درلودلی او په ځانګړې توګه د غبرګولي او لیندۍ په میاشتو کې یې زیاته وده کړې ده چې د بانکونو ترمنځ طلباتو او په تیره بیا په ډالري حسابونو باندې یې خورا ډېره اغیزه درلودلې ده. دا په داسې حال کې ده چې د بانکي نظام شتمنۍ د ۱۳۹۶ مالي کال د مرغومي په میاشت کې د کموالي تر ټولو ټیټ حد ته رسیدلې وې چې د خزانې په نغدو پیسو او د افغانستان بانک پر طلباتو باندې یې د یوې شپې امانتونو او د افغانستان بانک د پانګه ایزو پاڼو په برخو کې د پام وړ اغیزه درلودلې دي.

د بانکي نظام ټولیزه شتمنیو د تیرې میاشتې (۱۳۹۷ لړم) په پرتله ۲.۶۸ سلنه زیاتوالی کړی چې بنسټیزه لامل یې په امانتونو کې زیاتوالی په ګوته شوی دی. د ټولیزه شتمنیو د جزئیاتو په پام کې نیولو سره لیدل کیږي چې د خزانې په نغدو پیسو او د افغانستان بانک باندې طلباتو، د بانکونو ترمنځ طلباتو او پانګونو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی.

د بانکي نظام د شتمنۍ د ودې په اړه د زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره (۹) ګراف ته مراجعه وکړئ.




### ۱.۱ ټولیزه پورراینې

د بانکي نظام ټولیزه پورراینې د ۱۳۹۷ مالي کال د لینډۍ په میاشت کې ۴۱.۴۳ میلیارده افغانۍ (۵۵۱ میلیونه ډالرو) ته رسیږي چې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنۍ ۱۳.۱۲ سلنه جوړوي او د تیرې مودې په پرتله چې د ټولیزه شتمنیو ۱۳.۲۲ سلنه یې جوړوله، ۰.۸۷ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. د بانکي نظام په ټولیزه پوراینو کې د ټیټوالي بنسټیز لاملونه د بانکونو له بیلانس شیټونو څخه د پورونو ویستل، د پورونو تصفیه، د بانکونو لخوا په تضمین کې د ایښودل شویو ملکیتونو پیرودل او د یو خصوصي بانک د تصفیې لاندې نیول په ګوته شوي دي.

د بانکي نظام د ټولیزه ناخالصو پوراینو له ډلې د بانکي نظام د افغانۍ پورونه ۱۷.۰۷ میلیارده افغانۍ (۲۲۷ میلیونه ډالرو) ته رسیږي چې د ټولیزه ناخالصو پورونو ۴۱.۱۹ سلنه او د بانکي نظام د ټولیزه شتمنۍ ۵.۴۱ سلنه جوړوي. دا شمیره د تیرې مودې په پرتله ۲۹.۹۸ سلنه زیاتوالی لري چې د نویو پورونو ورکړه یې اصلي لامل ګڼل کیږي. د بانکي نظام ډالري پورونه ۲۴.۴۳ میلیارده افغانۍ (۳۲۲ میلیونه ډالرو) ته رسیږي چې د ټولیزه پورونو ۵۸.۹۷ سلنه او د ټولیزه شتمنیو ۷.۶۸ سلنه جوړوي او د ۱۳۹۶ کال د لینډۍ میاشتې په پرتله ۱۴.۵۱ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. د دې ټیټوالي بنسټیز لاملونه د بانکونو له بیلانس شیټونو څخه د پورونو ویستل، د پورونو تصفیه، د بانکونو لخوا په تضمین کې د ایښودل شویو ملکیتونو پیرودل او د یو خصوصي بانک تصفیه کول په ګوته شوي دي.


خصوصي بانکونه په هیواد کې د پور ورکولو په برخه کې د ۸۸.۸۸ سلنې ونډې په لرلو سره مخکښه دي، دولتي بانکونه د ۱۰.۰۲ سلنې ونډې په لرلو سره په دویمه درجه او په پای کې د بهرنیو بانکو نماینده ګۍ د ۱.۰۸ سلنې ونډې په درلودلو سره په وروستۍ درجه کې راځي.

### د ټولیزه پورونو میاشتنۍ وده

د بانکي نظام ناخالص پورونو د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې ټیټوونکی بهیر درلودلی دی، په داسې حال کې چې د ۱۳۹۶ کال په مرغومي او د ۱۳۹۷ کال په لینډۍ میاشتو کې پورونو د پام وړ ټیټوالی موندلی دی چې د دې ټیټوالي بنسټیز لاملونه د پورونو حذفول او تصفیه ګڼل کیږي.

ټولیزه ناخالصه پورونه د ۱۳۹۷ مالي کال د لړم د میاشتې راپدیخوا ۵.۱۱ سلنه راټیټ شوي دي چې د پورونو تصفیه، د پورونو له منځه وړل او د اضافه برداشت پورونو کمه کارونه یې بنسټیز لاملونه په ګوته شوي دي.

(۱۰) ګراف د تیرو ۳۶ میاشتو په اوږدو کې د پورونو بهیر ښکاره کوي



(۱۰) جدول: د بانکي نظام د ټولیزه پورونو ډلبندي ښکاره کوي (شمیرې په میلیون افغانی)

| شمیرې | ۱۳۹۷ لیندۍ (۲۰۱۸ ډیسمبر) | ۱۳۹۷ لړم (۲۰۱۸ ډیسمبر) | ۱۳۹۷ لیندۍ (۲۰۱۸ نومبر) | د ټولیزه ناخالصه پورونو پر بنسټ سلنه | د کلنۍ ودې سلنه |
|---|---|---|---|---|---|
| صعب الحصول پورونه[۲] | ۳،۷۲۵ | ۵،۲۶۴ | ۵،۱۹۲ | ۸.۹۹ | -۲۸.۲۵ |
| معکوس ډلبندي شوي پورونه[۳] | ۶،۱۵۳ | ۷،۹۶۹ | ۸،۵۷۹ | ۱۴.۸۵ | -۲۹.۲۷ |
| د نظر لاندې پورونه[۴] | ۴،۵۸۵ | ۵،۸۳۱ | ۴،۸۱۵ | ۱۱.۰۶ | -۴.۷۷ |
| د خسارې پورونه[۵] | ۷۱۱ | ۰.۴۲ | ۹۵۹ | ۱.۷۲ | -۲۵.۸۶ |

د ۱۳۹۷ مالي کال د لیندۍ میاشتې په پای کې د بانکي نظام د پورونو کیفیت په ټولیزه توګه کمزوری ارزول شوی، خو سره له دې هم صعب الحصول پورونه چې د بانکي نظام ۱۲.۲۱ سلنه مالي پانګه او د ټولیزه پورونو ۸.۹۹ سلنه جوړوي، د ۱۳۹۶ کال د لیندۍ د میاشتې په پرتله ۱.۴۶ میلیارده افغانۍ ټیټوالی کړی دی. د بانکي نظام په پورونو کې د ټیټوالي بنسټیز لاملونه د پورونو حذفول، د پورونو بیا ډلبندي او د یو خصوصي بانک د تصفیې لاندې نیول په ګوته شوي دي. حال دا چې د ټولیزه صعب الحصول پورونو چې د ټولیزه ناخالصه پورونو ۸.۹۹ سلنه جوړوي، ۶.۷۶ سلنه یې یوازې په دوو بانکونو پورې تړاو لري. په ورته وخت کې دا بانکونه د ټولیزه ناخالصه پورونو ۳۷.۳۴ سلنه او د بانکي نظام د مقرراتي پانګې ۱۱.۱۳ سلنه جوړوي. د دې ترڅنګ، د بانکي سکتور د صعب الحصول خالصه پورونو نسبت ۲.۶۹ سلنه ثبت شوی دی.

له ۳.۷۲ میلیارده افغانۍ ټولیزه صعب الحصول پورونو څخه **۳.۵۳** میلیارده افغانۍ په خصوصي بانکونو پورې تړاو لري چې د ټولیزه ناخالصو پورونو ۸.۵۲ سلنه (د ټولیزه صعب الحصول پورونو ۹۴.۷۵ سلنه) جوړوي. دا په داسې حال کې ده چې ۱۹۶ میلیونه افغانۍ یې په یوه دولتي بانک پورې تړاو لري چې د ټولیزه ناخالصه پورونو ۰.۴۷ سلنه ( د ټولیزه صعب الحصول پورونو ۵.۲۵ سلنه) رانغاړي.

(۱۱) جدول د بانکي نظام کوچني او منځني پورونه ښکاره کوي (په میلیون افغانۍ)

| شمیرې | ۱۳۹۷ لیندۍ (۲۰۱۸ ډیسمبر) | ۱۳۹۶ لیندۍ (۲۰۱۷ ډیسمبر) | د ټولیزه ناخالصه پورونو سلنه | د کلنۍ ودې سلنه |
|---|---|---|---|---|
| منځني پورونه | ۲،۳۸۰ | ۲،۴۳۶ | ۵.۷۴ | -۲.۲۹ |
| کوچني پورونه | ۴،۹۸۳ | ۴،۵۴۰ | ۱۲.۰۳ | ۹.۷۵ |

(۱۲) جدول د ۱۳۹۷ مالي کال د لیندۍ میاشتې پر بنسټ د بانکونو په توپیر د بانکي نظام ټولیزه ناخالصه پورونه ښکاره کوي

| بانک | ناخالصه پورونه (په میلیون افغانۍ) |
|---|---|
| دولتي بانکونه | ۴،۱۵۵.۶۵ |
| خصوصي بانکونه | ۳۶،۸۲۸.۶۹ |
| د بهرنیو بانکونو نماینده ګۍ | ۴۵۰.۶۱ |
| ټولیزه | **٤١،٤٣٤.٩٥** |


(۲) هغه صعب الحصول پورونه او مخکې ادایني چې اصلي مبلغ یا ټکټانه یې د ۴۸۰-۱۲۱ ورځو پورې وصول شوې نه وي او باقي وي (مشکوک)

(۳) هغه شتمنۍ چې د شتمنۍ اصلي مبلغ/ټکټانه د ۱۲۰-۶۱ ورځو پورې وصول شوې نه وي او باقي وي (د معیار لاندې)

(۴) هغه شتمنۍ چې د شتمنۍ اصلي مبلغ/ټکټانه د ۶۰-۳۱ ورځو پورې وصول شوې نه وي او باقي وي (د نظر لاندې)

(۵) هغه صعب الحصول پورونه او مخکې ادایني چې اصلي مبلغ او یا ټکټانه یې د ۴۸۱ ورځو او له دې زیاتې مودې لپاره وصول شوې نه وي او باقي وي (خساره)

(۱۱) ګراف دټولیزه ناخالصه پورونو پر وړاندې د صعب الحصول پورونو نسبت ښکاره کوي




د ۱۳۹۷ مالي کال د لیندۍ میاشتې د مالي راپورونو پر بنسټ، د پورونو ورکړه د ولایتونو او په بېلابېلو سکتورونو کې ترسره شوې ده، حال دا چې د پورونو په جغرافیایي او اداري وېش کې تنوع راغلې نه ده.

(۱۳) جدول: په ولایتونو کې (له جغرافیایي پلوه)د پورونو وېش ښکاره کوي

| شمیره | ولایتونه | د پور مبلغ (په میلیون افغانۍ) | د ټولیزه پورونو له مخې سلنه |
|---|---|---|---|
| ۱ | کابل | ۲۸،۸۸۹.۴۴ | ۶۹.۷۲ |
| ۲ | هرات | ۳،۷۷۱.۲۰ | ۹.۱۰ |
| ۳ | بلخ | ۳،۴۸۷.۱۲ | ۸.۴۲ |
| ۴ | کندهار | ۱،۲۲۰.۴۵ | ۲.۹۵ |
| ۵ | بادغیس | ۱،۱۸۲.۸۸ | ۲.۸۵ |
| ۶ | بغلان | ۵۳۷.۷۳ | ۱.۳۰ |
| ۷ | بدخشان | ۵۳۵.۳۷ | ۱.۳۰ |
| ۸ | سرپل | ۲۸۳.۳۴ | ۰.۶۸ |
| ۹ | بامیان | ۲۷۰.۳۷ | ۰.۶۵ |
| ۱۰ | فاریاب | ۲۴۸.۱۱ | ۰.۶۰ |
| ۱۱ | جوزجان | ۲۴۸.۰۵ | ۰.۶۰ |
| ۱۲ | تخار | ۲۱۹.۰۰ | ۰.۵۳ |
| ۱۳ | پروان | ۱۸۷.۷۰ | ۰.۴۵ |
| ۱۴ | ننګرهار | ۱۶۰.۴۱ | ۰.۳۸ |
| ۱۵ | سمنګان | ۱۴۲.۲۹ | ۰.۳۴ |
| ۱۶ | کندز | ۴۸.۰۵ | ۰.۱۲ |
| ۱۷ | سایر | ۳.۴۵ | ۰.۰۱ |
| | ټولیزه | ٤١،٤٣٤.٩٦ | ۱۰۰.۰۰ |

(۱۴) جدول: د پورونو سکتوري وېش ښکاره کوي، د ۱۳۹۷ مالي کال د لیندۍ میاشت

| | سکتور | د ټولیزه پوورنو پر بنسټ سلنه |
|---|---|---|
| ۱ | **رهني او ودانیز** | **۹.۰۳٪** |
| | ساختماني او ودانیز | ۹.۰۳٪ |
| ۲ | **بیخبنسټیزه پروژې** | **٦.٨٣٪** |
| | انرژي | ۰.۴۸٪ |
| | سړک او د اورګاډي پټلۍ | ۲.۱۸٪ |
| | بندونه | ۰.۳۶٪ |
| | کانونه | ۰.۵۲٪ |
| | نورې بیخبنسټیزه پروژې | ۳.۲۸٪ |
| ۳ | **تولیدات او صنعت** | **۱۲.۱۹٪** |
| | فلزي، چرمي، پلاستیکي، لاستیکي، د لرګو او کاغذي تولیدات | ۴.۱۰٪ |
| | د خدمتونو ماشیني تولیدات او صنایع | ۳.۶۷٪ |
| | سمنټ او نور ودانیز توکي | ۴.۴۲٪ |
| ۴ | **سوداګري** | **٤٥.٣٥٪** |
| | نساجي | ۲.۲۱٪ |
| | عمده سوداګري | ۳.۶۲٪ |
| | ماشین آلات | ۰.۴۱٪ |
| | پطرولیم او روغنیات | ۱۱.۴۸٪ |
| | پرزه جات | ۱.۷۸٪ |
| | الکترونیکي وسایل | ۳.۲۱٪ |
| | سمنټ او ودانیزه توکي | ۵.۱۴٪ |
| | خوراکي توکي | ۶.۴۴٪ |
| | نور توکي | ۷.۹۲٪ |
| | کوچنۍ سوداګرۍ | ۳.۱۳٪ |
| ۵ | **خدمتونه** | **۲۰.٥٤٪** |
| | ښوونه او روزنه | ۰.۰۳٪ |
| | هوټل او رستورانټ | ۲.۱۶٪ |
| | مخابرات | ۵.۹۸٪ |
| | ځمکنۍ ترانسپورټ | ۳.۰۸٪ |
| | هوایي ترانسپورټ | ۱.۲۱٪ |
| | روغتیا | ۱.۷۴٪ |
| | خپروني، رسنۍ او چاپخانې | ۱.۲۸٪ |
| | نور خدمتونه | ۵.۰۷٪ |
| ۶ | **کرنه، مالداري او فارمونه** | **٤.١٦٪** |
| | کرنه | ۰.۳۰٪ |
| | مالداري او فارمونه | ۳.۸۶٪ |
| ۸ | **لګښتیزه پورونه** | **۱.۹۰٪** |
| ۸ | **انفرادي اشخاصو ته استوګنیزه رهني پورونه** | **۰.۰۰٪** |
| ۹ | **ټول نور پورونه** | **۰.۰۰٪** |
| | ټولیزه | ۱۰۰.۰۰٪ |

(۱۵ ) جدول د ۱۳۹۷ مالي کال په لړم مياشت کې په مرکز، ولايتونو او ناحيو کې د مؤسسو د شمېر له پلوه د مسفاء د شريکانو عمومي جزئيات او همدارنګه د پيرودونکو، پوروړو، د پور د مبلغونو، د ښځينه پيرودونکو د سلنې، ښځينه پوروړو او داسې نور جزئيات وړاندې کوي.


| | |
|---|---|
| د مسفاء د شريکانو شمېر | ۴ |
| ولايتونه | ۱۴ |
| ولسوالي | ۸۱ |
| پيرودونکي (مشتريان) | ۲۵۲،۲۹۷ |
| پوروړي | ۱۳۵،۴۳۶ |
| د ورکړل شويو پورونو شمېر | ۱،۲۸۹،۹۹۹ |
| د ورکړل شويو پورونو مبلغ (په ميليارد افغانۍ) | ۸۸.۰۲ |
| د پاتې پورونو شمېر | ۱۳۵،۴۳۶ |
| د پاتې ټوليزه ناخالصو پورونو مبلغ (په ميليارد افغانۍ) | ۹.۲۱ |
| د مشتريانو د خپلې خوښې پاتې سپماوې (په ميليارد افغانۍ) | ۲.۵۵ |
| د ښځينه پيرودونکو سلنه | ۲۹.۲ |
| ښځينه پيرودونکي | ۴۶،۶۹۱ |
| په کليو او بانډو کې پورونه (په ميليارد افغانۍ) | ۱.۸۵ |
| په ښارونو کې پورونه (په ميليارد افغانۍ) | ۷.۳۶ |
| سرچينه او ماخذ | www.misfa.org.af |

**۲. ټوليزه امانتونه**

امانتونه د بانکي نظام د تمويل او پراينو تر ټولو لوړه برخه جوړوي چې د هېواد په بانکي نظام کې دا امانتونه د مشتريانو امانتونه او د بانکونو ترمنځ امانتونه جوړوي. د ۱۳۹۷ مالي کال د ليندۍ مياشت په اوږدو کې ټوليزه امانتونه ۲۷۳.۳۳ ميلياره افغانۍ (۳.۶۳ ميلياره ډالرو) ته رسيږي چې د بانکي نظام ۹۷.۱۵ سلنه پوراينې جوړوي او د تيرې مودې (۱۳۹۶ ليندۍ) د ۲۷۰.۳۰ ميلياره افغانۍ (۳.۸۸ ميليارد ډالرو) او د ۷.۳۸ سلنې ودې په پرتله ۱.۱۲ سلنه زياتوالی کړی دی. د ټوليزه امانتونو له ډلې د مشتريانو امانتونه ۲۶۸.۲۲ ميلياره افغانۍ (۳.۵۶ ميلياره ډالرو) ته رسيږي چې د ټوليزه امانتونو ۹۵.۳۴ سلنه جوړوي او د دې برخې امانتونه د تيرې دورې په پرتله ۲.۳۵ سلنه زيات شوي دي. د مشتريانو د امانتونو د زياتوالي بنسټيز لامل د افغانۍ پر وړاندې د امريکايي ډالر د نرخ زياتيدل په ګوته شوي دي.

د بانکي نظام افغانۍ امانتونه ۷۹.۶۲ ميلياره افغانۍ (۱.۰۵ ميلياره ډالرو) ته رسيږي چې د بانکي نظام د ټوليزه امانتونو ۲۹.۶۸ سلنه جوړوي او د تيرې مودې په پرتله يې ۷.۱۹ سلنه ټيټوالی موندلی دی. حال دا چې د بانکي نظام ډالري امانتونه ۱۷۰.۷۷ميلياره افغانۍ (۲.۲۷ ميلياره ډالرو) ته رسيږي چې د بانکي نظام د ټوليزه امانتونو ۶۳.۶۶ سلنه جوړوي او د تيرې مودې په پرتله ۸.۶۵ سلنه زياتوالی ښکاره کوي. خصوصي بانکونه د بانکي نظام د ټوليزه امانتونو تر ټولو ډيره يعنې ۶۸.۸۰ سلنه ونډه جوړوي، حال دا چې د بانکي نظام په ټوليزه امانتونو کې د دولتي بانکونو او د بهرنيو بانکونو د نماينده ګيو ونډې په ترتيب سره ۲۵.۸۴ سلنه او ۵.۳۴ سلنې ته رسيږي.

(۱۲) ګراف د ټوليزه امانتونو او ټوليزه پورونو بهير ښکاره کوي




### ۱.۲ د ټولیزه امانتونو د ودې میاشتنی پرتلنه

د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د بانکي نظام ټولیزه امانتونو تر ډېره بریده لوړېدونکی بهیر درلوده، چې د ۱۳۹۷ مالي کال د غبرګولي او لیندۍ په میاشتو کې یې د پام وړ وده کړې ده.

د بانکي نظام ټولیزه امانتونو د تېرې میاشتې په پرتله په اوسنی میاشت کې ۴.۰۷ سلنه زیاتوالی درلوده چې اصلي لامل یې د مشتریانو په جاري او سپما امانتونو کې زیاتوالی ښودل شوی دی.

(۱۳) ګراف: د تیرو ۳۶ میاشتو په اوږدو کې د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو د ودې بهیر




(۱۶) جدول د ۱۳۹۷ مالي کال د لیندۍ میاشتې په پای کې د ټولیزه امانتونو ترکیب ښکاره کوي


| د ټولیزه امانتونو ترکیب، د ۱۳۹۷ کال د لیندۍ میاشتې پای (په میلیون افغانۍ) | | | |
|---|---|---|---|
| شاخص | د مشتریانو امانتونه | د بانکونو ترمنځ امانتونه | ټولیزه امانتونه |
| جاري | ۲۰۱،۸۰۴.۳۸ | ۱،۵۵۷.۷۵ | ۲۰۳،۳۶۲.۱۳ |
| موده ایز | ۱۶،۵۰۱.۸۵ | ۳،۰۴۳.۸۷ | ۱۹،۵۴۵.۷۲ |
| سپما | ۴۹،۹۲۱.۸۷ | ۵۰۵.۱۷ | ۵۰،۴۲۷.۰۴ |
| **ټولیزه** | **۲٦۸،۲۲۸.۱۰** | **٥،۱۰٦.۷۹** | **۲۷۳،۳۳٤.۸۹** |

### ۳. ټولیزه پانګه

بانکي نظام کافي پانګه لري او د ټولیزه شتمنیو ۱۰.۹۰ سلنه جوړوي. د بانکي نظام پانګه د ۱۳۹۷ مالي کال د لیندۍ په میاشت کې ۳۴.۴۳ میلیارده افغانۍ (۴۵۷.۸۵ میلیونه ډالرو) ته رسیږي چې د تېرې مودې د ۳۵.۹۴ میلیارده افغانۍ (۵۱۶.۴۴ میلیونه ډالرو) په پرتله ۴.۲۱ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. د پانګې په کچه د زیاتوالي بنسټیز لاملونه د ونډو د ګټې ورکړه او د یو خصوصي بانک تر تصفیې لاندې نیول په ګوته شوي دي. په همدې ترتیب، د بانکي نظام د مقرراتي پانګې د نسبت د خطر پر اساس د عیار شویو شتمنیو ۲۵.۹۱ سلنه جوړوي چې د ۱۳۹۶ کال د لیندۍ د میاشتې په پرتله ۳.۹۰ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

د یادولو وړ ده چې د ۱۳۹۷ مالي کال د لیندۍ میاشتې د راپورونو پر بنسټ، له یوه بانک پرته د ټولو بانکونو د مقرراتي پانګې نسبت د افغانستان بانك له تر ټولو ټیټ حد څخه لوړ دی.

(۱۴) ګراف: د ۱۳۸۸ کال له کب څخه د ۱۳۹۷ کال تر لیندۍ پورې د بانکي نظام ټولیزه پانګه ښکاره کوي




### ۴. ګټه

### ۱.۴ میاشتنی ګټه

د ۱۳۹۷ مالي کال د لیندۍ په میاشت کې بانکي نظام ۹۱۳ میلیونه افغانۍ ټولیزه خالصه ګټه کړې ده چې د تېرې میاشتې (لړم) د ۱۴۴ میلیونه افغانۍ ټولیزه خالصې ګټې په پرتله د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي. خو له دې زیاتوالي سره سره بیا هم د ټولو ۱۴ بانکونو له ډلې ۵ بانکونو د ۱۳۹۷ مالي کال د لیندي په

مياشت کې په ټولیزه توګه ۲۰۵ میلیون افغانۍ زیان کړی دی. د بانکي نظام په ګټه کې د زیاتوالي بنسټیز لامل په روانه میاشت کې د حذف شویو پورونو ترلاسه کول او د ټاکل شوې خسارې د جبران بیرته ګرځیدل په ګوته کېږي. همدارنګه د خالصې ټکټانې د ګټې او د اسعارو د بیاځلي ارزښت ټاکنې له درکه د ګټې زیاتوالی هم د بانکي نظام په ګټه کې مهمه ونډه لري، حال دا چې پر وړاندې یې د بانکونو عملیاتي لګښتونه او مالیات هم زیات شوي دي.

میډیان یا منځنی ارزښت ( Spread ) یا د بانکي نظام د پورونو د ټکټانې او د نویو امانتونو د ټکټانې ترمنځ توپیر چې د بانک د عملیاتي مثمریت سنجش دی، د لیندۍ په میاشت کې ۱۱.۶۷ سلنه ثبت شوی چې د تیرې میاشتې په پرتله ۱.۵۴ سلنه زیاتوالی لري، خو په روانه میاشت کې د دریو بانکونو منځنی ارزښت ( Spread ) د بانکي نظام له منځني ارزښت څخه ټیټ ؤ، حال دا چې د اووه بانکونو منځنی ارزښت د محاسبې وړ نه دی.[۶]

**۲.۴ په ۱۳۹۷ مالي کال کې د بانکي نظام ټولیزه ترلاسه شوې ګټه**

بانکي نظام په ۱۳۹۷ مالي کال (۲۰۱۸) کې په ټولیزه توګه ګټه کړې ده. بانکي نظام په یاده موده کې ۲.۴۶ میلیارده افغانۍ (۳۲.۶۹ میلیونه ډالره) خالصه ګټه کړې ده، حال دا چې په تیر کال کې د بانکي نظام خالصه ګټه ۱.۷۷ میلیارده افغانۍ ته رسیږي. په پایله کې له شتمنیو څخه د ترلاسه شوې ګټې نسبت د ۱۳۹۶ کال د لیندۍ د میاشتې په پرتله ۰.۸۱ سلنه زیاتوالی کړی دی.

د یادې مودې په اوږدو کې د بانکي نظام په ګټه کې د زیاتوالي بنسټیز لاملونه له ټکټانې پرته ګټه کې د پام وړ زیاتوالی، د خسارې د جبران په زیرمه کې کموالی او د مالیاتو د لګښتونو کموالی په ګوته شوی دی. د اسعارو د بیا ارزښت ټاکنې له درکه ترلاسه شوې ګټې زیاتوالی او د عملیاتي لګښتونو کموالی نور هغه عوامل دي چې د بانکي نظام په ګټه کې ونډه لري.


څرنګه چې په (۱۴) ګراف کې تر سترګو کېږي، ټول دولتي او خصوصي بانکونه او د بهرنیو بانکونو نماینده ګۍ په دې مالي دوره کې په ګټه کې دي چې له دې ډلې دولتي بانکونو ډېره ګټه ثبت کړې ده چې ۱.۱۳ میلیارده افغانۍ ته رسیږي او د بانکي نظام ۴۶.۲۴ سلنه ټولیزه خالصه ګټه جوړوي چې په کلني ډول له شتمنیو څخه د ترلاسه شوې ګټې نسبت یې ۱.۲۹ سلنه دی. په ورته وخت کې خصوصي بانکونه د ۸۶۶ میلیونه افغانۍ خالصې ګټې په درلودلو سره په دویمه درجه کې راځي چې د بانکي نظام د ټولیزه خالصې ګټې ۳۵.۲۱ سلنه جوړوي چې له شتمنیو څخه د ترلاسه شوې ګټې کلنی نسبت یې ۰.۴۴ سلنه ثبت شوی دی. په همدې توګه د بهرنیو بانکونو نماینده ګۍ د ۴۵۶ میلیونه افغانۍ خالصې ګټې په درلودلو سره د بانکي نظام ټولیزه خالصې ګټې ۱۸.۵۵ سلنه جوړوي چې له شتمنیو څخه د ترلاسه شوې ګټې کلنی نسبت یې ۲.۱۲ سلنه ثبت شوی دی.

په ټولیزه توګه د بانکي نظام دوو بانکونو ۶۵ میلیونه افغانۍ زیان کړی دی چې په تیره موده (۱۳۹۶ لیندۍ) کې د دې بانکونو ټولیزه زیان ۷۹۰ میلیونه افغانۍ ته رسیده. باید یادونه وشي چې د اصلي عاید ( Core Income ) پر بنسټ ۹ بانکونه په زیان کې واقع دي چې په تیره موده کې یوازې ۴ بانکونه په زیان کې وه.

(۶) څرنګه چې سپریډ (د نویو پورونو د ټکټانې او نویو امانتونو د ټکټانې ترمنځ تفاوت) په میاشتني توګه محاسبه کیږي. په همدې توګه که یو بانک د یوې میاشتې په اوږدو کې هیڅ پور یا نوی امانت او یا هم دواړه ونلري، د دې بانک یا بانکونو سپریډ د محاسبې وړ نه دی.

(۱۵) ګراف د دولتي، خصوصي او د بهرنيو بانکونو د نماینده ګيو په تفکيک سره د بانکي نظام ګټه او زيان ښکاره کوي

د بانکي نظام د ډلو ټوليزه ګټه او زيان




### ۵. سياليت

د ټولو بانکونو د سياليت نسبت د افغانستان بانک د سياليت لپاره د ټاکل شوي تر ټولو ټيټ حد (د سياليت پراخه نسبت ۱۵ سلنه او د سياليت چټک نسبت ۲۰ سلنه) څخه لوړ دی. د ۱۳۹۷ مالي کال د لیندۍ مياشتې له مخې د بانکي نظام د سيـاليـت پـراخه نسبت د منځني ارزښت له پلوه ۷۶.۶۲ سلنه دی چې د تيـرې دورې په پرتله ۱۰.۷ سلنه زياتوالی ښکاره کوي.

د ۱۳۹۷ کال د لیندۍ مياشتې د مالي راپورونو پر بنسټ، په سترو امانتونو باندې (هغه امانتونه چې د ۵ ميليونه افغانۍ زيـات وي) د بانکي نظام د امانتونو د ډېر تمرکز په هکله انديښنې شتون لـري. دا ستر امانتونه د ټوليزه امانتونو ۶۰.۲۵ سلنه جوړوي او ۶،۰۴۴ حسابونه رانغاړي چې د نقدينګۍ لـه پـلوه خـورا مـهـم او د تبنتيدونکې پورراينو (مفر بديهيو) له اقلامو څخه ګـڼـل کـېـږي. سربيره پر دې، د لويو امانتونو منځنی حد ۲۶.۷۱ ميليونه افـغـانۍ دی چې د تيرې ربعې د ۲۹.۴۶ ميليونه افغانۍ په پرتله ټـيـټـوالی ښکاره کوي.

### ۶. د اسعارو پرانيستي وضعيت

پرته له ځلورو بانکونو څخه چې د عمومي او انفرادي پرانيـسـتـي وضعيت ( د ډالرو او يورو د اوږد مهاله وضعيت) لـپـاره يـې لـه ټاکلي حد څخه سرغړونه کړې ده، نور ټول بانکونه پـه ټـولـيـزه توګه د افغانستان بانک د اسعارو عمومي پرانيستي وضعيت (±۴۰ سلنه) او د اسعارو انفرادي پرانيستي وضعيت (±۲۰ سلنه) لپاره د حد اقل ټاکل شوي حدودو په مطابقت کې قرار لري.

(۱۷) جدول د ۱۳۹۷ کال د لیندۍ مياشتې له مخې د بـانـکـونـو کارکوونــکو، پوروړو، امانت ايښودونــکو او نورو پيـرودونـکـو شمېرې وړاندې کوي

| ځانګړنې | شمېر |
|---|---|
| داخلي کارکوونکي | ۹،۳۴۵ |
| بهرني کارکوونکي | ۷۷ |
| پوروړي | ۷۲،۴۵۴ |
| امانت ايښودونکي | ۳،۶۸۷،۲۰۶ |
| نور پيرودونکي[۷] | ۷،۳۸۹ |

(۷) د هغه نورو پيرودونکو شمير چې بانکي تضمينونه، ليتر آف کريډټ او نور تضمينونه او ژمنې ولري.

# د ادارینو لوی آمریت

# د اداینو لوی آمریت

په معاصر اقتصاد او اوسني عصر کې د اداینو سیستم یو له مهمو اقتصادي او مالي اړتیاوو څخه ګڼل کېږي. د افغانستان بانک د هېواد د مرکزي بانک په توګه او د خپلې یوې دندې پر بنسټ چې د اداینو د سالمه او اغیزناکه سیستم جوړول، ساتل او پراختیا دی، په برخه کې هڅې کړي دي.

د افغانستان بانک د اداینو لوی آمریت په دوه بنسټیزو برخو (د پلان او پالیسی د پراختیا او عملیاتي برخه) کې فعالیت کوي.


**۱. عملیاتي برخه**

د داخلي ورځني، د بانکونو ترمنځ او د نړیوالو معاملو اجراء کول او د بریښنايي سیستمونو د چکونو تصفیه او تسویه د دې برخې د عملیاتي برخې بنسټیزې دندې ګڼل کېږي چې په ۱۳۹۷ مالي کال کې د دې برخې د کړنو راپور په لاندې توګه وړاندې کېږي.

**نړیواله ادایني (سویفټ Swift)**

په دې برخه کې ۱،۵۸۴ وارده معاملې د ۲،۳۱۱،۰۰۲،۸۱۷.۶۸ امریکایي ډالرو په ارزښت، ۲،۳۶۴ صادره معاملې د ۴،۱۰۱،۵۶۷،۹۲۵.۳۰ امریکایي ډالرو په ارزښت، ۲۶۳ وارده معاملې د ۱۲۸،۶۸۶،۷۰۷.۲۸ یورو په ارزښت او ۴۴۰ صادره معاملې د ۴۹،۸۸۵،۱۳۷.۴۸ یورو په ارزښت چې په ټولیزه توګه ۴،۷۶۴ معاملې کېږي، د نړیوالو اداینو د سیستم له لورې اجراء شوي دي. د یادونې وړ ده چې د اسعارو مبادلوي (Fx deals) او نړیوال بانک ۶۱۵ معاملې ۱،۳۳۱،۶۶۱،۱۳۶.۱ امریکایي ډالرو ته رسیږي او ۲،۲۸۹،۵۱۷،۰۴۴ امریکایي ډالرو او ۱۲۳،۵۷۵،۰۰۰ یورو د افغانستان بانک (Own account) معاملو اړونده صادره مبلغونه دي چې په دې برخه کې طی مراحل شوي دي.


(۱۶) ګراف د ۱۳۹۷ کال په اوږدو کې د نړیوالو اداینو د سیستم صادره او وارده مبلغونه ښکاره کوي




**د بانکونو ترمنځ د اداینو سیستم**

د بانکونو ترمنځ د اداینو په برخه کې ۱۰۷،۹۲۱ معاملې د ۵۹۳،۴۶۲،۷۰۰،۲۶۹.۱۳ افغانیو په ارزښت، ۵۳،۸۷۶ معاملې د ۷،۵۶۶،۸۸۰،۶۶۵.۸۹ امریکایي ډالرو په ارزښت او همدارنګه ۱،۸۵۶ معاملې د ۲۱۸،۰۲۵،۳۲۳.۹۰ یورو په ارزښت چې په ټولیزه توګه ۱۶۳،۶۵۳ معاملې کېږي، د بانکونو ترمنځ د اداینو د سیستم له لارې اجراء شوي دي.

(۱۷) ګراف د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د بانکونو ترمنځ اداینو د سیستم له لارې اجرا شوي مبلغونه ښکاره کوي




**د داخلي اداینې برخه**

په دې برخه کې ۵۸ وارده معاملې د ۷۳۱،۶۵۶،۸۸۴.۰۰ افغانیو په ارزښت، ۷۱ صادره معاملې د ۱،۳۸۹،۷۴۷،۸۲۴.۰۰ افغانۍ په ارزښت او ۲ وارده معاملې د ۵۰۰،۰۰۰.۰۰ امریکایي ډالرو په ارزښت د داخلي اداینو د سیستم له لارې اجراء شوي دي.

د یادونې وړ ده چې د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې ۳،۷۸۹ معاملې د ۴،۳۹۸،۳۳۱،۱۷۴.۰۰ افغانیو په ارزښت د اسیکوډا (گمرکونو) سیستم له لارې، ۹۹ وارده معاملې د ۱،۱۲۸،۵۵۲،۲۷۳.۸۳ افغانیو په ارزښت او ۱۴۳ صادره معاملې د ۱،۹۶۴،۰۱۰،۲۶۱.۲۰ افغانیو په ارزښت د شفر له لارې چې په ټولیزه توگه ۴،۱۶۲ معاملې کیږي، د یادې برخې له لارې ترسره شوي دي.


(۱۸) گراف د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د داخلي اداینو، اسیکوډا او تیلگرام (ارقام په افغانۍ) له لارې ترسره شوي مبلغونه ښکاره کوي.




**د چکونو د تصفیې او تسویې برخه**

د چکونو د تصفیې او تسویې (کلیرنگ هاوس) په برخه کې چې د غړو بانکونو چکونه په کې تسویه کیږي، ۱،۹۸۲ چکونه د ۵۰۸،۵۸۸،۳۴۲.۵۵ افغانیو په ارزښت، ۱،۲۸۴ چکونه د ۱۲،۷۹۷،۱۳۸.۱۸ امریکایي ډالرو په ارزښت او ۲ قطعې چکونه د ۲۰،۰۰۰ یورو په ارزښت چې په ټولیزه توگه ۳،۲۶۸ چکونه کیږي، د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې تسویه او طی مراحل شوي دي.

(۱۹) گراف د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د کلیرنگ هاوس د برخې مبلغونه ښکاره کوي (ارقام په افغانۍ).




**۲. د پلان او پالیسي د پراختیا برخه**

د کلني کاري پلان ترتیبول، د کړنلارو او پالیسیو بیاکتنه او د تکنالوژیکي بدلونونو په پام کې نیولو سره له نړیوالو معیارونو سره سم د کاري چاپېریال د پراختیا په برخه کې د اداینو د سیستمونو پراختیا د پلان او پالیسي د پراختیا د برخې بنسټیزې دندې گڼل کیږي.

په ۱۳۹۷ مالي کال کې د دې برخې لخوا ترسره شوې کړنې په لاندې ډول وړاندې کیږي:

- د اداینو د آمریت د کړنلارو بیاکتنه او د افغانستان بانک د عامل پلاوي او عالي شورا لخوا د هغې منظوري
- د مالیې وزارت د پالیسي معینیت ته په بریښنایي بڼه د دولت د ټولیز ورکړو (معاشونو) د راپور ترتیبول
- په بریښنایي ډول د بانکونو د نماینده گیو له لارې د پوهنې وزارت د کارکوونکو او ښوونکو د معاشونو ورکړې په اړه د اجرائیه ریاست لخوا د وزیرانو شورا د

مصوبې په تړاو د ځواب او راپور وړاندې کول

- د افغانستان بانک د پنځه کلن ستراتیژیک پلان د لومړي کال بیاکتنه
- د افغانستان د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست پراختیایي پلان پر بنسټ په ګردیز او سپین بولدک کې د ګمرکونو د عوایدو راټولولو د بهیر پراختیا په ۱۳۹۷ مالي کال کې بشپړه شوې ده او یاد ګمرکونه د بانکونو ترمنځ ادراینو له سیستم (ACSS/ICPSS) سره نښلول شوي دي. د یادونې وړ ده چې اوس مهال ۱۴ ګمرکونه له دې سیستم سره نښلول شوي دي.
- همدارنګه په ۱۳۹۷ مالي کال کې د کابل بانک ۹ نماینده ګۍ د بانکونو ترمنځ ادراینو په سیستم ACSS/ICPSS کې زیاتې شوې دي او ۴۰ یوزرونه او شفرونه د یاد بانک د پېژندل شویو کارکوونکو لپاره ترتیب او د هغوی په واک کې ورکول شوي دي، څو ادراینه کوونکي د بانکونو د ولایتي او سرحدي نماینده ګیو له لارې وکولای شي خپلې ادراینې په چټکه او بریښنایي توګه ترسره کړي.
- د افغانستان په ټولو زونونو کې د ګمرکي محصول ورکوونکو لپاره د عامه پوهاوي پروګرام جوړول
- د بانکونو د کارکوونکو لپاره د یوزرونو او شفرونو جوړولو طی مراحل او د کمیشن اخیستل
- د ATS (RTGS-ACH) پروژې پلي کول
- د مالي چارو د څارنې له آمریت څخه د ادراینیزو وسایلو د شمېرو راټولول
- د ACSS سیستم د نوي پاڼې ازمویل
- د هوایي ډګر د ګمرک د سرې میاشتې د حساب نښلول او د ۳۰۰۱ حساب کتنې حذفول
- د APS اداري لپاره د RTGS-ACH د نویو سیستمونو په اړه د پریزنټیشن چمتو کول او وړاندې کول
- د EFT مقرري دري ژباړه بشپړه او د افغانستان بانک په رسمي ویب پاڼه کې ځای پرځای شوې

همدارنګه د پلان او پالیسی د پراختیا په برخه کې یو شمېر پراختیایي پروژې د پلي کېدو په حال کې دي چې په لاندې ډول ترې یادونه کوو:

**د ATS پروژه:**

د ATS (Automated Transfer System) پروژه د ادراینیزو سیستمونو RTGS (Real Time Gross Settlement)، ACH (Automated Clearing House) او د بیه لرونکو پاڼو د مرکزي امانتونو د سیستم CSD (Central Securities Depository) د نوي کولو په موخه د نړیوال بانک په مالي مرسته پیل شوې ده. همدارنګه په دې پروژه کې د سیستم د غړو (سوداګریزو بانکونو) له لارې د اتومات بریښنایي سیستم په کارولو سره د زیاتو اسانتیاوو او خطراتو د مخنیوي په موخه کوچني او ستري معاملې اجراء کېږي او د بانکي نظام اړتیاوې پوره کوي. له نیکه مرغه، چې اوس مهال دې پروژې خپل روزنیز او ازمایښتي پړاوونه بشپړ کړي او وسایل یې هم د ۱۳۹۷ مالي کال په لینډۍ میاشت کې د افغانستان بانک ته رارسیدلي او د CMA کمپنۍ د دوو انجینیرانو لخوا نصب او انسټال شوي او د Onsite test په پړاو کې قرار لري. له دې وروسته به د افغانستان بانک اړونده شعبو لخوا به سوداګریزو بانکونو او مالیې وزارت ته روزنیز او ازمایښتي پروګرامونه جوړ شي او تقریباً د ۱۳۹۸ مالي کال د دریمې ربعې تر پایه پورې به په رسمي توګه عملي او د ACSS او CCH فعلي سیستمونو ځای به ونیسي.

**د ATS پروژې عمده کړنې:**

- د نویو سیستمونو روزنیز او ازمایښتي پروګرام ( Training

and Test) چې د آذربایجان هېواد په پلازمینه باکو ښار کې جوړ او پای ته ورسیده.

- د ATS سیستم د قانوني اړانې پالیسي ( Policy framework) په ۹۲ پاڼو او د CSD سیستم په ۳۵ پاڼو کې بشپړه او د افغانستان بانک د عالي شورا لخوا منظوره شوه. په ورته وخت کې د ATS د کرنلارې پالیسي په دريو ژبو د افغانستان بانك په رسمي ويب پاڼه کې ځای پرځای شوي ده.
- د ۱۳۹۷ کال د لیندۍ میاشتې په ۷ نېټه د نویو سیستمونو سخت کالي (هارډویر) وسایل او سرورونه د افغانستان بانک ته رارسیدلي او د لیندۍ تر ۲۱ نېټې پورې بشپړ شوه.
- په روزنيزو پروګرامونو کې د ګډون لپاره د کارکوونکو د پېژندلو په موخه ټولو بانکونو ته د مکتوبونو لیږل او همدا ډول د پروژې د میاشتني راپور چې د CMA کمپنۍ لخوا راستول کېږي، پر بنسټ یې ATS، ACH او Technical User Management په روزنیزو پروګرامونو کې د پیژندل شويو کارکوونکو د لست ترتیبول او تنظیمول. د ATS/CSD پروژې د تطبیق چارې د ۲۰۱۸ کال په اګست میاشت کې ۹۳ سلنه پرمخ تللي وې او ښايي د ۲۰۱۹ کال تر جون میاشتې پورې به دا پروژه عملي شي.

# د بازار عملیات

# د بازار عملیات

د افغانستان د اسعاري سیاست او د اسعارو د ترتیباتو طرحه، تر لاس لاندې نیول او عملي کول او همدا ډول د افغانستان د اسعارو د رسمي زیرمو ساتل او اداره کول د افغانستان بانک بنسټیزې دندې ګڼل کیږي.

د پورته یادو شویو دندو ترڅنګ د افغانستان بانک د هیواد د پولي سیاست د طرح، ترلاس لاندې نیولو او پلي کولو مسئولیت په غاړه لري چې له همدې امله د خپل پولي سیاست په اجراء کولو کې کولای شي د ازاد بازار له لارې په قطعي پیر او پلور (فوری او یا مخکې پیر) کې او یا د بیا پلور د قراردادونو، د مبادلې ور اسعارو، د دولت لخوا د خپاره شویو پورونو د بیه لرونکو پاڼو پر بنسټ پــه خپله اقدام وکړي چې دا چارې د افغانستان بانک د بازار عملیات د آمریت له لورې ترسره کیږي.

د بازار عملیات آمریت د پولي سیاست د اصلي بنسټ په توګه عمل کوي او د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د اسعاري زیرمو (د شتمنیو زیرمو)، لیتر اف کریډیټونو، د بیه لرونکو پاڼو د لیلام او د اسعارو د لیلام په برخو کې کړنې ترسره کړي چې د کړنو لنډ راپور یې په لاندې ډول وړاندې کیږي.

**اسعاري شتمنۍ**

د افغانستان بانک اسعاري زیرمې یا اسعاري شتمنۍ چې د ۱۳۹۶ مالي کال د مرغومي په لومړیو کې ۸.۱۱۸ میلیارده امریکایي ډالره وې، د ۱۳۹۷ مالي کال د لیندۍ په ۲۹ نېټه ۸.۲۸۰ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیدلې دي چې د افغانستان بانک په پورتفولیو کې ۱۶۲ میلیونه امریکایي ډالر زیاتوالی ښکاره کوي.

د افغانستان بانک پانګونې چې د بازار عملیات د آمریت د ریزرف مدیریت لخوا ترسره کیږي، د نړۍ په معتبرو بانکونو کې موده ایزه امانتونه او د سترو اقتصادي هېوادونو په بیه لرونکو پاڼو کې پانګونې رانغاړي. د ډالرو د پانګونې وضعیت د استرلینګ پونډ او یورو په پرتله چې تر اوسه پورې د پانګونې په نړیوال بازار کې له ښه وضعیت څخه برخمن نه دی، د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې لوړېدونکی بهیر درلودلی دی. اوس مهال د ډالرو د پانګونو د ټکټاني نرخ په لوړه کچه کې قرار لري چې د تیرو کلونو په پرتله بې ساری ده. له همدې امله، د افغانستان بانک توانیدلی دی څو د خپلو پانګونو له درکه ۹۹ میلیونه امریکایي ډالره عواید ترلاسه کړي. په ورته وخت کې، په استرلینګ پونډ پانګونې د ودې په حال کې دي، حال دا چې د یورو پانګونو د ټکټاني نرخ د تیر په څېر منفي وده لرلې ده، خو تمه کیږي چې د ۱۳۹۸ مالي کال په څلورمه ربعه کې د یورو د پانګونې وضعیت ښه والی ومومي.

**لیټراف کریډیټونه**

د دې آمریت د لیټر اف کریډیټونو مدیریت د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې په ټولیزه توګه ۳۲ وارداتي لیټراف کریډیټونه چې د وزارتونو او نورو دولتي ارګانونو او ادارو د اړتیا وړ توکو (سامان آلاتو او تجهیزاتو) د واردولو په موخه له بهرنیو او کورنیو کمپنیو څخه د اړوندو ارګانونو په فرمایش او د مالیې وزارت په موافقه له عادي او پراختیایي بودجې څخه او د نړیوال بانک او د آسیا پراختیایي بانک په مرسته د وزارتونو د اړونده کمپنیو په وجه د کورنیو او بهرنیو معامله لرونکو بانکونو له لارې په بېلابېلو اسعارو پرانیستلي دي چې د یو مالي کال د راپور توحید یې د لاندې اسعارو په تفکیک سره وړاندې کیږي:

۲۹ لیټر اف کریډیټونه په امریکایي ډالرو پرانیستل شوي چې ټولیزه ارزښت یې ۱۴۹،۱۴۴،۴۷۴.۵۳ ډالره کیږي.

۲ لیټراف کریډیټونه په یورو پرانیستل شوي چې ټولیزه ارزښت

يې ۱۷،۹۲۹،۱۵۵.۰۰ يورو کېږي.


يو ليټراف کريډېټ په افغانۍ پرانيستل شوی چې ټوليزه ارزښت يې ۲۰،۳۲۷،۳۲۲.۰۰ افغانۍ کېږي.

د يادونې وړ ده چې د ۲۹ ډالري ليټراف کريډېټونو له ډلې څخه ۷ ليټراف کريډېټونه د آسيا پراختيايي بانك په مرسته تمويل شوي دي چې ټوليزه ارزښت يې ۱۲۰،۳۲۷،۶۶۱.۹۴ ته رسيږي.

**د بيه لرونکو پاڼو ليلام**


د افغانستان بانك د ۱۳۹۷ مالي کال له پيل څخه تر پايه پورې په اوونۍ کې يو ځل د پانګه ايزو پاڼو ليلام په لاره اچولی دی چې په دې موده کې ۵۱ ځله ليلام ترسره شوی چې په کې ۷ ورځني، ۲۸ ورځني، ۹۱ ورځني او ۱۸۲ ورځني بيه لرونکې پاڼې پلورل شوي دي. په دې برخه کې د پلورل شويو بيه لرونکو پاڼو ټوليزه کچه ۶۱۴،۱۵۵،۰۰۰،۰۰۰ افغانۍ ته رسيږي چې پانګه اچوونکي يې دولتي او خصوصي سوداګريز بانکونه رانغاړي.

(۲۰) ګراف د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د پانګه ايزو پاڼو د تقاضا وړ ټوليزه مبلغ او ليلام ښکاره کوي





پورتنی ګراف د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د بيه لرونکې پاڼو مبلغونه او د سررسيد په تفکيک هغه ته تقاضا ښکاره کوي چې له مخې يې په ټوليزه توګه ۹۸۴.۷۴ ميلياره افغانۍ د تقاضا مبلغ او ۶۱۴.۱۵ ميلياره افغانۍ پانګوالو ته عرضه شوي دي. حال دا چې په تير کال کې دبيه لرونکو پاڼو ته ټوليزه تقاضا ۳۶۰ ميلياره افغانۍ او ټوليزه عرضه ۲۱۹.۵ ميلياره افغانۍ وه.


(۲۱) ګراف د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د بيه لرونکو پاڼو او د شپې امانتونو د ټکټانې د نرخ نوسانونه ښکاره کوي




د يادونې وړ ده چې د بيه لرونکو پاڼو د ټکټانې نرخ د عرضې او تقاضا پر بنسټ ټاکل کېږي. د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې په بيه لرونکو پاڼو کې د پانګونې لپاره د بانکونو تقاضا د تيرو کلونو په پرتله زياته شوې، حال دا چې په دې برخه کې د افغانستان بانك عرضه د تيرو کلونو په پرتله کمه شوې ده چې له همدې امله د ټولو بيه لرونکو پاڼو د ټکټانې نرخ له ۱ سلنې څخه ټيټ دی.

(۲۲) ګراف د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې ناتصفيه شوې بيه لرونکې پاڼې ښکاره کوي (۲۳) ګراف د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د بيه لرونکو پاڼو او د شپې امانتونو د ټکټانې لګښتونه ښکاره کوي






د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د بيه لرونکو پاڼو او د شپې امانتونو لپاره په ټولیزه توګه ۱۲۷.۷ میلیونه افغانۍ ټکټانه ورکړل شوې ده چې ځانګړې شوې بودجه یې ۲،۰۰۰،۰۰۰،۰۰۰ افغانۍ وه، حال دا چې په تیر کال کې د بیه لرونکو پاڼو او د شپې امانتونو لپاره ۱.۹۵۶ میلیارده افغانۍ ټکټانه ورکړل شوې چې ځانګړې شوې بودجه یې ۲.۲ میلیارده افغانۍ ته رسیده.

سربیره پر دې، د پولي سیاست د آمریت د وړاندیز او د افغانستان بانک د عالي شورا د ۱۳۹۶/۰۴/۱۳ نیټې د ۹ شمېرې تصویب پر بنسټ د سوداګریزو بانکونو د الزامي زیرمو په رژیم کې بدلون رامنځ ته شوی دی. له دې مخکې، د ۲۰۰۴ کال له پیل څخه د ۲۰۱۷ کال تر سپټمبر پورې سوداګریزه بانکونه په دې اړ ول څو یوازې په افغانۍ خپلې الزامې زیرمې د افغانستان بانک سره وساتي، خو له یاد شوي تصویب څخه وروسته ټول سوداګریز بانکونه اړ دي څو خپلې الزامې زیرمې په جلا ډول په ډالر، یورو او افغانۍ له د افغانستان بانک سره وساتي. د یادونې وړ ده چې د ډالري او یورو امانتونو لپاره د الزامي زیرمو سلنه ۱۰ او د افغانۍ لپاره د تیر په څیر ۸ سلنه په پام کې نیول شوې ده.

(۱۸) جدول د ۱۳۹۷ مالي کال په پای کې د سوداګریزو بانکونو د الزامي زیرمو ټولیزه کچه ښکاره کوي

| په ډالرو الزامي زیرمې ۱۰ سلنه | په یورو الزامي زیرمې ۱۰ سلنه | په افغانۍ الزامي زیرمې ۸ سلنه |
|---|---|---|
| ۲۱۹،۶۹۶،۰۲۶.۰۰ | ۲۱،۶۳۱،۰۹۸.۰۰ | ۵،۶۹۶،۱۱۲،۲۶۳.۰۰ |

**د اسعارو لیلام**

د افغانستان بانک د بیه لرونکو پاڼو د لیلام ترڅنګ د اسعارو له لیلام څخه هم د پولي سیاست د ابزار په توګه ګټه پورته کوي. د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې په ټولیزه توګه ۱۲۲ ځلې د اسعارو لیلامونه ترسره شوي دي چې په ترڅ کې یې د ۱۳۹۶/۱۰/۰۲ نیټې څخه تر ۱۳۹۷/۰۹/۲۸ نیټې پورې په ټولیزه توګه ۲،۴۱۵،۵۱۵.۰۰ ډالر چې معادل یې ۱۷۴،۸۳۸،۴۸۳.۷۰۱ افغانۍ کیږي او همدارنګه ۱۱۹،۴۵۰،۰۰۰ یورو چې معادل یې ۱۰،۸۳۸،۰۱۲،۰۲۵ افغانۍ کیږي، پلورل شوي دي.

# د عامه اعتبارونو د ثبت لوی آمریت

# د عامه اعتبارونو د ثبت لوی آمریت

د عامه اعتبارونو د ثبت آمریت د مالي مؤسسو او سوداګریزو بانکونو د اړتیا وړ اعتباري معلوماتو د خوندي سیستم د رامنځته کولو په موخه جوړ شوی دی. د دې ادارې کړنې د منقولو مالونو د رهني حقونو د ثبت او د عامه اعتبارونو د ثبت د سیستمونو په کارونې سره ترسره کېږي چې د نړیوال بانک، نړیوالې مالي ادارې (IFC) او حرکت مؤسسې په مالي مرسته تمویل او پلي شوي دي.

د عامه اعتبارونو سیستم د انفرادي اشخاصو او شرکتونو اعتباري معلومات راټولوي، تحلیل او د اعتباري راپورونو له لارې یې نورو مؤسسو ته وړاندې کوي. د عامه اعتبارونو د ثبت د ادارو د اړتیا وړ معلومات له بېلابېلو سرچینو، لکه؛ سوداګریزو بانکونو، کوچنیو مالي مؤسسو، مخابراتي شرکتونو، سوداګریزو محکمو، بیمې شرکتونو، بریښنا شرکت او د مالي اجارو له شرکتونو څخه راټولوي او د پیرودونکي د درجه بندۍ د منظمو راپورونو له لارې یې وړاندې کوي.

د عامه اعتبارونو د ثبت آمریت د اعتبارونو د ثبت مدیریت، د منقولو مالونو د رهني حقونو د ثبت مدیریت، د معلوماتي ټکنالوژۍ مدیریت، د سوداګرۍ د پراختیا مدیریت، حقوقي مشاوریت او د اجرائیه او مالي مدیریتونه رانغاړي چې لاندې د هرې برخې د کړنو راپور په لنډه توګه وړاندې کوو:

**د عامه اعتبارونو د ثبت مدیریت:** د افغانستان بانک د عامه اعتبارونو د ثبت سیستم د افغانستان بانک د قانون او د اعتباراتو د راپور ورکونې د مقررې په رڼا کې فعالیت کوي او اوس مهال ټول سوداګریز بانکونه او کوچنۍ مالي مؤسسې (د فنکا مالي اداره، د اکسس مالي اداره، د متحد مالي اداره، د دهات افغان مالي اداره) او د افغانستان بانک د مالي چارو د څارنې لوی آمریت ترې په عملي توګه ګټه پورته کوي چې د دې برخې د کړنو له پیل څخه تر ۱۳۹۷ مالي کال پورې د ۶،۵۳۷ کمپنو او ۲۴۱،۸۵۰ انفرادي اشخاصو اعتباري معلومات په دې سیستم کې ثبت شوي دي.

د هغو توکو او محصولاتو ډولونه چې تر اوسه پورې د عامه اعتبارونو د ثبت په سیستم کې ثبت شوي دي، لیټراف کریډټ، بانکي تضمینونه، موده ایز پورونه، اضافه برداشت پورونه، کریډت کارت او اسلامي پورونه رانغاړي.

د عامه اعتبارونو د ثبت آمریت د کړنو له پیل څخه تر ۱۳۹۷ مالي کال پورې یو لړ قراردادونه هم په دې سیستم کې ثبت کړي دي.

**د عامه اعتبارونو د ثبت په سیستم کې ثبت شوي قراردادونه په لاندې ډول دی:**

| | |
|---|---|
| ټولیزه پرانیستي قراردادونه | ۹۷،۴۷۸ |
| ټولیزه تړلي قراردادونه | ۲۵۹،۵۶۱ |
| په سیستم کې ټولیزه ثبت شوی قراردادونه | ۳۵۷،۰۳۹ |
| په سیستم کې د ټولیزه ثبت شویو شرکتونو شمېر | ۶،۵۳۷ |
| په سیستم کې د ثبت شویو انفرادي اشخاصو شمېر | ۲۴،۱۸۵۰ |

د دې سیستم کارونه عامه نه ده، بلکې یوازې هغه کسان کولای شي له دې سیستم څخه ګټه پورته کړي چې دې ادارې ته د اړونده ادارې لخوا په رسمی توګه پیژندل شوي او له د کړنلارې سره سم ورته کاروونکی (یوزرونه) جوړ شوي وي. د دې سیستم تر ټولو مهم محصول اعتباري راپورونه دي چې دا راپورونه د سیستم له کاروونکو سره په معقولو پریکړو او د

مشتریـان په پیژندنه کې ځانګړې مرسته کوي. د دې راپـورونـو کارونه وړیا نه ده او د عامل پلاوي د ۱۳۹۲/۱۰/۱۸ نېټـې ۴۱۵ ګڼې تصویب له مخې له کارونکو څخه فیس اخېستل کېږي.

په افغانستان کې د اعتبارونو د ثبت د سیستم کارونـه یـوه نـوې پدیده ده او پرمختیا او پراختیا ته اړتیا لري، په همدې مـوخـه د عامه اعتبارونو د ثبت لوی آمریت هڅه کوي څو نـورې اداري هم د عامه اعتبارونو د ثبت سیستم د کارونې له ګټو څخه خبرې کړي او د یاد سیستم څخه د ګټې اخیستنې په برخه کې لازمې اسانتیاوې برابرې کړي چې په همدې موخه یې د بریښنا شرکت، د اسلامي مالي او پانګونې اداري او ایکسچنجر زون سـره جـلا جلا هوکړه لیکونه لاسلیک کړي دي.

همدارنګه اوس مهال د شته بنسټیزو اړتیاوو په پام کې نیولو سـره په دې سیستم کې لاندې محصولات زیات شوي دي.

**Benchmarking:** یو تحلیلي ابزار دی چې د عامه اعتبـارونـو د ثبت دفتر د معلوماتو پر بنسټ د بازار راپـورونـو تـه د چـټـکـه لاسرسي زمینه برابروي. په دې برخه کې مـونـږ کـولای شـو د تقاضا پر بنسټ د مشترکینو پـه اړه پـه تولیزه او جـلا تـوګـه پـه تحلیلی بڼه معیاري او سټنډرډ راپورد ډیټابیس له سیسـتـم څـخـه ترلاسه او د دې ماډیول په کارونې سـره وخـت پـه وخـت د مشترکینو د فعالیت او کړنې په اړه لازم معلومات په واک کـې ولرو. حال دا چې مخکې د عامه اعتبارونو د ثبـت سـیـسـتـم دا اسانتیا نه درلوده او د مالي سکتور اړتیاوې یې پوره کـولای نـه شوې. دا ماډیول (سیستم) مرسته کوي څو له دې سیستم څـخـه ټول اخیستل شوي راپورونه له زیات اعتبار څخه برخمن شي.

دا سیستم ځینې اغیزناکتیاوې لري چې په لـنـډ ډول تـرې پـه لاندې توګه یادونه کوو:

**۱– د اعتبارونو د راپور ورکولو سیستم د وضعیت پیژندنه:**

- په سیستم کې د شته پورونو شمېر
- د پورونو په ورکړه کې د درجه بندۍ اغیزناکتیا

**۲– د پور ورکونې د بازار د وضعیت پیژندل:**

- ایا بازار رقابتي دی او که انحصاري
- مالي سرچینو ته د خلکو د لاسرسي کچه

**۳– د پور ورکونې د مرجع ګانو د وضعیت پېژندنه:**

- په بازار کې د پور ورکوونکي د ونډې سلنه
- د پورونو د لګښتونو په چټکتیا او کموالي کې د اعتباراتـو د دفتر ارزښت
- د لاندې مراجعو لپاره د تصمیم نیونې په مـوخـه د مـالـي سکتور او بازار د شته وضعیت په اړه د تحلیلي معلـومـاتـو برابرول:

۱. د عامه اعتبارونو د ثبت لوی آمریت
۲. د افغانستان بانک د عامل پلاوي او نورو برخو غړي
۳. سوداګریز بانکونه او کوچنی مالي مؤسسې

**Billing :** تر اوسه پورې د عامه اعتبارونو د ثبت مـدیـریـت دا صورت حساب له سیستم څخه ترلاسه کاوه او په لاسي بڼه یې د اکسل په پاڼه کې ترتیبوه چې دا کار د دې لامل شو څو پـه دې سنجش کې ځینې تیروتنې ترسره شي. د دغه اړتیا پر بنسټ چې په دې برخه کې محسوس کېده، دا ایجابوه چې دا مـاډیـول پـه سیستم کې زیات شی. په نږدې راتلونکي کې یاد راپـور د دې سیستم له لارې په دقیقه توګه سنجش او د اجـرا پـه مـوخـه د مشترکینو په واک کې ورکول کېږي.

**Scoring:** دا سیستم (ماډیول) د اعتباري راپورونـو یـوه عـمـده برخه ده چې په سیستم کې ټول راټول شوي معلومات تحلیـل او په دقیقه توګه ارزوي او پایلې یې د درجه بـنـدۍ پـه بـڼـه د اعتبارونو د سیستم د کاروونکو په واک کې ورکوي. مخکې له دې یاده درجه بندي د سیستم د معیار او سټنډرډونو پـر بـنـسـټ ترسره کیده چې په دې برخه کې د یو لړ ستونـزو د رامـنـځـتـه

کیدو لامل کېده، خو اوس مهال د راپور درجه بندي د اقتصادي تقاضا او اړتیاوو او د هېواد د مالي شرایطو له مخې عیار او تنظیم شوی دی. د یاد راپور ازمایښتي تطبیق بشپړ شوی دی او د سیستم په ویب پاڼه کې د ځای پر ځای کولو لپاره چمتو دی.

د یادونې وړ ده چې د اعتبارونو د راپور ورکولو د مقررې له مخې مشتریان خپل اعتباري راپور ته د لاسرسي حق لري او یاد راپور د عامه اعتبارونو د ثبت د دفتر لخوا په کال کې یو ځل پیرودونکو ته په وړیا ډول وېشل کېږي. د یادونې وړ ده چې د بیاځل مراجعې په صورت کې له پیرودونکو څخه په پام کې نیول شوی فیس هم اخیستل کېږي.

**۳. د منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت مدیریت**

دا مدیریت د منقولو مالونو د رهني حقونو د ثبت سیستم د اړوندو چارو تنظیموونکی دی. یاد سیستم په بانکي راکړه ورکړه کې د منقولو اموالو د رهن قانون د احکامو او په منقولو مالونو د حقوقي اطلاعاتو د ثبت مقررې په رڼا کې او د نړیوالو معیارونو مطابق جوړ شوی دی.

دا راپور د منقولو مالونو د رهني حقونو د ثبت سیستم پر بنسټ له ۲۰۱۳ زیږدیز کال څخه د ۲۰۱۸ زیږدیز کال تر دویمې ربعې پورې چمتو شوی دی چې په لاندې توګه وړاندې کېږي:

- په یاد سیستم کې تر اوسه پورې ۷،۵۴۷ رهني خبرتیاوې ثبت شوي دي چې (لومړنی، اصلاحي، تمدیدي، اعتراضي او فسخي اطلاعیې) رانغاړي چې د تیر کال په پرتله ۲۷۰ خبرتیاوې زیاتوالی ښکاره کوي.
- د منقولو مالونو پر وړاندې د ورکړل شویو پورونو ټولیزه شمېره ۴،۳۶۷ معاملو ته رسیږي چې له ډلې ۳،۶۳۰ یې هغو شرکتونو ته ورکړل شوي چې له ۱۵ تنو کم کارکوونکي لري؛ په داسې حال کې چې ۴۶۷ پورونه یې هغو شرکتونو ته ورکړل شوي چې د کارکوونکو شمېر یې د ۱۵ او ۳۰ ترمنځ وي؛ همدا ډول ۱۳۴ پورونه هغو شرکتونو ته ورکړل شوي چې د کارکوونکو شمېر یې د ۳۰ او ۵۰ ترمنځ وي؛ ۶۵ پورونه هغو شرکتونو ته چې د کارکوونکو شمیر یې د ۳۰ او ۱۰۰ ترمنځ وي او ۷۱ پورونه بیا هغو شرکتونو ته ورکړل شوي چې د کارکوونکو شمیر یې له ۱۰۰ پورته وي.

همدارنګه د منقولو مالونو پر وړاندې په ټولیزه توګه د ۴،۳۶۷ رهني معاملو له ډلې ۴،۲۹۰ یې هغو شرکتونو ته چې مالکان یې نارینه، ۶۲ یې هغو شرکتونو ته چې مالکان یې دواړه نارینه او ښځینه، او یوازې ۱۵ یې هغو شرکتونو ته چې مالکان یې ښځینه ؤ، ورکړل شوي دي.

په همدې ترتیب، د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د انټرنیټ له لارې د عامه پلټنو شمیر ۱۹،۴۸۰ وه چې د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د۲۰،۷۵۱ ترسره شویو پلټنو په پرتله ۱،۲۷۱ شمیرې زیاتوالی ښکاره کوي.

**د سوداګریزې پراختیا برخه**

د عامه اعتبارونو د ثبت آمریت د سوداګریزې پراختیا مدیریت مالي وجوهو ته د مالي سکتور د متقاضیانو او اړینو خلکو د لاسرسي په موخه د اعتبارونو د ثبت سیستم ترویج کوونکې برخه ده. د روزنیزو پروګرامونو او د عامه پوهاوي د ورکشاپونو جوړول د دې برخې عمده دندې ګڼل کېږي چې د طرحه شویو پروګرامونو له مخې د ۱۳۹۷ مالي کال د تلې میاشتې په ۱۶ او ۲۲ نېټه د ۵۸ تنو خصوصي متشبثینو، ملي سوداګرو، صنعت کارانو، نوښتګرو او متشبثو میرمنو، د لاسي صنایعو تولیدونکو، د پوهنتونونو استادانو او محصلینو، سوداګریزو بانکونو، د پورونو ورکونې کوچنیو مالي مؤسسو او د بانکونو د ټولنې لپاره دوه ورکشاپونه جوړ کړي دي.

**د کړنو زیاتوالی او د اړونده ادارو د پوښښ پراختیا**

د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د عامه اعتبارونو د ثبت آمریت د عامه اعتبارونو د ثبت سیستم، د منقولو مالونو د رهني حقونو د ثبت سیستم او د نویو محصولاتو د پېژندنې په موخه د عامه پوهاوی د ورکشاپونو د جوړولو سربېره، د اعتبارونو د ثبت او د منقولو مالونو د رهني حقونو د ثبت سیستمونو د پراختیا په موخه له یو شمیر بیلا بیلو ادارو سره غونډې درلودلي چې په لاندې توګه وړاندې کیږي:

- د عامه اعتبارونو د ثبت د سیستم د پېژندنې په موخه د کرنې د پراختیا صندوق له اداري (ADF) سره غونډه
- د مالیاتي معلوماتو د ثبت په موخه د مالیې وزارت د عوایدو له معینیت سره غونډه
- د برېښنا شرکت له اداري سره د یاد شرکت د مشترکینو د معلوماتو د ثبت په موخه د هوکړه لیک لاسلیکول
- د نړیوال بانک له سلاکارانو سره د عامه اعتبارونو د ثبت سیستم د نویو محصولاتو په اړه غونډه
- د هېواد له سوداګریزو بانکونو سره د عامه اعتبارونو د ثبت او د منقولو مالونو د رهني حقونو د ثبت سیستمونو په اړه غونډه او په دې هکله د هغوی د نظر غوښتنه

**د معلوماتي ټکنالوژۍ مدیریت**

د معلوماتي ټکنالوژۍ مدیریت د عامه اعتبارونو د ثبت آمریت له مرستندویه برخو څخه ګڼل کیږي او د دواړو سیستمونو په ورځنیو چارو او کارونو کې مهم رول لوبوي.

د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د دې مدیریت لاسته راوړنې په لاندې ډول لنډیز شوي دي:

- د احصائیوي راپورونو د ترلاسه کولو، د سیستم د اینوایسونو د ترتیبولو او د افغانستان بانک د قانون پر بنسټ مشتریانو ته د نمرې ورکولو په برخو کې د اسانتیاوو د رامنځته کولو لپاره د عامه اعتبارونو د ثبت په سیستم کې د Benchmarking، Billing او Scoring د نویو محصولاتو تخنیکي تطبیقول
- له سایبري حملو څخه د مخنیوي په موخه د ویب پاڼې خوندي ساتنه چې د ویب پاڼې د بې نظمۍ او یا هم په بشپړه توګه د ویب پاڼې د له منځه تللو لامل کیږي.
- د مشتریانو د خدمتونو او د عامه اعتبارونو د ثبت د سیستمونو شرکتونو ته د اسانتیاوو د برابرولو لپاره د مرکزي او کنفرانس د تیلیفوني سیستم د Call Center جوړول.

**د حقوقي مشاوریت برخه**

د عامه اعتبارونو د ثبت آمریت د حقوقي مشاوریت برخې په ۱۳۹۷ مالي کال کې د نړیوال بانک لپاره د ربعوار راپورونو د چمتو کولو ترڅنګ لاندې کړنې ترسره کړي دي:

۱. په مرکز او ولایتونو کې د عامه پوهاوی په اړه د ترسره شویو پروګرامونو لپاره د حقوقي برخې د موادو چمتو کول او برابرول
۲. د عامه پوهاوی په جوړو شویو پروګرامونو کې فعاله ونډه اخیستنه او د حقوقي پریزنټیشنونو وړاندې کول
۳. د عامه اعتبارونو د ثبت د سیستم د کارونې او د اعتباري معلوماتو په کیفیت کې د مقرراتي معیارونو د مراعتولو په موخه له بانکونو او کوچنیو مالي مؤسسو او اړونده مالي ادارو سره په غونډو کې فعاله ونډه اخیستنه
۴. د حقوقي اړانې په رڼا کې د عامه اعتبارونو د ثبت د سیستم په سمه او ګټوره کارونه کې د ونډې اخیستنې په موخه د برېښنا شرکت او د مخابراتو وزارت اړوند د اترا اداري په غونډو کې ګډون
۵. د نړیوال بانک او نړیوالې مالي اداري سره په جوړو شویو

ناستو کې د عامه اعتبارونو د ثبت سیستم د پراختیا او د اړونده مقررې له مخې د اړوندو ادارو د جلب او د منقولو مالونو د رهن قانون د تعدیل په موخه ګډون کول

۶. د برېښنا شرکت، د اسلامي مالي او پانګه ایزو ادارو او د اکسچنجر زون له اداري سره د هوکړه لیکونو چمتو کول، ترتیبول او نهایي کول

په ۱۳۹۷ کال کې بانکونو او د پور ورکولو کوچنیو او منځنیو مالي مؤسسو ته د دې آمریت لخوا د ترسره شویو خدمتونو له درکه ۲،۹۲۸،۹۵۰ افغانۍ ټولیز عواید راټول شوي دي چې بشپړ جزئیات یې په لاندې جدول کې کتلای شئ.

(۱۹) جدول:

| میاشت | بانکونه | کوچنۍ مالي مؤسسې | ټولیزه |
|---|---|---|---|
| ډیسمبر | ۱۴۰،۲۰۰ | ۱۵،۰۰۰ | ۱۵۵،۲۰۰ |
| جنوري | ۱۷،۴۴۰۰ | ۷۰،۰۰۰ | ۲۴۴،۴۰۰ |
| فبروري | ۲۱۰،۱۵۰ | ۰ | ۲۱۰،۱۵۰ |
| مارچ | ۲۳۱،۷۰۰ | ۳۰،۰۰۰ | ۲۶۱،۷۰۰ |
| اپریل | ۲۷۰،۸۵۰ | ۱۵،۰۰۰ | ۲۸۵،۸۵۰ |
| می | ۲۴۲،۴۵۰ | ۰ | ۲۴۲،۴۵۰ |
| جون | ۲۰۳،۳۰۰ | ۱۵،۰۰۰ | ۲۱۸،۳۰۰ |
| جولای | ۲۶۵،۴۰۰ | ۴۰،۰۰۰ | ۳۰۵،۴۰۰ |
| اګست | ۲۲۰،۸۰۰ | ۵،۰۰۰ | ۲۲۵،۸۰۰ |
| سپټمبر | ۲۳۴،۶۰۰ | ۵۰،۰۰۰ | ۲۸۴،۶۰۰ |
| اکتوبر | ۲۴۸،۱۰۰ | ۱۵،۰۰۰ | ۲۶۳،۱۰۰ |
| نومبر | ۲۳۲،۰۰۰ | ۰ | ۲۳۲،۰۰۰ |
| ټولیزه | ۲۶۷،۳۹۵۰ | ۲۵،۵۰۰۰ | ۲۹۲،۸۹۵۰ |

# د افغان امانتونو د بیمې اداره

## د افغان امانتونو د بیمې اداره

د افغان امانتونو د بیمې اداره په سوداګریزو بانکونو کې د خلکو د امانتونو د ملاتړ، د بانکي ثبات د ساتلو، د امانت اېښودونکو د هڅولو، د خلکو په سپماوو کې د زیاتوالي او د هېواد په بانکي نظام باندې د خلکو د باور ترلاسه کولو په موخه فعالیت کوي. د افغان امانتونو د بیمې ادارې بنسټیزه موخه د خلکو د باور ساتل او د یو سوداګریز بانک د دیوالي کېدو په صورت کې د خلکو د امانتونو د بیا ورکړې مسئولیت ګڼل کېږي. دا اداره په دې برخه کې د نورو اړوندو ادارو په مرسته فعاله ونډه او بنسټیز رول لري چې بې له شکه د دې ادارې په تأسیسېدو سره پر بانکي او مالي نظام باندې د خلکو د باور کچه لا زیاته شوې ده.

**د افغان امانتونو د بیمې ادارې پولي سرچینې**

د افغان امانتونو د بیمې اداره د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره مالي او عایداتي سرچینو ته اړتیا لري، څو د هغه پر بنسټ وکولای شي خپلې عمده او بنسټیزې موخې ترلاسه کړي. د دې ادارې پانګه ایزې او عایداتي سرچینې څلور بنسټیزې سرچینې (د افغانستان بانک او مالیې وزارت څخه ترلاسه شوې لومړنۍ او دوراني پانګه، له سوداګریزو بانکونو څخه ترلاسه شوې حق العضویت، له سوداګریزو بانکونو څخه په ربعواره توګه د کلنۍ حق البیمې راټولول او د دې ادارې د پیسو د پانګونې پروسه او له دې پانګې ترلاسه شوی عاید) جوړوي.

(۲۰) جدول د افغان امانتونو د بیمې ادارې پولي سرچینې ښکاره کوي

| شمېره | د افغان امانتونو د بیمې ادارې پولي سرچینې |
|---|---|
| ۱ | لومړنۍ او دوراني پانګه |
| ۲ | د یوه ځل لپاره د سوداګریزو بانکونو څخه د غړیتوب حق |
| ۳ | په کال کې څلور ځله له سوداګریزو بانکونو حق البیمه (Premium) |
| ۴ | د دې ادارې د پیسو پانګونه |

- **هغه سوداګریز بانکونه چې په ۱۳۹۷ مالي کال کې د افغان امانتونو د بیمې ادارې غړیتوب لري**

د تېر کال په پرتله، په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۱۴ سوداګریز بانکونه چې د افغانستان بانک څخه یې کاري جواز ترلاسه کړی دی؛ د افغان امانتونو د بیمې ادارې (ADIC) غړیتوب لري. د دې بانکونو له ډلې هر بانک د خپلو کړنو او بانکي چوپړتیاوو د وړاندې کولو سربېره، هر کال یوه اندازه ټاکلې پیسې د حق البیمې په توګه په ربعواره توګه د افغان امانتونو د بیمې ادارې ته ورکوي.

(۲۱) جدول: د هغه بانکونو لړلیک چې د افغان امانتونو د بیمې ادارې ته حق البیمه ورکوي:

| شمېره | د بانک نوم |
|---|---|
| ۱ | عزیزي بانک |
| ۲ | آرین بانک |
| ۳ | د افغانستان نړیوال بانک |
| ۴ | د کوچنیو پورونو لومړنی بانک |
| ۵ | نشنل بانک آف پاکستان |
| ۶ | الفلاح بانک لمیټډ |
| ۷ | حبیب بانک لمیټډ |
| ۸ | افغان یونایټډ بانک |
| ۹ | افغان ملي بانک |
| ۱۰ | پښتني بانک |
| ۱۱ | نوی کابل بانک |
| ۱۲ | میوند بانک |
| ۱۳ | غضنفر بانک |
| ۱۴ | افغانستان اسلامی بانک |


- **د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د حق البیمې راټوله شوې کچه**

د افغان امانتونو د بیمې اداره (ADIC) هر کال څلور ځلې د ټاکلي فورمول پر بنسټ د سوداګریزو بانکونو له حسابونو څخه خپله حق البیمه وضع کوي. له همدې امله، یادې ادارې د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د سوداګریزو بانکونو له حسابونو څخه په ټولیزه توګه پنځه سوه نولس میلیونه او اته زره څلور سوه نهه ویشت (۵۱۹،۰۰۸،۴۲۹) افغانۍ په خپل حساب کې راټولې کړې دي.


(۲۲) جدول د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د حق البیمې ټولیزه وضع شوې کچه ښکاره کوي

| د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د ADIC له لورې د حق البیمې ټولیزه وضع شوې کچه | | |
|---|---|---|
| د کال ربعې | مبلغ په افغانۍ | کال |
| څلورمه ربعه | ۱۲۹،۲٤٥،۸۰٥ | ۲۰۱۸ جنوري، فبروري، مارچ |
| لومړۍ ربعه | ۱۲٥،۱۳۰،٦۹٤ | ۲۰۱۸ اپریل، مې، جون |
| دویمه ربعه | ۱۳٤،۳۷۰،۱٤۲ | ۲۰۱۸جولای، آګست، سپټمبر |
| درېیمه ربعه | ۱۳۰،۲٦۱،۷۸۸ | ۲۰۱۸ اکتوبر، نومبر، ډیسمبر |
| ټولیزه | ٥۱۹،۰۰۸،٤۲۹ | |

(۲٤) ګراف د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې په ربعوار ډول د حق البیمې راټولونه ښکاره کوي




(۲٥) ګراف په ۱۳۹۶ او ۱۳۹۷ کلونو کې د حق البیمې د راټولونې پرتلنه ښکاره کوي




څرنګه چې په پورتني ګراف کې لیدل کېږي، په ۱۳۹۶ مالي کال کې په ټولیزه توګه ۴۸۱،۱۵۰،۳۸۵ افغانۍ او په ۱۳۹۷ کال کې په ټولیزه توګه ۵۱۹،۰۰۸،۴۲۹ افغانۍ راټولې شوي دي چې په ۱۳۹۷ مالي کال کې د ۱۳۹۶ مالي کال په پرتله ۳۷،۸۵۸،۰۴۴ افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي.

- **د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د دې ادارې د پانګونې د فعالیت کچه**

د افغان امانتونو د بیمې ادارې د پولي خوندیتوب، د ستراتیژیکې موخو د ترلاسه کولو، د دې ادارې د پولي سرچینو له وچېدو څخه د مخنیوي او د پانګونې په پروسه کې د پولي زیرمو د پیاوړتیا په موخه په ثانوي بازار (Secondary Market) کې د ګټې له لارې په سوداګریزو بانکونو کې پانګونه کړې ده. د افغان امانتونو د بیمې ادارې د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې په بیه لرونکو پاڼو کې له سوداګریزو بانکونو سره یوځای په ثانوي بازار کې پانګونه کړې ده چې د ۱۳۹۷ مالي کال له پیل څخه د همدې کال تر پای پورې له دې درکه یو میلیون او دوه سوه شپاړس زره اووه سوه دیارلس ۱،۲۱۶،۷۱۳.۶۸ افغانۍ ټولیزه ګټه کړې ده.

# د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو
# د څېړنې مرکز

د پیسو د وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د مبارزې لـه ملي او نړیوالو ادارو سره د افغانستان بانک د ژمنې او هڅـو یـوه بنسټیزه برخه جوړوي. د افغانستان بانک د پـیـسـو ویـنـځـلـو، د ترهګرۍ د تمویلولو او اداري فساد پر وړاندې مبارزې ته خپـلـې هڅې ځانګړې کړې او په دې برخه کې خپله پـیـاوړې ژمـنـتـیـا څرګندوي.

۱۳۹۷ مالي کال (۲۰۱۸) له زیاتو ننګونو او خنډونو سره مل کال ؤ چې د افغانستان د مالي معاملو او راپوررونو د څېړنې مرکز یـې پر وړاندې مبارزه کړې او په بریالیتوب سره یې یادې سـتـونـزې حل کړي دي. دې مرکز د هغه راپوررونو چې د دوی بنـسـټـیـزې کړنې ګڼل کېږي؛ د راټولولو، څېړلو او خپرولو په موخه زیـاتـې هلې ځلې کړي دي.

د راپور ورکوونکو ادارو د ظرفیت لوړولو او وړتیا زیاتولو لـپـاره د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل د شـکـمـنـو مـواردو د تشخیصولو، د شکمنې قضیې د منځته راتلو او د شکمنو معاملو د راپوررونو (STRs) د کیفیت د ښه والي او د لویو نغدي معاملو د راپوررونو (LCTRs) په موخه یاد مرکز له راپور ورکوونکو ادارو سره په ګډه په کار پیل کړی او هغوی ته یې تخنیکي مرستې او حرفوي زده کړې ورکړې. د دې هڅو په پایله کـې، پـه روان کال کې یاد مرکز ته د لویو نغدي معامـلـو پـه رالـیـږل شـویـو راپوررونو کې ۲۱ سلنه او د شکمنو معامـلـو پـه رالـیـږل شـویـو راپوررونو کې ۵۹ سلنه زیاتوالی راغلی دی. د یادونې وړ ده چې د شکمنو معاملو د راپوررونو کیفیت چې د روان کـال پـه اوږدو کې دې مرکز ته سپارل شوي دي، غوره او د نورو په پرتله توپیر لري.

د مالي راپوررونو او معاملو د څېړنې په موخه دې مرکز د هېواد د یو شمېر قانون پلي کوونکو ادارو، په تیره بیا د لویې څـارنـوالـۍ لپاره د ارزښتناکو محصولاتو د وړاندې کولو په برخه کې د پام وړ هڅې کړې دي. همدا ډول د دې مرکز د کـارکـوونـکـو د تحلیلي وړتیاوو د لا زیاتوالي په برخه کې هم د پام وړ هڅې او کوښښونه شوي دي او د ظرفیت لوړونـې پـه مـوخـه دوی تـه ځانګړي روزنیز پروګرامونه په لاره اچول شوي دي. همـدا ډول څېړونکو د اړونده ذینفع شریکانو سره په ګډه ډېرې کـړنـې او همکارۍ ترسره کړې دي چې پر بنسټ یې هغوی توانیدلي څـو د هغه قضیو چې نه یوازې د شکمنو معاملو د راپوررونو په پـایـلـه کې ترلاسه شوي دي، بلکې د نورو احتیاطي قضیو یـو ټـولـیـزه انځور هم ولري.

په ۲۰۱۸ زیږدیز کال کې دې مرکز د قانون پلي کـوونـکـو یـو شمېر ادارو ته د مالي معلوماتو د ورکولو پـه مـوخـه یـوه نـوې تګلاره تر لاس لاندې نیولې چې پر بنسټ یې د افغانستان د مالي معاملو او راپوررونو د څېړنې مرکز په هېواد کې یو شمېـر قـانـون پلي کوونکو ادارو ته مالي معلومات خپـاره کـړي دي. د څـو اړخیزو معلوماتو خپرول د مالي استخبـاراتـو د ادارې (FIU) د کړنو د پراختیا لامل شوی دی. د قانون پلـي کـوونـکـو اړونـده ادارو ته د معلوماتو له خپرولو وروسته د راپوررونو د بـحـث وړ موضوعاتو کې لاسوهنه ناشونې ده.

د روان کال په پای کې د راټولو شویو ارقامو پربنسټ په هغه قضیو کې ۴۴.۴ سلنه زیاتوالی راغلی دی چې د مستندو سرغړونو په اړانه کې د دې مرکز له لورې څېړل شوي دي. په ټولیزه توګه هغه ۴۷ خپل سرې قضیې چې د روان کال په اوږدو کې د مالي استخباراتو د ادارې د اجرائیوي کمېټې په ۱۹ ناستو کې څېړل شوي او د تائید وړ ګرځېدلي دي، اړونده ادارو ته خپرې شوې دي. په خپل وخت د معلوماتو د خپرولو ترڅنګ، دې مرکز له قانون پلي کوونکو ادارو څخه د څېړنې او پلټنې لپاره په ټولیزه توګه ۲۵۱ داخلي غوښتنلیکونه ترلاسه کړي دي چې له ډلې یې ۲۴۱ غوښتنلیکونو ته چې ۹۶ سلنه جوړوي، ځوابونه ورکړل شوي دي. په دې غوښتنلیکونو کې د ۲۰۱۷ کال په پرتله ۳۹ سلنه زیاتوالی راغلی دی چې د ادارو ترمنځ د ګډې همکارۍ پیاوړتیا او دوام په ډاګه کوي.

د قانون پلي کوونکو ادارو ته د خپریدونکو معلوماتو د کارونې د لا اغېزناکتیا په موخه دې مرکز د قانون پلي کوونکو ادارو ته یو لړ روزنیز پروګرامونه او روزنیزې مرستې وړاندې کړي دي. د یادونې وړ ده چې دې پروګرامونو په ټولیزه توګه د خپرو شویو معلوماتو د سمې کارونې پر طریقو او لارو چارو باندې تمرکز درلوده.

همدا ډول د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې د مرکز نړیوالې همکارۍ؛ د نړیوالو غوښتنلیکونو ته د ځواب ویلو په پایله کې لا پراخه شوې دي. د ۲۰۱۸ زیږدیز کال په اوږدو کې د یو نوي هوکړه لاسلیك پر بنسټ د دې مرکز د نړیوالو همکاریو ساحه پراخه شوې او د مالي استخباراتو د بهرنیو ادارو سره د معلوماتو په شریکولو کې زیاتوالی راغلی دی.

دا مرکز په ۲۰۱۸ کال کې د خپلو ترسره شویو هڅو د پایلو په اړه فکر کوي څو د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د مبارزې په برخه کې لا ډېر اقدامات ترسره کړي چې په همدې موخه هڅه شوې څو له قانون پلي کوونکو ادارو څخه د فیډبک (ځواب/ وړاندیز/ نظر) ترلاسه کولو پروسه لا ګړندۍ او ښه والی ومومي. په دې کړنو او هڅو کې د لوړ پوړو چارواکو له لورې د روان کال په اوږدو کې څو ځلې د مالي استخباراتو د قضیو په تړاو ترسره شوې خبرې اترې هم شاملې دي. د دې ترڅنګ، د عالي شورا د غونډو د بحث او خبرو اترو بنسټیزه موضوع د قانون حاکمیت او له اداري فساد سره مبارزه وه چې لوړ پوړو دولتي چارواکو هم په کې ونډه درلودله. دې شورا د مالي استخباراتو له ادارې سره د اړوندو دولتي ادارو د لا زیاتې همغږۍ په موخه پریکړه لیکونه صادر کړي چې دې کار د دې مرکز د ځواب ورکونې پروسه لا پیاوړې کړې ده. په همدې موخه د مالي استخباراتو په برخه کې د فیډبک (ځواب/ وړاندیز/ نظر) وړاندې کولو یو ډیټابیس هم جوړ شوی دی چې د قانون پلي کوونکو ادارو ته خپرې شوې قضیې تعقیب او تر څار لاندې نیسي.

د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د بنسټیزو کاري لارو چارو سربیره د روان کال په اوږدو کې د دې مرکز د کاري پرمختګ د ډېرو لاسته راوړنو او ګډو همکاریو څرګندونه کوي. افغان دولت په روان کال کې د اداري فساد او نورو مستندو سرغړونو له لارې د اخیستل شویو شتمنیو د بیا ترلاسه کولو د ادارې د پرانیستلو لپاره لومړني ګامونه پورته کړي چې د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز په دې برخه کې له یادې ادارې سره چې د لویې څارنوالۍ په تشکیل کې جوړ شوی دی، مرسته او همکاري کړې ده څو خپلې ناستې یو له بل سره همغږې او د دې ملي پروژې د کړنو په ترسره کولو کې اسانتیا رامنځته کړي. دې مرکز د شتمنیو د

بیا ترلاسه کولو د تنظیم مقرره تر بیاکتنې لاندې نیولې او په دې برخه کې یې لازمې سپارښتنې کړې دي څو د تطبیق پروسه په ښه توګه ترسره او د شتمنیو د بیا ترلاسه کولو اغیزناکتیا لا زیاته شي.

دې مرکز د ملي پروژو لکه؛ د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل د داخلي خطرونو د ارزونې (NRA) په همغږي کولو، د لوړ پوړو دولتي چارواکو د اعلان شویو شتمنیو په مالي تثبیت او د تدارکاتو ملي ادارې سره د روڼتیا د لا زیاتوالي او عامه پروژو ته د مالي مجرمینو د لاسرسي د محدودولو په موخه د هوکړه لیک په لاسلیکولو کې ګډون او همکاري کړې ده.

دې مرکز د قانون د پلي کولو په موخه پر بانکونو او د مالي خدمتونو پر وړاندې کوونکو باندې د ۵.۶۲ میلیونه افغانیو په ارزښت مالي جریمې وضع کړې او ترلاسه کړې؛ د ۲۹ بانکي حسابونو د کنګل کولو پریکړه یې تر بیاکتنې او ارزونې لاندې نیولې؛ د غیر قانوني بانکي حسابونو په بندولو کې یې اقدام کړی دی؛ د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو ۱۷ کاري جوازونه یې ځنډولي؛ د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو ۷ کاري جوازونه یې فسخ کړي او د هېواد اوو واړو زونونو ته یې د غیر مجوزو پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو په اړه احتیاطي شننه خپره کړې ده.

د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د استرالیا او قزاقستان د مالي استخباراتو له ادارو سره دوه هوکړه لیکونه لاسلیک کړي دي چې په دې سره د نړیوالو هوکړه لیکونو ټولیزه شمېر ۱۸ ته رسیږي. د دې هوکړه لیکونو په لاسلیک کېدو سره د دې مرکز د نړیوالو همکاریو ساحه او د معلوماتو د شریکولو پروسه د تیر په پرتله ډېره پراخه شوې ده.

همدا ډول دې مرکز د تدارکاتو له ملي ادارې (NPA) او د کورنیو چارو وزارت (MoI) سره دوه داخلي هوکړه لیکونه هم لاسلیک کړي دي چې د تدارکاتو له ملي ادارې سره د دې مرکز د هوکړه لیک لاسلیکول یوه لویه لاسته راوړنه ګڼل کیږي. د دې هوکړه لیک پر بنسټ د مالي استخباراتو ادارې ته نوی مسئولیت ورکول کیږي څو د قراردادیانو د مالي تثبیت په برخه کې د یادې ملي ادارې سره همکاري وکړي. همدا ډول د کورنیو چارو وزارت سره لاسلیک شوی هوکړه لیک هم د داخلي همکاریو د ساحې او د معلوماتو د شریکولو لا پراختیا او زیاتیدو ته زمینه برابروي.

# د حساب صورت مالي او بودجه

د افغانستان بانک د بودجې او د عوایدو او لګښتونو د شقوقو ترتیبول د مالي او محاسبې لوی آمریت دندې او مسئولیتونه ګڼل کیږي. د افغانستان بانک عادي او پراختیایي بودجه له بیلابیلو طي مراحلو او دقیقې ارزونې او شننې وروسته په پایله کې د عالي شورا لخوا چې د افغانستان بانک د تصمیم نیونې غوره مرجع ده، تصویب او منظوریږي.

(۲۶) ګراف د حقیقي او تصویب شوې بودجې د شقوقو زیاتوالی او کموالی ښکاره کوي




**۱. د عوایدو شقوق:** په دې برخه کې د کمیشنونو عواید، د اسعارو د پانګه اچونې د ټکټانې عواید، د کابل بانک د پور د ټکټانې عواید، د اسعارو له پلور څخه ترلاسه شوي حقیقي عواید، د مرستو له درکه ترلاسه شوي عواید او نور عواید شامل دي.

**د کمیشنونو عواید:** د عوایدو دا برخه د مالي کنترول کمېشنونه، د جاري حساب د پرانیستلو، چک بوک، سویفټ، د پانګې لیږد، د اسعارو د پلور پر وړاندې جریمه، د ډالرو مبادله او متفرقه کمیشنونه رانغاړي چې په ۱۳۹۷ مالي کال کې د هغه حقیقي شمېرې د پلان شوې بودجې د وړاندوینې له مخې ۲۳ سلنه کموالی ښکاره کوي. د دې کموالی بنسټیز لامل د کمیشنونو په لایحه اود بریښنا په لګښت کې بدلونونه او همدارنګه د یورو د ساتنې ۰.۶۵ سلنه لګښتونه ګڼل کیږي چې مخکې د افغانستان بانک لخوا ترسره کیدل خو اوس مهال دا کار خصوصي بانکونو ته سپارل شوی دی.

**د اسعارو د پانګونې د ټکټانې عواید:** د عوایدو دا برخه د اسعارو تحقق موندلي عواید، د رمپ (RAMP) پروژه، په بهرنیو بانکونو (معامله لرونکو بانکونو) کې د امانتونو ټکټانه او د بیه لرونکو سندونو په پیرلو کې تخفیف رانغاړي. په ۱۳۹۷ مالي کال کې د دې عوایدو حقیقي شمېرې د اسعارو په پانګه اچونه کې ۳۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د اسعارو د پانګونې د ټکټانې په عوایدو کې د زیاتیدو اصلي لاملونه د ټکټانې نرخ او په بیلابیلو برخو کې د اسعاري شتمنیو زیاتوالی او د افغانستان بانک د شتمنیو له راکد پاتې کیدو څخه د مخنیوي په موخه د هغه پانګونه ګڼل کیږي.

**نور عواید:** نور عواید د اسعاري حسابونو د پرانیستلو فیس، د مالي ادارو په وړاندې هوکړه لیکونو کې د څنډ له امله جریمه، د مرستو له درکه عواید، کرایه، د بانکونو د څارنې فیس، د بانکونو د مالي وضعیت کنټرول، د جایدادونو عواید، د فزیکي پیسو د لیږد فیس، د بریښنایي پیسو د خدمتونو د اداري کلني عواید او نور عواید رانغاړي. په ۱۳۹۷ کال کې د دې برخې حقیقي عواید ۴۴۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې بنسټیز لاملونه یې د مالي بانکي سرغړونو له کبله د مالي چارو د څارنې د آمریت د جریمو زیاتوالی او د کابل بانک د ټکټانې تخفیف ګڼل کیږي، چې په تړون کې ۲ سلنه ټاکل شوی دی، خو په ۱۳۹۷ کال کې د بازار نرخ شاوخوا ۷ سلنه ټاکل شوی دی.


**د کابل بانک د پور د ټکټانې عواید:** د ۱۳۹۷ کال په اوږدو کې

د پلان شوې بودجې له مخې د دې برخې په حقیقي عوایدو کې کوم بدلون (کموالی او زیاتوالی) نه دی راغلی.

**د اسعارو د پلور څخه ترلاسه شوي عواید:** دا برخه د اسعارو له پلور څخه ترلاسه شوي عواید رانغاړي چې په ۱۳۹۷ مالي کال کې یې حقیقي کچه د پلان شوې بوجې په پرتله ۱۸۸ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي چې د دې زیاتوالي اصلي لامل یې په ۱۳۹۷ مالي کال کې په بازار کې د اسعارو په نرخ کې د پام وړ زیاتوالی په ګوته شوی دی.

**له مرستو څخه ترلاسه شوي عواید:** دا برخه د مرستې له لارې ترلاسه شوي تجهیزات رانغاړي. د ۱۳۹۷ مالي کال حقیقي کچه یې د پلان شوې بودجې په پرتله ۸۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د مرستو په عوایدو کې د زیاتیدو اصلي لامل د اړوندو شعبو د وړاندوینې له مخې د مرستو زیاتوالی ښودل شوی دی.

(۲۷) ګراف د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د حقیقي او تصویب شوي عوایدو شقوق ښکاره کوي (په سلنې)




**۲. د لګښتونو شقوق:** په دې برخه کې عملیاتي احتیاطي او د نه تمې وړ لګښتونه، د اثاثیې، تجهیزاتو، تعمیراتي پراختیایي لګښتونو شقوق شامل دي.


**د نه تمې وړ/احتمالي پیښو د لګښتونو شقوق:**

**عملیاتي شقوق:** د عملیاتي شقوقو شمېرې په ۱۳۹۷ مالي کال کې ډېرې وختونه د نوسان (کموالي او زیاتوالي) په حالت کې وې چې د پلان شوې بودجې په پرتله په ټولیزه توګه ۴۶ سلنه کموالی ښکاره کوي. د دې کموالي اصلي لامل د هېواد اقتصادي شرایطو له مخې د ټکټانې په ټیټ نرخ سره د بیه لرونکو پاڼو لیلام په ګوته شوی دی.

**د کارکوونکو د معاشونو او امتیازونو شقوق:** دا ډول لګښتونه معاشونه، اضافه کاري، هڅوونکي امتیازونه، مالي مرستې او د کارکوونکو تقاعد رانغاړي چې د ۱۳۹۷ مالي کال حقیقي شمېرې یې د پرسونل په برخه کې ۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې د پلان شوې بودجې په پرتله د پام وړ زیاتوالی نه دی.

**استهلاکات:** استهلاکات چې یو له مصرفي برخو څخه شمېرل کېږي د ۱۳۹۷ مالي کال حقیقي شمېرې یې د پلان شوې بودجې په پرتله ۸ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

( ۲۸ ) ګراف د حقیقي او تصویب شویو لګښتونو شقوق ښکاره کوي




**د اثاثیې، تجهیزاتو او تعمیراتي پرمختیایي شقوق:**


د لګښتونو د شقوقو په دې برخه کې د افغانستان بانک کارکوونکو ته پورونه، پرمختیایي احتیاطي، تعمیراتي او همدارنګه د اثاثیې او تجهیزاتو لګښتونه شامل دي.

**کارکوونکو ته پوروونه:** دا برخه هغه بېلابېل پوروونه رانغاړي چې د افغانستان بانک يې خپلو کارکوونکو ته ورکوي. په ۱۳۹۷ مالي کال کې د دې پوروونو حقيقي شمېرې د پلان شوې بودجې په پرتله ۱ سلنه ټيټوالی ښکاره کوي چې دا بدلونونه د منظور شوې بودجې له مخې د پام وړ نه دي.

**تعميراتي لګښتونه:** په تعميراتي لګښتونو کې د افغانستان بانک د مرکزي دفتر د نوې ودانۍ په ګډون د ولايتونو د نماينده ګيو د ودانيو د احاطو او نورو برخو د رغونې لګښتونه شامل دي چې د ۱۳۹۶ مالي کال حقيقي شمېرې يې د پلان شوې بودجې په پرتله ۸۳ سلنه ټيټوالی ښکاره کوي چې اصلي لامل يې د کال په اوږدو کې د پرمختيايي او رغنيزو پروژو نه تطبيق ګڼل کېږي.

**د اثاثيې او تجهيزاتو شقوق:** په دې برخه کې د فرنيچرو، اثاثيې، بريښنايي اثاثيې، موټرونه، د کمپيوټرونو او پرنټرونو تکنالوژيکي وسايلو تجهيزات، د بانکنوټونو چاپول، د متفرقه برخو تجهيزات او پوستې کالي (سافټ ويرونه) شامل دي. په ۱۳۹۷ مالي کال کې د دې لګښتونو حقيقي شمېرې د پلان شوې بودجې په پرتله ۵ سلنه ټيټوالی ښکاره کوي چې دا بدلونونه د پلان شوې بودجې په پرتله د پام وړ نه دي.

(۲۹) ګراف د اثاثيې، تجهيزاتو او پرمختيايي تعميراتي لګښتونو شقوق ښکاره کوي



## د افغانستان بانک

## د شتمنیو او پوراینو صورت حساب

## د کال پای، د ۱۳۹۷ مالي کال د لیندۍ ۳۰ (د ۲۰۱۸ کال د ډیسمبر ۲۱)

| | یادداښت | ۱۳۹۷ د لیندۍ ۳۰ (۲۰۱۸ د ډیسمبر ۲۱) | ۱۳۹۶ د لیندۍ ۳۰ (۲۰۱۷ د ډیسمبر ۲۱) |
|---|---|---|---|
| | | (په افغانۍ "...") | |
| **شتمنۍ** | | | |
| د سرو زرو زېرمې | ۷ | ٦٦،١٧٨،٥٩١ | ۶۱،۶۶۸،۵۷۱ |
| د اسعارو نغدي زېرمې | ۸ | ٢٣،٠٤٨،٢٣٦ | ۸۴،۶۱۵،۴۷۳ |
| د بانکونو او نورو مالي مؤسسو مطالبات | ۹ | ٣٢٥،٦٧٥،٣٢٧ | ۲۲۶،۶۶۳،۸۵۴ |
| پانګونې | ۱۰ | ٢٠٧،١٤٦،٦٠٤ | ۱۹۱،۴۱۹،۷۰۹ |
| د پور ورکونې د وروستی مرجع په توګه د ورکړې اسانتیاوې | ۱۱ | ٦،٩٦١،٨٨٥ | ۱۴،۵۸۸،۰۹۶ |
| طباب او نورې د حصول وړ شتمنی | ۱۲ | ٢،٠٤٦،٠٠٤ | ۱،۶۳۰،۶۷۶ |
| په ملکیتونو کې پانګه اچونه | ۱۳ | ٥،٣٩٥،٩١٣ | ۵،۲۸۸،۴۳۲ |
| نا ملموسې شتمنۍ | ۱۴ | ٦٢،٠٢٦ | ۸۶،۳۸۱ |
| نورې شتمنۍ | ۱۵ | ١٣،٤٥١،٥٩٦ | ۱۳،۱۸۹،۱۱۷ |
| **ټولیزه شتمنۍ** | | ٦٤٩،٩٦٦،١٨٢ | ۵۹۹،۱۵۰،۳۰۹ |
| **پوراینې او پانګې (اکویټي)** | | | |
| **پوراینې** | | | |
| په ګردښت کې پیسې | ۱۶ | ٢٢٨،٠٥٥،٥٧٨ | ۲۲۸،۶۳۳،۹۵۶ |
| د پور سندونه | ۱۷ | ٣٣،٦٩٨،٦٥٠ | ۳۸،۹۶۳،۸۶۲ |
| بانکونو او نورو مالي ادارو ته پوراینې | ۱۸ | ٩٠،٦٥١،٢٣٩ | ۱۰۶،۹۱۹،۳۷۲ |
| مشتریانو ته پوراینې | ۱۹ | ١٣٦،٥١٦،٢٧٩ | ۱۰۰،۱۲۵،۲۵۱ |
| د پیسو نړیوال صندوق ته پوراینې | ۲۰ | ٢،٤١٨،٧٨٤ | ۱،۴۰۲،۶۶۶ |
| د متقاعدینو حقونه | ۲۱ | ١،٦٤٦،٠٣٣ | ۱،۴۶۷،۵۳۴ |
| بې بدیله مرستې (بخششی) | ۲۲ | ١٥٥،٩٣٣ | ۱۱۱،۴۲۹ |
| زېرمې او نورې پوراینې | ۲۳ | ١٠،٠٥١،٦٤٠ | ۱،۲۶۲،۰۳۱ |
| **ټولیزه پوراینې** | | ٥٠٣،١٩٤،١٣٦ | ۴۷۸،۸۸۶،۱۰۱ |
| **پانګې(اکویټي)** | | | |
| پانګه | ۲۴ | ٢٤،٢٢١،٦٤٩ | ۲۳،۵۲۰،۲۵۰ |
| د بیا ارزښت موندونکې زېرمې | ۲۴ | ٦٤،٩٨٧،٥١٨ | ۵۹،۳۳۲،۴۷۸ |
| د پانګې نورې زېرمې | ۲۴ | ٣٣،٣٤١،٢٣٠ | ۲۲،۷۳۹،۰۸۵ |
| عمومي زېرمې | ۲۴ | ٢٤،٢٢١،٦٤٩ | ۲۳،۵۲۰،۲۵۰ |
| د زېرمه کولو ګټه | ۲۴ | – | (۸،۸۴۷،۸۵۵) |
| **ټولیزه پانګه** | | ١٤٦،٧٧٢،٠٤٦ | ۱۲۰،۲۶۴،۲۰۸ |
| **ټولیزه پوراینې او پانګې** | | ٦٤٩،٩٦٦،١٨٢ | ۵۹۹،۱۵۰،۳۰۹ |
| (احتمالات)ژمنې او شونتیاوې | ۲۵ | | |

له (۱) څخه تر (۳۸) شمېرې پورې پورته ذکر شوي یادښتونه د مالي راپور بنسټیزې برخې دي.

| | | |
|---|---|---|
| **سید یونس سادات** | **محمد قسیم رحیمي** | **واحدالله نوشیر** |
| **د مالي او محاسبې لوی آمر** | **د افغانستان بانک دویم مرستیال** | **د افغانستان بانک سرپرست او لومړی مرستیال** |

**د افغانستان بانک**

**د عوایدو او لګښتونو صورت حساب**

**د کال پای، د ۱۳۹۷ مالي کال د لیندۍ ۳۰ نېټه (د ۲۰۱۸ کال د ډیسمبر ۲۱)**

| | یادداښت | ۱۳۹۷ د لیندۍ ۳۰ (۲۰۱۸ د ډیسمبر ۲۱) | ۱۳۹۶ د لیندۍ ۳۰ (۲۰۱۷ د ډیسمبر ۲۱) |
|---|---|---|---|
| | | ---------- (ارقام په افغانۍ "..") ---------- | |
| **د روان کال ګټه** | | ۲۹،۸٤٤،۰۲٤ | ۱۹،۲۷۷،۲۲۷ |
| **د نورو هر اړخیزو عوایدو صورت حساب** | | | |
| **په راتلونکو دورو کې د عوایدو او لګښتونو صورت حسابونو ته لیږل کیږي** | | | |
| د سرو زرو د زېرمو د بیا ارزښت ټاکنې له درکه ګټه | ۷ | ٤،٥١۰،۰۲۰ | ۸،۸۶۷،۶۷۵ |
| پلور ته د چمتو شتمنیو له درکه غیر حقیقي خالصه ګټه | | ۱،۱٤٥،۰۲۰ | ۱۵۲،۶۴۴ |
| نوره هر اړخیزه ګټه | | ٥،٦٥٥،۰٤۰ | ۹،۰۲۰،۳۱۹ |
| **تولیزه هر اړخیزه ګټه** | | ۳٥،٤۹۹،۰٦٤ | ۲۸،۲۹۷،۵۴۶ |

له (۱) څخه تر (۳۸) شمېرې پورې پورته یاد شوي یادداښتونه د مالي راپور بنسټیزې برخې جوړوي.

| واحدالله نوشیر | محمد قسیم رحیمي | سید یونس سادات |
|---|---|---|
| د افغانستان بانک سرپرست او لومړی مرستیال | د افغانستان بانک دویم مرستیال | د مالي او محاسبې لوی آمر |

**د افغانستان بانک**

**د نغدي جریانونو صورت حساب**

**د کال پای، د ۱۳۹۷ مالي کال د لیندۍ ۳۰ نېټه (د ۲۰۱۸ کال د ډیسمبر ۲۱)**

| | یادداښت | ۱۳۹۷ د لیندۍ ۳۰ (۲۰۱۸ د ډیسمبر۲۱) | ۱۳۹۶ د لیندۍ ۳۰ (۲۰۱۷ د ډیسمبر ۲۱) |
|---|---|---|---|
| | | ----------(ارقام په افغانی "...")---------- | |
| **د عملیاتي کړنو نغدي جریانونه (بهیدنې)** | | | |
| د کال ګټه/ زیان | | ۲۹،۸٤٤،۰۲٤ | ۱۹،۲۷۷،۲۲۷ |
| تعدیلات: | | | |
| د ارزښت کمېدنه او استهلاک | ۱۴ او ۱۳.۲ | ۸۲،۲۷۱ | ۶۷،۴۱۹ |
| د تکتاني عواید | ۲۶ | (۷،۳۸٦،۳۲۹) | (۳،۷۶۲،۴۰۴) |
| د تکتاني لګښتونه | ۲۷ | ۱۲۷،۷۱٤ | ۲،۶۲۹،۶۹۳ |
| د مرستو عواید | ۲۲ | (۳۹،۹۳۵) | (۳۶،۱۱۶) |
| د مرستو لګښتونه | | ۳۹،۹۳۵ | ۳۶،۱۱۶ |
| د جایدادونو د لیلام له درکه زیان | | – | ۹،۰۰۰ |
| د مخکې ورکړو او نورو ترلاسه کیدونکو حسابونو لپاره معکوسې زېرمې | | (۳۵۳،۸۱٤) | – |
| | | ۲۲،۳۱۳،۸٦٦ | ۱۸،۲۲۰،۹۳۵ |
| **د کاري پانګې تعدیلات:** | | | |
| د بانکونو او نورو مالي مؤسسو په مطالباتو کې بدلون | ۹ | (۱۱۱،۸۲۹،۱٦۰) | (۲۰،۶۷۷،۱۷۹) |
| د پور ورکولو د وروستي مرجع په توګه د ورکړې په اسانتیاوو کې بدلون | ۱۱ | ۷،٤۷۲،۹٥۹ | ۷،۳۴۳،۰۳۹ |
| په مخکې ورکړو او نورو ترلاسه کیدونکو حسابونو کې بدلون | ۱۲ | (٦۱،٥۱٤) | (۲۳۳،۸۷۳) |
| په نورو شتمنیو کې بدلون | ۱۵ | ۱٦،۳۲٤ | ۵۲۰،۷۱۰ |
| د پیسو په ګردښت کې بدلون | ۱۶ | (٥۷۸،۳۷۸) | ۵۰،۰۲۲،۵۰۷ |
| بانکونو او نورو مالي مؤسسو ته په پوراینه کې بدلون | ۱۸ | (۱٦،۲٦۸،۱۳۳) | ۲۵،۱۲۸،۸۵۵ |
| مشتریانو ته په پوراینه کې بدلون | ۱۹ | ۲۷،۳۹۹،۸۰۲ | ۱۱،۷۱۶،۸۱۰ |
| د پیسو نړیوال صندوق ته په پوراینه کې بدلون | ۲۰ | ۱،۰۱٦،۱۱۸ | ۹۷۹،۴۵۱ |
| د متقاعدینو په حقونو کې بدلون | ۲۱ | ۱۷۸،٤۹۹ | ۱،۳۷۵،۹۸۲ |
| په نورو پوراینو کې بدلون | ۲۳ | ۸،۷۸۹،٦۰۹ | (۸۹۲،۱۳۰) |
| | | (۸۳،۸٦۳،۸۷٤) | ۳۰،۲۸۴،۱۷۲ |
| | | (٦۱،٥٥۰،۰۰۸) | ۴۸،۵۰۵،۱۰۷ |
| ترلاسه شوي تکتانه | | ٦،۹۳٥،٦٥۹ | ۳،۶۶۰،۷۴۸ |
| ورکړل شوي تکتانه | | (۱۲۷،۷۱٤) | (۲،۶۲۹،۶۹۳) |
| ترلاسه شوي مرستې | | ۸٤،٤۳۹ | ۹،۸۴۶ |
| **د عملیاتي کړنو له درکه نغدي خالصه جریانونه** | | (٥٤،٦٥۷،٦۲٤) | ۴۹،۵۴۶،۰۰۸ |
| **د پانګونې د کړنو له درکه نغدي جریانونه** | | | |
| د کال په اوږدو کې پانګونې | ۱۰ | (۱٤،٥۸۱،۸۷۷) | (۴۲،۳۱۷،۹۲۸) |
| د ثابتو شتمنیو پیرېدل | ۱۳.۲ | (۱۹۰،۳٤٤) | (۸۸،۹۱۸) |
| د پانګونې د زیاتیدو کار د پراختیا په حال کې ده | ۱۳.۱ | (۹،۹۲٥) | (۸،۶۱۱) |
| د نه لیږدیدونکو شتمنیو پیرېدل | ۱۴ | (٤،٥۷۰) | (۸،۹۹۵) |
| د ثابتو شتمنیو د پلور له درکه عواید | | (٤۹۳) | ۱۲،۸۰۰ |
| **د پانګونې د کړنو له درکه خالصه نغدي جریانونه** | | (۱٤،۷۸۷،۲۰۹) | (۴۲،۴۱۱،۶۵۲) |
| **د مالي کړنو له درکه نغدي جریانونه** | | | |
| د پانګه ایزو پانو د بیا ورکړې له درکه عواید | ۱۷ | (٥،۲٦٥،۲۱۲) | (۳،۶۲۲،۰۱۹) |
| **د مالي کړنو له درکه خالصه نغدي جریانونه** | | (٥،۲٦٥،۲۱۲) | (۳،۶۲۲،۰۱۹) |
| په نغدي پیسو او د هغه په معادل کې زیاتوالی/ کموالی | | (۷٤،۷۱۰،۰٤٥) | ۳،۵۱۲،۳۳۷ |
| **د کال په پیل کې نغدي پیسې یا د هغه معادل** | | ۲۰۳،۰۹٦،۹۳۷ | ۱۹۹،۵۸۴،۶۰۰ |
| **د کال په پای کې نغدي پیسې یا د هغه معادل** | ۳۲ | ۱۲۸،۳۸٦،۸۹۲ | ۲۰۳،۰۹۶،۹۳۷ |

له (۱) څخه تر (۳۸) شمېرې پورې پورته یاد شوي یاددښتونه د مالي راپور بنسټیزې برخې دي.

**سید یونس سادات**
**د مالي او محاسبې لوی آمر**

**محمد قسیم رحیمي**
**د افغانستان بانک دویم مرستیال**

**واحدالله نوشیر**
**د افغانستان بانک سرپرست او لومړی مرستیال**

## د افغانستان بانک

## د عوایدو او لګښتونو صورت حساب

## د کال پای، د ۱۳۹۷ مالي کال د لیندۍ ۳۰ (د ۲۰۱۸ کال د ډیسمبر ۲۱)

| | یادداښت | ۱۳۹۷ د لیندۍ ۳۰ (۲۰۱۸ د ډیسمبر ۲۱) | ۱۳۹۶ د لیندۍ ۳۰ (۲۰۱۷ د ډیسمبر ۲۱) |
|---|---|---|---|
| | | ---------- (په افغانۍ "...") | ---------- |
| د ټکټاني عواید | ۲۶ | ۷،۳۸٦،۳۲۹ | ۳،۷۶۲،۴۰۴ |
| د ټکټاني لګښتونه | ۲۷ | (۱۲۷،۷۱٤) | (۲،۶۲۹،۶۹۳) |
| **د ټکټاني خالصه عواید** | | ۷،۲٥۸،٦۱٥ | ۱،۱۳۲،۷۱۱ |
| د فیس او کمېشن عواید | | ۲٦۹،۷۷۱ | ۳۱۰،۱۵۶ |
| د فیس او کمېشن لګښتونه | | (۱۷۹،۰۷۹) | (۱۰۲،۹۰۴) |
| **د فیس او کمېشن خالصه عواید** | | ۹۰،٦۹۲ | ۲۰۷،۲۵۲ |
| د اسعاري معاملو حقیقي خالصه ګټه | | ۱٤،٤۳٥،۹۸۸ | ۳۱۱،۶۸۵ |
| پلور ته د چمتو مالي شتمنیو د پلور له درکه خالصه زیان | | (۱،۲۸۲،٦٥۲) | (۴۶۳،۳۱۸) |
| نور عواید | ۲۸ | ۱،۰٤۹،۳۰٤ | ۱،۰۵۳،۱۸۲ |
| | | ۱٤،۲۰۲،٦٤۰ | ۹۰۱،۵۴۹ |
| **عملیاتي عواید** | | ۲۱،٥٥۱،۹٤۷ | ۲،۲۴۱،۵۱۲ |
| د کارکوونکو لګښتونه | ۲۹ | (۱،٤۸٥،۳۹٤) | (۱،۳۶۸،۳۸۴) |
| د بانکنوټونو د چاپ لګښتونه | ۱۲.۳ | (۸۱،۲۳۸) | (۵۳،۷۲۶) |
| نور لګښتونه | ۳۰ | (٦٦۱،۱٦٥) | (۲۸۱،۰۰۰) |
| د ارزښت د کموالي یا استهلاکي لګښتونه | ۱۴ او ۱۳.۲ | (۸۲،۲۷۱) | (۶۷،۴۱۹) |
| **عملیاتي خالصه عواید** | | ۱۹،۲٤۱،۸۷۹ | ۴۷۰،۹۸۳ |
| **غیر عملیاتي عواید او لګښتونه** | | | |
| د ټولیزه څنډول شویو بخششیانو له ډلې پیژندل شوي عواید | ۲۲ | ۳۹،۹۳٥ | ۳۶،۱۱۶ |
| د ټولیزه څنډول شویو بخششیانو لګښتونه | ۳۱ | (۳۹،۹۳٥) | (۳۶،۱۱۶) |
| | | - | - |
| د اسعارو د تبادلې غیر حقیقي خالصه ګټه | | ۱۰،٦۰۲،۱٤٥ | ۱۸،۸۰۶،۲۴۴ |
| **د روان کال ګټه** | | ۲۹،۸٤٤،۰۲٤ | ۱۹،۲۷۷،۲۲۷ |

له (۱) څخه تر (۳۸) شمېرې پورې پورته یاد شوي یادداښتونه د مالي راپور بنسټیزې برخې دي.

| | | |
|---|---|---|
| **سید یونس سادات** | **محمد قسیم رحیمي** | **واحدالله نوشیر** |
| **د مالي او محاسبې لوی آمر** | **د افغانستان بانک دویم مرستیال** | **د افغانستان بانک سرپرست او لومړی مرستیال** |

د افغانستان بانک

د پانګې د بدلون صورت حساب

د کال پای، د ۱۳۹۷ مالي کال د لیندۍ ۳۰ نېټه (د ۲۰۱۸ کال د ډیسمبر ۲۱)

| یادداښت | پانګه | پلور ته چمتو د مالي شتمنیو د پلور له درکه خالصه غیر حقیقي ګټه/ زیان | خمکه | سره زر | د زېرمو تولیزه ارزښت ټاکنه | د اسعارو د تبادلې له درکه زېرمې | د بیا ارزونې له درکه پاتې شوې/ نه وېشل شوې ګټه | د پانګې تولیزه نوري برخې | عمومي زېرمې | راټوله شوې ګټه | تولیزه ګټه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | د پانګې نوري برخې | | | | | | بیا ارزښت موندونکې زېرمې | | | | |
| | ( ارقام په افغاني....) | | | | | | | | | | |
| **د ۱۳۹۵ کال د مرغومي د لومړۍ نېټې بیلانس ( د ۲۰۱۶ د ډیسمبر ۲۱)** | ۱۹،۲۶۷،۵۰۰ | (۱۹۳،۵۰۷) | ۹۴۷،۲۹۲ | ۳۳،۷۲۵،۹۳۷ | ۳۴،۴۷۹،۷۲۲ | ۱۳۷ | ۱۸،۹۵۱،۸۰۳ | ۱۸،۹۵۱،۹۴۰ | ۱۹،۲۶۷،۵۰۰ | - | ۹۱،۹۶۶،۶۶۲ |
| **د محاسبې په پالیسۍ کې د بدلون اغېزې( ۳۶ یادداښت ته مراجعه کړئ)** | - | - | - | ۱۵،۸۴۳،۲۵۲ | ۱۵،۸۴۳،۲۵۲ | - | (۶،۹۸۴،۵۸۲) | (۶،۹۸۴،۵۸۲) | - | (۸،۸۵۸،۶۷۰) | - |
| **د کال پیل، د ۱۳۹۵ کال د مرغومي د لومړۍ نېټې بیلانس ( د ۲۰۱۶ د ډیسمبر ۲۱) بیا کتل شوی** | ۱۹،۲۶۷،۵۰۰ | (۱۹۳،۵۰۷) | ۹۴۷،۲۹۲ | ۴۹،۵۶۹،۱۸۹ | ۵۰،۳۲۲،۹۷۴ | ۱۳۷ | ۱۱،۹۶۷،۲۲۱ | ۱۱،۹۶۷،۳۵۸ | ۱۹،۲۶۷،۵۰۰ | (۸،۸۵۸،۶۷۰) | ۹۱،۹۶۶،۶۶۲ |
| **د کال تولیزه عواید** | | | | | | | | | | | |
| د کال ګټه | - | - | - | - | - | - | - | - | - | ۱۹،۲۷۷،۲۲۷ | ۱۹،۲۷۷،۲۲۷ |
| نور هر اړخیز عواید | | | | | | | | | | | |
| پلور ته د چمتو مالي شتمنیو له درکه غیر حقیقي ګټه | - | ۱۵۲،۶۴۴ | - | - | ۱۵۲،۶۴۴ | - | - | - | - | - | ۱۵۲،۶۴۴ |
| د سرو زرو د زېرمو د بیا ارزښت ټاکنې له درکه ګټه (بیا کتنه) | - | - | - | ۸،۸۶۷،۶۷۵ | ۸،۸۶۷،۶۷۵ | - | - | - | - | - | ۸،۸۶۷،۶۷۵ |
| نور هر اړخیزه تولیزه زیان | - | ۱۵۲،۶۴۴ | - | ۸،۸۶۷،۶۷۵ | ۹،۰۲۰،۳۱۹ | - | - | - | - | - | ۹،۰۲۰،۳۱۹ |
| **د کال تولیزه عواید** | - | ۱۵۲،۶۴۴ | - | ۸،۸۶۷،۶۷۵ | ۹،۰۲۰،۳۱۹ | - | - | - | - | ۱۹،۲۷۷،۲۲۷ | ۲۸،۲۹۷،۵۴۶ |
| **تا وېشل شوې زېرمې ته د پلورل شویو ثابته شتمنیو د ډېرېدنې لیږدونه** | - | - | (۱۰،۸۱۵) | - | (۱۰،۸۱۵) | - | - | - | - | ۱۰،۸۱۵ | - |
| **په پانګه کې په مستقیمه توګه ثبت شوې معاملې** | - | - | - | | | | | | | | |
| پانګې ته لیږدونه ( بیا کتنه) | ۴،۲۵۲،۷۵۰ | - | - | - | - | - | - | - | - | (۴،۲۵۲،۷۵۰) | - |
| عمومي زېرمو ته لیږدونه ( بیا کتنه) | - | - | - | - | - | - | - | - | ۴،۲۵۲،۷۵۰ | (۴،۲۵۲،۷۵۰) | - |
| مالیې وزارت ته لیږدونه (بیا کتنه) | | | | - | - | - | - | - | - | - | - |
| د سرو زرو د زېرمو د بیا ارزښت ټاکنې له درکه د غیر حقیقي خالصې ګټې لیږدول | - | - | - | - | - | - | ۱۰،۷۷۱،۷۲۷ | ۱۰،۷۷۱،۷۲۷ | - | (۱۰،۷۷۱،۷۲۷) | - |
| **د کال په پای کې پاتې وجه، د ۱۳۹۶ کال د لیندۍ ۳۰ نېټه ( د ۲۰۱۷ د ډیسمبر ۲۱)** | ۲۳،۵۲۰،۲۵۰ | (۴۰،۸۶۳) | ۹۳۶،۴۷۷ | ۵۸،۴۳۶،۸۶۴ | ۵۹،۳۳۲،۴۷۸ | ۱۳۷ | ۲۲،۷۳۸،۹۴۸ | ۲۲،۷۳۹،۰۸۵ | ۲۳،۵۲۰،۲۵۰ | (۸،۸۴۷،۸۵۵) | ۱۲۰،۲۶۴،۲۰۸ |
| **د کال پیل، د ۱۳۹۶ کال د مرغومي د لومړۍ نېټې بیلانس ( د ۲۰۱۷ د ډیسمبر ۲۱)** | ۲۳،۵۲۰،۲۵۰ | (٤٠،٨٦٣) | ٩٣٦،٤٧٧ | ٥٨،٤٣٦،٨٦٤ | ٥٩،٣٣٢،٤٧٨ | ١٣٧ | ٢٢،٧٣٨،٩٤٨ | ٢٢،٧٣٩،٠٨٥ | ٢٣،٥٢٠،٢٥٠ | (٨،٨٤٧،٨٥٥) | ١٢٠،٢٦٤،٢٠٨ |
| **د کال تولیزه عواید** | | | | | | | | | | | |
| د کال ګټه | - | - | - | | - | - | - | - | - | ٢٩،٨٤٤،٠٢٤ | ٢٩،٨٤٤،٠٢٤ |
| نور هر اړخیزه عواید | | | | | | | | | | | |
| پلور ته د چمتو مالي شتمنیو له درکه غیر حقیقي خالصه ګټه | - | ١،١٤٥،٠٢٠ | - | - | ١،١٤٥،٠٢٠ | - | - | - | - | - | ١،١٤٥،٠٢٠ |
| پلور ته د چمتو مالي شتمنیو د تبادلې له درکه ګټه | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - |
| د سرو زرو د بیا ارزښت موندنې له درکه زیان | - | - | - | ٤،٥١٠،٠٢٠ | ٤،٥١٠،٠٢٠ | - | - | - | - | - | ٤،٥١٠،٠٢٠ |
| تولیزه نور هر اړخیزه عواید | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - |
| د کال تولیزه هر اړخیزه ګټه/ زیان | - | ١،١٤٥،٠٢٠ | - | ٤،٥١٠،٠٢٠ | ٥،٦٥٥،٠٤٠ | - | - | - | - | - | ٥،٦٥٥،٠٤٠ |
| **تا وېشل شوې زېرمې ته د پلورل شویو ثابته شتمنیو د ډېرېدنې لیږدونه** | - | ١،١٤٥،٠٢٠ | - | ٤،٥١٠،٠٢٠ | ٥،٦٥٥،٠٤٠ | - | - | - | - | ٢٩،٨٤٤،٠٢٤ | ٣٥،٤٩٩،٠٦٤ |
| **په پانګه کې په مستقیمه توګه ثبت شوې معاملې** | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - |
| **په پانګه کې په مستقیمه توګه ثبت شوې معاملې** | | | | | | | | | | | |
| پانګې ته لیږدونه | ٧٠١،٣٩٩ | - | - | - | - | - | - | - | - | (٧٠١،٣٩٩) | - |
| عمومي زېرمو ته لیږدونه | - | - | - | - | - | - | - | - | ٧٠١،٣٩٩ | (٧٠١،٣٩٩) | - |
| مالیې وزارت ته لیږدونه | - | - | - | - | - | - | - | - | - | (٨،٩٩١،٢٢٦) | (٨،٩٩١،٢٢٦) |
| د بیا ارزښت ټاکنې له درکه د غیر حقیقي ګټې لیږدول | - | - | - | - | - | - | ١٠،٦٠٢،١٤٥ | ١٠،٦٠٢،١٤٥ | - | (١٠،٦٠٢،١٤٥) | - |
| **د کال په پای کې پاتې وجه، د ۱۳۹۶ کال د لیندۍ ۳۰ نېټه ( د ۲۰۱۷ د ډیسمبر ۲۱)** | ٢٤،٢٢١،٦٤٩ | ١،١٠٤،١٥٧ | ٩٣٦،٤٧٧ | ٦٢،٩٤٦،٨٨٤ | ٦٤،٩٨٧،٥١٨ | ١٣٧ | ٣٣،٣٤١،٠٩٣ | ٣٣،٣٤١،٢٣٠ | ٢٤،٢٢١،٦٤٩ | - | ١٤٦،٧٧٢،٠٤٦ |

| | | |
|---|---|---|
| **سید یونس سادات** | **محمد قسیم رحیمي** | **واحدالله نوشیر** |
| **د مالي او محاسبې لوی آمر** | **د افغانستان بانک دوېم مرستیال** | **د افغانستان بانک سرپرست او لومړی مرستیال** |

له (۱) څخه تر (۳۸) شمېرې پورې پورته یاد شوې یادداښتونه د مالي راپور بنسټیزې برخې دي.

# د بانکي عملیاتو لوی آمریت

## د بانکي عملیاتو لوی آمریت

د افغانستان بانک د قانون پر بنسټ، دا بانک د دولت او نورو بانکونو د بانکدار په توګه عمل کوي. په همدې بنسټ د بانکي عملیاتو لوی آمریت د افغانستان بانک په اړانه کې د دولتي ادارو، سوداګریزو بانکونو او د افغانستان بانک کارکوونکو لپاره بانکي خدمتونه وړاندې کوي.

دا آمریت د خپل کاري پلان له مخې د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې توانیدلی دی څو خپلې ټاکل شوې موخې ترلاسه کړي چې په لاندې ډول د دې آمریت له کړنو څخه په لنډه توګه یادونه کوو:

**الف. د نغدو پیسو او د غیر نغدي معاملو اداره کول**

**۱. د افغانۍ د نقدینه ګۍ تأمینول**

د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د نماینده ګیو د نقدینګۍ او سیالیت د ساتلو، د دولت د پولي لګښتونو تأمینولو، د سوداګریزو بانکونو د نقدینګۍ او د ولسي تړون پروژو ته د ورکړې په موخه ۱۰.۵ میلیارده افغانۍ د افغانستان د امنیتي ادارو په مرسته د ځمکې او هوا له لارې ولایتونو ته لیږل شوي دي. همدارنګه د مرکز د نقدینګۍ د تأمینولو او د نماینده ګیو د پولي اندول (محدودې) د ساتنې په موخه ۲۹.۷ میلیارده افغانۍ، ۱.۵ میلیونه یورو او ۱۴۰.۵ میلیونه امریکایي ډالره د نماینده ګیو زیاتې پیسې په بریالیتوب سره له ولایتونو څخه مرکز ته استولې او په مرکزي خزانه کې شامل شوي دي. په ورته وخت کې د امنیتي شرایطو، د هېواد یو شمېر ولایتونو ته د ملکي او نظامي الوتنو د نه شتون او د فزیکي پیسو د لیږد په برخه کې د یو لړ نورو ستونزو په پام کې نیولو سره هڅه شوې څو هیڅ یو نماینده ګۍ په تیر یو کال کې د فزیکي پیسو له کمښت سره مخ نه شي چې دا چاره په بریالیتوب سره عملي شوې او نقدینه ګۍ له اړتیا سره سم په خپل وخت تأمین شوې ده.

**۲. د اسعارو د نقدینګۍ تأمینول**

د سوداګرۍ په بیلانس کې د انډول د نه شتون په پام کې نیولو سره زمونږ هېواد د بهرنۍ سوداګرۍ د بیلانس د کسر تر اغیز لاندې راغلی دی چې دا ډول حالت د بهرنیو اسعارو د نقدینه ګۍ مدیریت له ستونزو سره مخ کوي. د اسعارو د نقدینه ګۍ مدیریت پر وړاندې له شته ستونزو سربیره، د افغانستان بانک توانیدلی څو په بازار کې د اسعارو، په تیره بیا د امریکایي ډالرو کسر مدیریت کړي.

**۳. د زړو بانکنوټونو د راټولولو او د له منځه وړلو پروسه**

د یو منظم او ځواب ویونکي پولي سیستم درلودو او په بازار کې د زړو بانکنوټونو د زیاتوالي د مخنیوي په موخه د افغانستان بانک په ټول هېواد کې د ۴۹ نماینده ګیو او د سوداګریزو بانکونو په همکارۍ زاړه بانکنوټونه د اړوندې لایحې په پام کې نیولو سره راټولې او بدلې کړي او وروسته یې راټولې شوې زړې پیسې د ملي شورا د استازو په ګډون د دولتي ادارو له استازو څخه د جوړ شوي پلاوي تر څار لاندې په مرکز او اړوندو زونونو کې له منځه وړي دي چې په ۱۳۹۷ کال کې په ټولیزه توګه ۱۱.۳ میلیارده زړې افغانۍ له منځه تللي دي چې په دې کار سره تر یو بریده په بازار کې د زړو بانکنوټونو له شتون څخه مخنیوی شوی دی.

**۴. د بانکي خدمتونو وړاندې کول**

د بانکي عملیاتو لوی آمریت په چټکه، خوندي او شفافه ډول د بانکي خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې هر ډول هڅې او کوښښونه کړي دي او په ۱۳۹۷ مالي کال کې د دولت عواید په منظمه توګه په اړوندو حسابونو کې شامل شوي دي او د دولت لګښتونه او پولي اړتیاوې په خپل وخت پوره شوي چې یاد شوي عملیاتي اجراأت په لاندې دوه برخو کې واضح کیږي.

- په ۱۳۹۷ مالي کال کې سوداګریزو بانکونو، د ولسي تړون پروګرام، د افغانستان بانک او دولتي ادارو کارکوونکو ته ۳۹۰ بانکي حسابونه پرانېستل شوي او د مالیې وزارت او نورو پیرودونکو لپاره ۹،۶۰۰ چک بوکونه وېشل شوي دي.
- په مرکزي دفتر کې د دولت، بانکونو او نورو ادارو په ټولیزه توګه ۱۷۰،۰۰۰ د افغانۍ او اسعارو معاملې پروسس شوې دي.

(۲۳) جدول: د دولت، بانکونو او نورو ادارو د افغانۍ او اسعاري معاملو شمېر او مبلغونه ښکاره کوي

| د معاملې ډول | د اسعارو ډول | شمېر | ارزښت (ارقام په میلیارد) |
| --- | --- | --- | --- |
| انتقالي معاملې | افغانۍ | ۶۶،۵۸۶ | ۵۲۰ |
| | ډالري | ۳۶،۹۸۰ | ۶۵۱.۸ |
| | یورو | ۵۷۶ | ۱۰.۹ |
| نغدي معاملې | افغانۍ | ۶۴،۵۰۱ | ۱۹۲.۱ |
| | ډالري | ۲،۰۰۷ | ۳.۱ |
| | یورو | ۳۲۷ | ۰.۳۹۵ |

**ب. اداري او پرمختیایي برخه**

د بانکي عملیاتو لوی آمریت د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې په اداري او پرمختیایي برخه کې یو لړ کړنې ترسره کړي دي چې په لنډه توګه وړاندې کېږي:

۱- د بانکي عملیاتو لوی آمریت د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې داخلي شعبو، وزارتونو او ټولو بهرنیو ادارو ته چې د افغانستان بانک سره کاري اړیکه لري، ۸،۷۰۰ وارده او صادره لیکونه اجراء کړي دي او ترځنګ یې د طرحه شوي پلان او پر خپل وخت د ترسره شویو اجرآتو پر بنسټ کاري راپور ترتیب کړی او اړوندو برخو ته یې لیږلی دی.

۲- د بریښنایي اداینو سیستم د پراختیا طرحه

د افغانستان بانک په مالي سکتور کې د اداینو سیستم د بنسټیز رول ته پام سره د یاد سیستم د لا پراختیا او پرمختګ په برخه کې کوټلي ګامونه پورته کړي دي څو دا سیستم په نړیوالو معیارونو عیار کړي او له دې لارې د بانکي سکتور د شتمنیو په لیږد کې لا ډېره اسانتیا، چټکتیا او روڼتیا رامنځته شي. په همدې موخه په ۱۳۹۷ کال کې د اړوندو ادارو او د افغانستان بانک په ګډو هلو ځلو له اوږدو بحثونو وروسته د بریښنایي ادایني سیستم د پراختیا او عملي میکانیزم طرحه چمتو او د اقتصاد عالي شورا ته وړاندې شوه چې په پایله کې یاده طرحه او میکانیزم د یادې شورا لخوا تائید شوه.

باید وویل شي چې یاد میکانیزم د لاندې موخو د ترلاسه کولو لپاره ترتیب شوی دی:

- د پیرودونکو او په تیره بیا د سوداګرو لپاره د اغیزناکه، ارزانه، ډاډمنو او روڼو بانکي خدمتونو وړاندې کول
- د مالیاتو په ورکړه او نورو سوداګریزو معاملو کې د اسانتیا او چټکتیا رامنځته کول
- د فزیکي پیسو په لیږد رالیږد کې د شته خطرونو کمول
- له جغرافیایي محدودیت پرته د دولت د عوایدو راټولول
- د خلکو ترمنځ د بانکدارۍ د کلتور پراختیا او د بانکي نظام د خدمتونو له محصولاتو او ګټو سره اشنا کیدل
- د غیر نغدي معاملو دودول او د افغانۍ بانکنوټونو د غیر قانوني استهلاک مخنیوی

د یادې طرحې د عملي کولو میکانیزم په درې پړاوونو (لومړی پړاو- ۱۳۹۷ د سلواغې په لومړۍ نیټه، کابل؛ دویم پړاو- د کب په لومړۍ نیټه د ښېړ زونونو په مرکزونو او دریم پړاو- د ۱۳۹۸ کال د ورې په لومړۍ نیټه د هېواد په پاتې ولایتونو) کې تطبیق شوې چې د یادې طرحې پر بنسټ د دولت عواید چې له پنځوس زره افغانۍ څخه زیات دي، د سوداګریزو بانکونو له لورې راټول او په د افغانستان بانک کې د دولت بانکي حسابونو ته لیږدول کېږي. د دې پروسې په پلي کولو سره د نغدو پیسو د مدیریت او د هغې د ژر زړیدو په برخه کې مثبت بدلونونه، د دولت او د عوایدو د ورکوونکو لپاره د عوایدو په راټولونه کې اسانتیا او د فزیکي پیسو په لیږد رالیږد کې د روڼتیا ډاډ او د خطرونو کموالی رامنځ ته شوی دی.

۳- د افغانۍ بانکنوټونو د بیا چاپولو په موخه اقدامات

د بانکنوټونو د زړیدو او د له منځه وړلو او د بازار تقاضا او اړتیا

په پام کې نیولو سره اړتیا لیدل کېږي چې د افغانی بانکنوټونه بیا چاپ او په اقتصادي ګردښت کې راشي چې په ۱۳۹۷ مالي کال کې د نویو بانکنوټونو د چاپولو په برخه کې لاندې اقدامات ترسره شوي دي.

- د بانکنوټونو د ځانګړتیاوو ترتیبول
- د اداري پړاوونو ترسره کول او د افغانستان بانک د عامل پلاوي او د افغانستان د ملي شورا له لوري تائیدول
- د تدارکاتو آمریت او د تدارکاتو ملي اداري ته د ځانګړتیاوو لیږل

۴- د کمېشنونو د لایحې نوي کول

د وخت د اړتیاوو پر بنسټ، د اړوندو آمریتونو په مرسته سوداګریزو بانکونو سره د همکارۍ او اسانتیا د رامنځته کولو، په هېواد کې د بانکي سکتور د پیاوړتیا او د شتمنۍ د لېږدو د لګښت د راکمولو په موخه د افغانستان بانک د کمیشنونو لایحه نوې او د عامل پلاوي له تائید وروسته ټولو اړونده برخو ته لیږل شوې.

۵- د عملیاتي کړنلارې نوي کول

د افغانستان بانک د دولت د بانکدار او د سوداګریزو بانکونو د معامله لرونکي بانک په توګه د یو لړ چارو لکه؛ د دولتي حسابونو د ساتلو، د مالیې وزارت د جواز پر بنسټ د دولت او دولتي ادارو د امانتونو د اخیستلو او منلو، ادائینو او په هېواد کې د مېشته دولتي ادارو او سوداګریزو بانکونو ته د داسې نورو اړوندو مالي خدمتونو د وړاندې کولو اسانتیاوې برابروي چې د یادو چارو د لاښه ترسره کولو په موخه د عملیاتي کړنلارو شتون خورا اړین ګڼل کېږي. دا کړنلاره له یوه اړخه د اداري د کاري سیستم د لارښود په توګه کارول کېږي او له بل اړخه د کارکوونکو د روزنې لپاره هم اغیزناکه ګڼل کېږي. له همدې امله، د بانکي عملیاتو کړنلاره د لومړي ځل لپاره په ۱۳۹۵ کال کې ترتیب او چاپ شوې چې په عملیاتي طی مراحلو او تشکیلاتي جوړښت کې د یو لړ بدلونونو په پام کې نیولو سره دا کړنلاره نوې د بیا کتنې لاندې ونیول شوه چې د هغه د بشپړیدنې لپاره یاد دستورالعمل په کړنلارې تعدیل او د عامل پلاوي د تصویب لپاره چمتو دی.

۶- د معاملې وړ سندونو د قانون نوي کول

د معاملې وړ سندونو قانون په بانکي نظام کې یو له تر ټولو مهمو قوانینو څخه ګڼل کېږي چې د هغه په رڼا کې یو لړ سوداګریز سندونه لکه؛ چک، برات او حجت ترتیب او د معاملې وړ ګرځي. دا قانون د لومړي ځل لپاره په ۱۳۸۷ هجري لمریز کال کې چاپ شوی او د وخت له اړتیاوو او مالي پرمختیاوو سره سم اړتیا لیدل کېږي څو تر بیاکتنې لاندې ونیول شي، په همدې موخه د بانکي عملیاتو د لوی آمریت لخوا په یاد قانون کې یو لړ تعدیلات او بدلونونه راغلي دي چې په نږدې وختونو کې به بشپړ او له نهایي کیدو وروسته د نورو کتنو لپاره اړونده برخو ته لیږدول کېږي.

# اداره او پراختیا

# اداره او پراختیا

### د ټولو ناظر اداره

داخلي پلټنه (تفتیش) د اداري د کړنو د څرنګوالي د پیاوړتیا، د داخلي کنټرول د سیستم د پرمختیا او پیاوړتیا، د لاربشودنې د خطرونو له مدیریت سره مرستې او په داخلي کچه او له اداري څخه بهر په راپور ورکونه کې له روڼتیا څخه د ډاډ ترلاسه کولو لپاره بنسټیزه اړتیا ګڼل کیږي او د دې اداري د کار ارزښت هغه په خپلواکۍ او بې پرېتوب پورې تړاو لري.


د ټولو ناظر اداره د افغانستان بانک د داخلي څېړنې د اداري په توګه د داخلي کنټرول یوه برخه ده چې په خپلواکه او بې پرې توګه د افغانستان بانک د لایحو، پالیسیو، نافذه قوانینو او مقرراتو د سم تطبیق او رعایتولو په اړه د نظر څرګندول او ارزول او د بانک د عالي شورا او عامل پلاوي د پرېکړو د عملي کولو او پلي کولو څارل د دې برخې له دندو څخه ګڼل کیږي. د ټولو ناظر اداري موخې او فعالیت ساحه د داخلي پلټنې د منشور (Internal Audit Charter) او د افغانستان بانک د قانون د یو ویشتمې مادې پر بنسټ تنظیم او پلي کیږي.

د ټولو ناظر اداره د ۴۵ نفري تشکیل په درلودلو سره د ۱۳۹۷ مالي کال د پلټنې پلان او غیر پلان شوي موارد په یاده کاري ساحه کې اجراء او پلي کړي دي چې راپور یې په لاندې توګه وړاندې کیږي.

### د ۱۳۹۷ مالي کال د پلان د تطبیق څرنګوالی

د ۱۳۹۷ مالي کال د پلټنې د پلان پربنسټ د بانک د مرکزي دفتر د شعبو، ښاري څانګو، اوو واړو زونونو او ولایتي نمایندګیو په ګډون له ۷۲ پلان شویو ساحو له ډلې د ۵۰ ساحو پلټنه پیل شوې او له اداري پلوه د خپلو موندنو د پایلو راپور یې د افغانستان بانک د لوی رئیس او له وظیفوي پلوه د داخلي پلټنې کمېټې ته سپارلی دی. د یادونې وړ ده چې پاتې ۲۲ ساحو ته د نه لاسرسي لاملونه نا امني او د لارې په اوږدو کې امنیتي ستونزې په ګوته شوي دي.

(۳۰) ګراف پلټل شوې او نا پلټل شوې ساحې ښکاره کوي




د یو لړ اسانتیاوو نه شتون لکه؛ ځینو ولایتونو ته د سوداګریزو الوتکو د الوتنو نه ترسره کېدل، د بیلابیلو دلایلو پر بنسټ د مهمو شعبو د پلټنې ځنډېدل، د نا امنۍ زیاتوالی او د لارو په اوږدو کې نا امنیه ځینو ساحو کې د پلټنې د نه ترسره کیدو ستر لاملونه په ګوته شوي دي. د زیاتو نا امنو ساحو پلټنه په ۱۳۹۷ مالي کال کې په غیر حضوري ډول د ''خپله کنټرولول''یا (Control Self Assessment) د تصویب شوې کړنلارې له مخې ترسره شوې او راپورونه یې د افغانستان بانک د رهبرۍ پلاوي ته سپارل شوي دي.

### د ځانګړو موضوعاتو د پلټنې (تفتیش) څرنګوالی


د هغو ځانګړو موضوعاتو شمېر چې په ۱۳۹۷ مالي کال کې د دې اداري د پلټنې ټیم ته سپارل شوي دي، ۱۸ مواردو ته رسیږي. د ترسره شویو پلټنو د لومړنیو موندنو او پایلو جلا راپورونه له اداري پلوه د افغانستان بانک عامل پلاوي او له وظیفوي پلوه د داخلي پلټنې کمېټې ته وړاندې شوي دي.

**د کیفیت د د ډاډمنتیا د برخې کړنې (اجراات)**

لکه څنګه چې د پلټنې د ټیمونو موندنې د کتنو (مشاهداتو) تر سرلیک لاندې د هغه د خطرونو د درجه بندۍ (لوړ، متوسط او ټیټ) په پام کې نیولو سره او اصلاحي سپارښتنې په جلا راپورونو کې د افغانستان بانک د لوی ریاست مقام ته لیږل کیږي؛ د دې اداري د سپارښتنو د پلي کیدو په برخه کې د ریاست د مقام د ملاحظې او لارښوونې وروسته یې یو نقل د تعقیب په موخه د کیفیت د تضمین/ډاډمنتیا ټیم ته لیږل کیږي. د ټاکل شوي نیټې وروسته د دې سپارښتنو د پلي کیدو او یا نه پلي کیدو د څرنګوالي په اړه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه د کیفیت د تضمین مدیریت د دې سپارښتنو تعقیبي پلټنه پیلوي. هغه سپارښتنې چې د یو لړ معقولو دلایلو له امله نه دي پلي شوي، د تعقیبي ټیم له لورې ورته د دویم ځل لپاره نوی وخت ټاکل کیږي. په هغه صورت کې چې د پام وړ کتنه ترسره شوې نه وي، د راتلونکې پلټنې ټیم لخوا ورته لومړیتوب ورکول کیږي.

د هغه ۵۰ ساحو له ډلې چې په ۱۳۹۷ مالي کال کې پلټل شوي دي، ۳۲ ساحې چې ټاکلې موده یې پای ته رسیدلې ده د کیفیت د تضمین د مدیریت له لورې تعقیب شوي دي او ۱۸ ساحې د ټاکلې نیټې له پای ته رسیدو وروسته د تعقیب لاندې دي.

(۳۱ ) ګراف د پلټل شویو ساحو تعقیبونه ښکاره کوي




همدا ډول، د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د بانک د عالي شورا ۵۱ تصویبونه او د عامل پلاوي ۴۰۰ تصویبونه د کیفیت د تضمین مدیریت له لورې تعقیب او د هغه د پلي کیدو څرنګوالي راپورونه په ربعواره توګه د داخلي پلټنې کمېټې او د بانک عالي شورا ته وړاندې شوي دي.

**د ټولو ناظر اداري د کارکوونکو د ظرفیت لوړول**

له نېکه مرغه، د داخلي پلټونکي د تائید شوي پروګرام (Certified Internal Auditor) د بشپړولو په برخه کې د پیسو د نړیوال صندوق یوه سپارښتنه مخکې پیل شوې او د ټولو ناظر اداري ۱۶ تنو کارکوونکو د دې پروګرام د لومړۍ برخې روزنیز ټولګۍ (Coaching Classes) بشپړ کړې چې د ۱۳۹۷ کال په وروستیو کې به په انلاین ډول د یادې برخې ازموینه واخیستل شي.

**د ریاست د دفتر لوی آمریت**

د ریاست د دفتر لوی آمریت چې په دوو برخو (خپرونو، اړیکو او عامه پوهاوی/ سندونو او پروتوکول) کې فعالیت کوي، د افغانستان بانک د اړیکو یوازینی مسؤله اداره ده. څکه چې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د ادارو د کړنو په اړه معلوماتو ته لاسرسی د هر وګړي حق دی، نو له همدې امله دې آمریت د افغانستان بانک د کړنو په اړه د کره، پر خپل وخت او رڼو معلوماتو په خپرولو او منعکس کولو کې تل هڅه کړې ده.

دې آمریت په ۱۳۹۷ مالي کال کې د چاپي خپرونو، د افغانستان بانک د ویب پاڼې، ټولنیزو شبکو او په ښوونځیو او پوهنتونونو کې د حضوري عامه پوهاوی د پروګرامونو له لارې د افغانستان بانک کړنې او لاسته راوړنې منعکس کړي دي چې لنډیز یې د خپرونو، اړیکو، عامه پوهاوی او ژباړې د برخو په تفکیک سره لاندې وړاندې کیږي:

**خپرونې**

د دې آمریت د خپرونو مدیریت تل هڅه کړې ده څو په بېلابېلو برخو کې د افغانستان بانک کړنې، لاسته راوړنې او پیغام د

افغانستان بانک د میاشتنی (مجلې)، درې میاشتنیو بولټنونو، کلنی راپورونو او نورو خپرونو له لارې د عامه پوهاوی په موخه او اکاډمیکې ټولنې، زده کړیالانو او رسنیو ته خپاره کړي.

دې مدیریت د افغانستان بانک د کړنو د منعکس کولو ترڅنګ د مجلې، انځوریزو رسالو او جزوو له لارې د افغانی د دودیدو او د بانکنوټونو د ساتلو په برخه کې د تبلیغاتو په خپرولو سره عامه ذهنونه روښانه کړي دي. د خپرونو مدیریت په ۱۳۹۷ مالي کال کې توانیدلی څو د بانک ۱۲ ګڼې میاشتنی چې اقتصادي مقالې او د افغانستان بانک د رسمي غونډو راپورونه رانغاړي د هېواد په دوو رسمي ژبو (پښتو او دري) خپرې او د مینه والو په واک کې یې ورکړي دي.

د همدې کال په اوږدو کې د ۱۳۹۶ مالي کال کلنی راپور چې د پولي سیاست، بازار عملیات، ادواینو سیستم، د افغانستان د بانکي نظام، د افغان امانتونو د بیمې، د افغانستان د معاملو او مالي راپورونو د څېړنې د مرکز، د عامه اعتبارونو د ثبت، د نړی د اقتصاد او اداري او پراختیا د کړنو راپورونه رانغاړي، په دریو ژبو، پښتو، دري او انګلیسي چمتو کړی او د بانک د سیاستونو د ذینفعه شریکانو په واک کې ورکړل شوی دی.

دې مدیریت د افغانی د دودیدو له طرحې او تبلیغاتو سره سم د افغانستان بانک د ۱۳۹۷ مالي کال کلیزه په دیوالي او سرمیزي بڼه د تبلیغاتي وسیلې په توګه جوړه او خپره کړې ده چې د افغانی د دودیدو او د افغانی بانکنوټونو د سمې کارونې او ساتلو اعلانونه رانغاړي.

په ورته وخت کې، د دې آمریت د خپرونو مدیریت د ۱۳۹۶ مالي کال اقتصادي او احصائیوي بولټن چې د هېواد پولي او مالي مسایل او همدا ډول د نړی اقتصادي موضوعات رانغاړي، په پښتو او دري ژبو جوړ او خپور کړی دی.

د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د افغانستان بانک ټولنیزو رسنیو، ویب پاڼو او مجلې ته د دې بانک د کنفرانسونو، ورکشاپونو او نورو رسمي غونډو د خبري راپورونو جوړول؛ د کنفرانسونو، د زرو پیسو د سوځولو د پروسو، عملیاتي او اداري غونډو او په مرکز او ولایتونو کې د افغانستان بانک د نورو رسمي غونډو په ګډون د شاوخوا ۱۰۰ غونډو انځور اخیستل؛ د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د خپرونو مدیریت په نشراتي آرشیف کې د افغانستان بانک د رسمي غونډو، مجلو، بولټنونو او کلني راپورونو د ویډیویي آرشیف جوړول؛ د خلکو د مرکو د ویډیویي کلیپونو جوړول او همدا ډول د افغانی د دودیدو او ساتلو په موخه ټولنیزو شبکو لپاره د انځورونو برابرول؛ د افغانستان د اسلامي جمهوریت ادارو، رسنیو، د افغانستان بانک اوو واړو زونونو او داسې نورو ته د خپرونو لیږدول د دې مدیریت له بنسټیزو کړنو څخه ګڼل کیږي.

## اړیکې

معلوماتو ته د لاسرسی د اصل په پام کې نیولو سره، د ریاست د دفتر لوی آمریت د اړیکو مدیریت د ۱۳۹۷ مالی کال په اوږدو کې د ویب پاڼو، ټولنیزو شبکو لکه؛ فیسبوک، ټویټر او یوټیوب او همدا ډول د کنفرانسونو، سیمینارونو او ورکشاپونو د جوړیدو له لارې د افغانستان بانک د عمومي موخو، دندو، سیاستونو په خپرولو کې هڅه کړې ده.

دلته د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د افغانستان بانک د ریاست د دفتر د لوی آمریت د اړیکو د مدیریت کړنې په لنډه توګه وړاندې کیږي:

دې مدیریت د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د هېواد د بانکي نظام او د پولي وضعیت اړوند د افغانستان بانک د مشرتابه پلاوي د بېلابېلو پریکړو په اړه ۷ خبري کنفرانسونه او د بانک د ټولیزو موخو، دندو او سیاستونو په اړه د خلکو د پوهاوی لپاره لږ تر لږه ۷ روزنیز ورکشاپونه او سیمینارونه په لاره اچولي دي. سربېره پر

دي، دې مدیریت د عامه پوهاوي په موخه د ویب پاڼې او ټولنیزو شبکو له لارې د رهبرۍ پلاوي د شاوخوا ۷۰ عملیاتي او اداري غونډو په ګډون د عالي شورا د ۴ غونډو راپوررونه خپاره کړي دی. دې مدیریت یوازې د داخلي چینلونو له لارې د خبرپاڼو په خپرولو بسنه کړې نه ده، بلکې یادې خبرپاڼې یې د رسنیو د پوهاوي لپاره د بریښنالیک له لارې هم رسنیو ته لېږلې دي. د افغانستان بانک د مشرتابه پلاوي د ۱۰ مناسبتي پیغامونو، د افغانستان بانک د ارتباطي مجراء له لارې د افغانستان بانک د نشراتي موادو (مجلې، کلني راپور او بولټنونو) خپرول او د بانک انفو ته د رالیږل شویو بریښنالیکونو کتل دې مدیریت د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې ترسره کړي دي.

د افغانۍ د دودیدو او اسعارو د نرخ د ګراف د ۲۰۰ پیغامونو خپرول، د ۴ خبرتیاوو او انځوریزو اعلانونو او ۴ غږیزو اعلانونو جوړول او په مرکز او ولایتونو کې د شاوخوا ۶۰ انځوریزو او غږیزو رسنیو له لارې د یادو اعلانونو خپرول، د افغانستان بانک د آمریتونو په مرسته د هېوادوالو کابو ۳۰۰ اړیکو او پیغامونو ته لاسرسي، هره ورځ له۱۰۰ څخه زیاتو رسنیو ته د اسعارو د نرخونو لیږدول، د افغانستان بانک د عامل پلاوي او ویاند د شاوخوا ۵۰ انځوریزو او نږدې ۳۰ راډیويي مرکو په لاره اچول د دې مدیریت له نورو دندو څخه ګڼل کیږي.

**عامه پوهاوی**

د ۱۳۹۷ مالي کال په وروستیو کې د ریاست د دفتر د لوی آمریت په اډانه کې د عامه پوهاوي مدیریت جوړ شو. د دې مدیریت بنسټیزه موخه د افغانستان بانک د بنسټیزو دندو په اړه معلوماتو ته د خلکو د لاسرسي تأمینول دي چې له دې لارې د بانک د پالیسیو اعتبار او د بانک په ټولیزه سیاستونو باندې د خلکو رضایت او باورمندي زیاتیږي.

د دې آمریت د عامه پوهاوي مدیریت د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د افغانستان بانک ذینفعه شریکانو او خلکو ته په بېلابېلو طریقو معلوماتو ته د لاسرسي او د عامه پوهاوي زمینه برابره کړې ده چې په لاندې توګه وړاندې کیږي:

دې مدیریت د رسنیو د اقتصادي برخو ۴۰ تنو راپور ورکوونکو لپاره د عامه پوهاوي یو ورځنی او د بانک د ټولیزو موخو، دندو او سیاستونو په اړه د څلورو پوهنتونونو ۸۰۰ زده کړیالانو ته څلور ورکشاپونه په لاره اچولي دي. د افغانستان بانک د پولي سیاست په اړه د پوهنتونونو له استادانو سره بحث او خبرې اترې یو بل پروګرام دی چې د همدې کال په اوږدو کې د یاد مدیریت له لورې په لاره اچول شوی دی. په ورته وخت کې د کابل ښار په ښوونځیو کې د زده کوونکو د ذهنونو د روښانه کولو او حضوري پوهاوي او د افغانۍ د دودیدو په موخه ورته د هڅوونکو تبلیغاتي موادو وېشنه، په مرکز او ولایتونو کې د ۱۶۰ بلبورډونو لګول، د هېواد د خپلواکۍ د ۱۰۰ مې کلیزې په مناسبت د ۴۰ زره تبلیغاتي موادو وېشل، په راکړو ورکړو کې د افغانیو د کارونې لپاره د خلکو د هڅونې په موخه په روغتونونو، مسجدونو، مارکیټونو، درملتونونو او نورو هغه ځایونو کې چې د خلکو تګ راتګ ورته زیات وي د تبلیغاتي موادو وېشل، د لاسته راوړنو او په ټولنیزو شبکو کې د افغانۍ د دودیدو په اړه د معلوماتو برابرول او خپرول هغه موارد دي چې یادې برخې د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې ترسره کړي دي.

د پورته یادو شویو مواردو ترڅنګ، د عامه پوهاوي مدیریت د افغانستان بانک د بنسټیزې موخې (د بیو ټیکاو) په اړه د انیمیشن فلم جوړ کړی دی او د ټولنیزو شبکو او یو شمېر ښوونځیو له لارې یې یاد فلم خپور کړی دی.

**د ژباړې بورډ**

د دې آمریت د ژباړې بورډ له یوې ژبې څخه بلې ژبې ته د نشراتي موادو، قوانینو، مقررو او د بانک د نورو مهمو سندونو د

ژباړلو دنده په غاړه لري. د ریاست د دفتر لوی آمریت د دې لپاره چې د افغانستان بانک موخې، سیاستونه، دندې، کړنې او لاسته راوړنې یې خلکو او د افغانستان بانک ذینفع شریکانو ته په ښه توګه رسولي وي، هڅه کړې ده څو نشراتي او ارتباطي چارې په ملي ژبو (پښتو او دري) او انګلیسي ژبه وژباړي او د عامه پوهاوی لپاره یې چاپ او خپرې کړي. د دې آمریت د ژباړې بورډ د نشراتي او ارتباطي موادو (مجلې، کلنۍ راپور، درې میاشتنیو اقتصادي او احصائیوي بولټنونو، ټولنیزې شبکو او ویب پاڼو) له لارې د افغانستان بانک د اطلاعاتو او معلوماتو د خپرولو په برخه کې یو ښه همکار دی.

دې بورډ په ۱۳۹۷ کال کې د پورته ذکر شویو چارو د ترسره کولو ترڅنګ یو شمېر پالیسۍ، قوانین، مقررې، کړنلارې، تړون لیکونه او داسې نور کلیدی او مهم سندونه هم ژباړلي دي.

**حقوقي مشاوريت**

د حقوقي مشاوریت اداره چې د افغانستان بانک د داخلي تقنیني سندونو، مقررو، پالیسیو او کړنلارو د طرحه کولو، تسوید، تعدیل او طی مراحلو مسوولیت پر غاړه لري. د حقوقي مشاوریت اداره د خپلو اړتیاوو او طرحه شوي کاري پلان پر بنسټ د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د تقنیني سندونو د طرحې، تدوین او طی مراحلو او د دې ادارې د اړوندو حقوقي چارو په برخو کې مثبت ګامونه پورته کړي دي.

د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د حقوقي مشارویت د کړنو او لاسته راوړنو راپور په لاندې ډول وړاندې کیږي:

۱. د افغانستان بانک په قانون کې د تعدیلاتو د طرحې تدوینول او د افغانستان بانک او نورو اړوندو ادارو لخوا د هغه د تقنیني طی مراحلو پړاو نهایي شوی او د تصویب لپاره ملي شورا ته استول شوی دی.

۲. په بانکي معاملو کې د غیر منقولو مالونو د رهن د قانون د تعدیلاتو د طرحې تدوینول او د افغانستان بانک عالي شورا ته د هغه د وړاندې کولو په موخه د عامل پلاوي لخوا د (۴۱۷) ګڼې ۱۳۹۷/۱۱/۲۱ نېټې تصویب له مخې د هغه منظوري.

۳. د افغانستان بانک د عالي شورا د ۱۸ ګڼې، ۱۳۹۶/۱۰/۱۶ نېټې تصویب پر بنسټ د شتمنیو د ډله بندۍ او د خسارې د جبران د تشکیل د مقررې د تعدیلاتو د طرحې تدینول.

۴. د صرافانو او د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د کړنو د تنظیم مقررې د تعدیلاتو د طرحې تدوینول چې د افغانستان بانک د عالي شورا د ۱۹ ګڼې ۱۳۹۶/۱۰/۱۶ نېټې تصویب له مخې منظور شوې ده.

۵. د صرافانو او د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د کړنو د تنظیم مقررې د تعدیلاتو د طرحې تدوینول چې د افغانستان بانک د عالي شورا د ۵۶ ګڼې، ۱۳۹۶/۱۲/۲۸ نېټې تصویب له مخې منظور شوې ده.

۶. د پور ورکولو په مقرره کې د وړاندیز شوې تعدیلاتو د طرحې تدوینول چې د افغانستان بانک د عالي شورا د ۲۴ ګڼې ۱۳۹۶/۱۰/۱۶ نېټې تصویب پر بنسټ منظور شوې ده.

۷. د بازار د خطرونو د مدیریت د برخې د کړنلارې د طرحې تدوینول چې د افغانستان بانک د عالي شورا د ۵۴ ګڼې ۱۳۹۶/۱۲/۲۷ نېټې تصویب له مخې منظور شوې ده.

۸. د معلوماتو د ساتنې د پالیسۍ د طرحې تدوینول چې د افغانستان بانک د عالي شورا د ۱۵ ګڼې ۱۳۹۷/۴/۱۳ نېټې تصویب پر بنسټ منظور شوې ده.

۹. د ادائینو د کړنلارې د طرحې تدوینول چې د افغانستان بانک د عالي شورا د ۱۴ ګڼې ۱۳۹۷/۴/۱۳ نېټې تصویب پر بنسټ منظور شوې ده.

۱۰. د ATS,CSD د کړنلارې د طرحې تدوینول چې د افغانستان بانک د عالي شورا د ۲۶ ګڼې ۱۳۹۷/۷/۱ نېټې تصویب پر بنسټ

منظور شوې ده.

۱۱. د افغانستان بانک د اړیکو د پالیسی د طرحې تدوینول چې د افغانستان بانک د عالي شورا د ۳۷ ګڼې ۲۸/۹/۱۳۹۷ نېټې تصویب پر بنسټ منظور شوې ده.

۱۲. د بهرنیو اسعارو د لیلام په مقرره کې د تعدیلاتو د طرحې تدوینول چې د افغانستان بانک د عالي شورا د ۳۲ ګڼې ۱۳۹۷/۹/۲۷ نېټې تصویب پر بنسټ منظور شوې ده.

۱۳. د افغانستان بانک د وارداتي لیټراف کریډېټونو د کړنلارې د طرحې تدوینول چې د افغانستان بانک د عالي شورا د ۳۶ ګڼې ۱۳۹۷/۹/۲۷ نېټې تصویب پر بنسټ منظور شوې ده.

## د بشري سرچینو لوی آمریت

د بشري سرچینو لوی آمریت د افغانستان بانک د ستراتیژیک پلان د اووم اصل په پام کې نیولو سره د کارکوونکو د رضایت او پرمختګ لپاره د زمینې د برابرولو په موخه د بشري سرچینو د مدیریت د سیستم ښه والي ته ژمن دی. په ۱۳۹۷ مالي کال کې د دې آمریت ټولې هڅې د بشري سرچینو د مدیریت په اغیزناکتیا، ګټورتیا، ځواب ویلو، روڼتیا او نهادینه کولو پورې متمرکزې دي څو د استعدادونو د جذبولو ، ساتنې او ودې لامل شي. دې آمریت د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې لاندې لاسته راوړنې درلودلې دي؛ د افغانستان بانک ریفورم او د تشکیلاتو سمون، د بانک د کارکوونکو د معلوماتو د سیستم سمون، د حاضرۍ د سیستمونو فعالول او د بشري سرچینو د سیستم د کارکوونکو روزنه او ارتقاء، د روغتیایي بیمې تطبیق او پراختیا د تقاعد د حقونود پروژې تطبیق او د هر کارکوونکي د تقاعد حساب ته د تقاعد د حقوقو لیږدونه، د نړیوال بانک په مالي مرسته د تحصیلي او تخصصي پروژې تطبیق، د تقنیني او اداري سندونو د مسودو طرحه او ترتیب، د نړیوال اعتبار لرونکو مسلکي او تخصصي تصدیق پاڼو د حقونو او امتیازونو طرحه او تطبیق او په هېواد کې له نهه پنځوس پوهنتونونو او انسټیټیوټونو سره د هوکړه لیکونو لاسلیکول. د بشري سرچینو لوی آمریت ژمن دې څو د ۱۳۹۸ مالي کال د کاري پلان په پام کې نیولو سره موخو او ډېرو لاسته راوړنو ته لاسرسی پیدا کړي څو د افغانستان بانک د بشري سرچینو د مدیریت سیستم د مثبتې Case Study په توګه د دولت په کچه معرفي کړي.

د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د بشري سرچینو د لوی آمریت کړنې په لاندې ډول وړاندې کیږي:

**د بشري سرچینو جوړښتونه او پلان جوړونه:** د بشري سرچینو لوی آمریت د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د تشکیلاتي ریفورم او کاري پروسو د طرحې او تطبیق په برخه کې د پام وړ اجراات ترسره کړي دي چې د یادو پروسو د پیاوړتیا او کاري اغیزناکتیا او ګټورتیا لامل شوي دي. په همدې توګه او د بست، ګریډ او د شمېر په توپیر سره، د افغانستان بانک د ټولو اداري واحدونو د کارکوونکو شمېر ۲،۳۳۹ تنو ته رسیږي چې له دې ډلې ۱۰۰۱ تنه په زونونو او پاتې نور یې په مرکز کې په کار بوخت دي.

د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د دې آمریت تشکیلاتي چارې د آمریتونو د تشکیلاتي جوړښت تعدیلول او بیاکتنه او همدا ډول د کارکوونکو د دندو د لایحو طرحه او ترتیبول او د دندو شننه ګڼل کیږي. د ۱۳۹۷ مالي کال په کاري پلان کې د تشکیلاتي جوړښت د معیاري کولو او د سلسله مراتبو د ځانګړې کولو په موخه د افغانستان بانک د اداري واحدونو د (۱۲) تشکیلاتي جوړښتونو بیا کتنه، تعدیل او اصلاح ځای پر ځای شوې ده، چې نه یوازې دا موخه ترلاسه شوې، بلکې د اووه واړه زونونو د آمریتونو او په یادو زونونو کې د څلور شپیته (۶۴) نماینده ګیو، ښاري څانګو او غرفو تشکیلاتي جوړښتونه هم اصلاح او د ورځنیو اړتیاوو پر بنسټ تعدیل شوي دي.

د بشري سرچينو، بانکي عمليات، بازار عمليات، معلوماتي ټکنالوژي خدمتونو، خطرونو د اداري، د رياست د دفتر، د مالي خدمتونو د پراختيا، د مالي سکتور د ټينګښت د پروژې، د اسلامي بانکدارۍ او اسلامي خدمتونو، د مالي چارو د څارنې، د ټولو د ناظر، پولي سياست، تدارکاتو، مالي او محاسبې د آمريتونو تشکيلاتي جوړښت او د اوو واړو زونونو تشکيلاتي جوړښتونو جوړول په ۱۳۹۷ مالي کال کې د دې آمريت له کړنو څخه ګڼل کيږي. په همدې توګه د اوو واړو زونونو د کارکوونکو د دندو لايحې ترتيب او اړونده برخو ته لېږل شوي دي.

**د کارکوونکو د تقاعد حقونه:** د بشري سرچينو لوی آمريت د ۱۳۹۷-۱۳۹۶ مالي کلونو په اوږدو کې د افغانستان بانک د کارکوونکو د تقاعد د حقونو په برخه کې لاندې کړنې ترسره کړي دي:

۱. د بشري سرچينو لوی آمريت د برحاله کارکوونکو د تقاعد حقونو د سنجش او محاسبې په موخه د تقاعد د حقونو پروژه په برياليتوب سره پلي کړې ده چې د دې پروژې په پلي کولو سره يې د افغانستان بانک د دوه زره او دريو (۲،۰۰۳) تنو برحاله کارکوونکو دوسيې، د سټيپ، د مقررۍ د نېټې، د عمر او يا د خدمت د مودې د بشپړېدو پر بنسټ د تقاعد نېټې، د زده کړې د درجې او داسې نورو په پام کې نيولو سره د درې وروستيو کلونو د معاشونو د اوسط جدول له ترتيبولو وروسته سنجش او د هر کارکوونکي د تقاعد د حقونو ځانګړي حساب ته له ليږلو وروسته د ياد آمريت د متقاعدينو په ډيټابيس کې ثبت شوي دي.

**د تقنيني او اداري سندونو طرح او ترتيبول**

**د بشري سرچينو د مقررۍ طرح او ترتيبول:** د بشري سرچينو لوی آمريت د بشري سرچينو د تقنيني سند د طرح او ترتيبولو په موخه د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د خپل کلني کاري پلان پر بنسټ وکړای شول چې د کړنو د ترسره کولو لپاره د يوې منظمې حقوقي اډانې په درلودلو او د بشري سرچينو په تړاو د پريکړو په اړه د حقوقي تشو د له منځه وړلو په موخه په شپږويشت (۲۶) څپرکو کې د بشري سرچينو د مقررې وروستۍ مسوده ترتيب کړي.

**د بشري سرچينو د لوی آمريت د ستراتيژيک پلان طرحه او ترتيبول:** د بشري سرچينو لوی آمريت د کاري لورې او مناسبو تګلارو د ټاکلو په موخه د بشري سرچينو له لارې د افغانستان بانک لويو موخو ته د رسيدو لپاره د ۹۶-۱۳۹۷ مالي کلونو له کاري پلان سره سم د دې آمريت د ستراتيژيک پلان لومړنۍ طرحه او ترتيبونه تر لاس لاندې نيولې وه چې ياد پلان په اتو بنسټيزو عنوانونو کې چمتو شوی دی.

**د بشري سرچينو د لوی آمريت د کاري کړنلارو طرحه او ترتيبول:** د بشري سرچينو لوی آمريت د بشري سرچينو چارو ته د غوره او تخصصي رسيدنې او په شفافه، بې طرفانه او عادلانه توګه د بشري سرچينو د مديريت اړوندو موضوعاتو په اړه د پريکړو په موخه د کمېټو د کاري کړنلارې په طرحې او ترتيبولو باندې کار پيل کړی او د همدې کال په اوږدو کې يې د اصلاحي او انضباطي اقداماتو کمېټه، د کارکوونکو د کړنو د ارزونې کمېټه د کار او نارضايتۍ له امله د راپورته شويو اختلافاتو د حلولو کمېټه، د بشري سرچينو د تقنيني سندونو پر مسودو د بياکتنې کمېټه، د کارکوونکو د حقونو، امتيازونو او مکافاتو کمېټه، د اداري او تشکيلاتي سمونونو کمېټه، د اضافه کارۍ کمېټه، د تقاعد کمېټه، د روزنيزو او ظرفيت لوړونې د اړتياوو د پيژندلو او د کارکوونکو د ځای ناستۍ او ارتقاء لوړولو د کمېټې لپاره د کاري کړنلارو لومړنۍ مسوده طرحه او ترتيب کړې ده.

**د کارکوونکو د معاشاتو د نوي سکېل طرحه او ترتیبول:** د بشري سرچینو لوی آمریت په بازار کې د شته تقاضا په پام کې نیولو سره د مناسبو او عادلانه حقونو او امتیازونو د ټاکلو او تثبیت لپاره د ور اشخاصو د جلب او جذب او د افغانستان بانک د کارکوونکو د ساتنې او هڅونې په موخه د کارکوونکو د معاشونو د نوي سکیل لومړنی طرحه ترتیب کړې ده.

**د کارکوونکو روزنه او ظرفیت لوړونه**

**د هېوا دننه روزنیز پروګرامونه:** د بشري سرچینو لوی آمریت په ۱۳۹۷ مالي کال کې د کارکوونکو د مسلکي ظرفیتونو د لوړولو په موخه د کارکوونکو د روزنې او ظرفیت لوړونې په مرکز کې یوویشت (۲۱) روزنیز پروګرامونه جوړ کړي دي چې په ټولیزه توګه څلور سوه نولس (۴۱۹) کارکوونکو په یادو پروګرامونو کې ګډون کړی دی. د پورتینو پروګرامونو له ډلې د (Women Empowerment and Leadership) تر سرلیک لاندې یو پروګرام د افغانستان د بانکدارۍ او مالي انسیتیتوت (AIBF) او پاتې پروګرامونه د داخلي کارکوونکو لخوا تدریس شوي دي.

**له هېواده بهر روزنیز پروګرامونه:** د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې له بهرنیو ادارو سره د هوکړه لیکونو له مخې له هېواده بهر یو سل او درې شپېته (۱۶۳) پروګرامونه په لاره اچول شوي دي چې په ټولیزه توګه درې سوه څلور اویا (۳۷۴) کارکوونکو په کې برخه اخیستې ده..

**د لوړو زده کړو پروګرامونه:**

**د هېوا دننه لوړې زده کړې:** د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د نړیوال بانک د پروژې له لارې د لسانس دورې د بشپړولو په موخه د افغانستان بانک په مرکزي دفتر کې یو سل او دېرش (۱۳۰) تنه کارکوونکي تشخیص او عامل پلاوي ته له پیژندلو وروسته تصویب شوي دي. له دې ډلې، ۴۱ تنه چې ۳۱ تنه یې کارکوونکي او ۱۰ تنه یې کارګران دي، د ازادې سیالۍ له لارې لوړو زده کړو ته لار موندلې چې اوس مهال په لوړو زده کړو بوخت دي. پاتې ۸۸ کارکوونکي د هغه ژمنې له مخې چې د کارکوونکو د روزنې او ظرفیت لوړونې معاونیت سره یې په لیکلې بڼه کړې دي، د بېلابېلو دلایلو پر بنسټ په خپلو شخصي لګښتونو لوړې زده کړې کوي.

د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د مرکزي اداري د ۳۰۹ تنو کارکوونکو له ډلې ۱۷ تنه کارکوونکي د ماسترۍ په برخه کې د لوړو زده کړو د دوام په موخه دکابل پوهنتون د ماسترۍ پروګرام ته بریالي شوي چې اوس مهال خپلې زده کړې پرمخ بیايي او پاتې کارکوونکي په پسرلني سمستر کې کاردان، کاتب او باختر پوهنتونونو ته ورپیژندل شوي دي.

د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د بشري سرچینو لوی آمریت د اداري د کارکوونکو د ظرفیت لوړونې په موخه پنځه ویشت کارکوونکي د ماسترۍ په برخه کې د لوړو زده کړو د ترلاسه کولو لپاره د افغانستان امریکایي پوهنتون ته پیژندلي دي چې له ازموینې وروسته به په یاد پروګرام کې جذب شي.

په همدې ترتیب، د همدې کال په اوږدو کې د زونونو په شرایطو برابر ۱۲۹ تنه کارکوونکي د لیسانس په کچه د لوړو زده کړو د ترلاسه کولو په موخه مشخص او هغه پوهنتونونو ته معرفي شوي چې په اوو واړو زونونو کې ورسره هوکړه لیکونه لاسلیک شوي دي او له دې ډلې ۴۵ تنه کارکوونکي له ازموینې وروسته د لیسانس په پروګرام کې شامل شوي دي.

له هېواده بهر لوړې زده کړې: د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د افغانستان بانک هغه ۲۱ کارکوونکي چې د بهرنیو پوهنتونونو د لوړو زده کړو په پروګرامونو کې د ماسترۍ برخې ته پیژندل شوي ؤ، د لوړو زده کړو په ترلاسه کولو بوخت دي. د یادونې وړ ده چې د پورتنیو کارکوونکو له ډلې یو تن د بریتانیې دولت د Chevening ماسترۍ پروګرام څخه له فارغیدو وروسته په افغانستان بانک کې خپله دنده پرمخ وړي.

**د نړیوالو تصدیق لیکونو لرونکي مسلکي پروګرامونه:** د بشري سرچینو لوی آمریت په کاري برخو کې د کارکوونکو د ظرفیت، مسلکي او تخصصي مهارتونو د لوړونې په موخه د نړیوالو تصدیق لیکونو لرونکي مسلکي پروګرامونه لکه: د ۱۳۹۷ مالي کال له لومړۍ ربعې څخه د ټولو ناظر، د مالي چارو د څارنې، مالي او محاسبې د آمریتونو او د افغانستان د مالي راپورونو د څېړنې مرکز ۲۵ تنو کارکوونکو لپاره د AIBF انسټیټیوټ په مرسته د (CIA) سرټفیکیشن په عملي توګه پيل کړی چې اوس مهال هم دوام لري.

همدا ډول دې آمریت د مالي او محاسبې او د مالي چارو د څارنې لویو آمریتونو ۲۹ تنو کارکوونکو ته د AIBF انسټیټیوټ په مرسته د (ACCA) سرټیفکیشن پروګرام جوړ شوی دی. په ورته وخت کې، په دې برخه کې د مالي چارو د څارنې د لوی آمریت ۱۰ تنو کارکوونکو ته د ACAMS تخصصي پروګرام هم په لاره اچول شوی دی.

بشري وده (Human Development)

**د پوهې د مدیریت پروګرام (Knowledge Management):** د بشري سرچینو لوی آمریت په ۱۳۹۷ مالي کال کې په خپل کاري پلان کې د بشري ودې ۱۹ پروګرامونه ځای پر ځای کړي چې له نیکه مرغه د اداري د داخلي کارکوونکو لخوا د افغانستان بانک د کارکوونکو د بشري ودې په برخه کې د پوهې د مدیریت ۱۸ پروګرامونه جوړ شوي دي.

**د پوهې شریکول (Knowledge Sharing):** د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې ۵۹ تنو هغو کارکوونکو چې له هېواده بهر یې په روزنیزو پروګرامونو کې ګډون کړی ؤ، په ۴۴ پروګرامونو کې خپلې روزنيزې پوهې او تجربې له ۳۵۷ تنو کارکوونکو سره چې ۴۰ تنه یې ښځینه وې، شریکې کړې دي.

**نور پروګرامونه**

**د کار زده کړې دوره (انټرنشیپ):** په ۱۳۹۷ مالي کال کې د کابل پوهنتون، د نسوانو د حسابدارۍ انسټیټیوټ، د نیما انستیتیوت، غرجستان د لوړو زده کړو مؤسسه، د هندوستان د چاندیګر پوهنتون، جامعه اسلامیه هندوستان، د قرغزستان د منځنۍ اسیا امریکایي پوهنتون او د پاکستان اسلام اباد پوهنتون زده کړیالان چې ټولیز شمېر یې ۴۵ تنو ته رسېږي، د کار زده کړې دورې د پای ته رسولو لپاره په رسمي توګه د افغانستان بانک ته پېژندل شوي دي چې په دې برخه کې ورته د کار زده کړې لازمه خدمتونه وړاندې شوي او له دې خدمتونو یې ګټه پورته کړې ده.

**سواد زده کړه:** د افغانستان بانک د اوو واړو زونونو ۱۶۴ تنو کارګرانو، ډریورانو، خانه سامان او شب باشانو په راتلونکې کې د پوهنې وزارت د سواد زده کړې د معینیت په سواد زده کړې پروګرام کې د ګډون غوښتنه کړې ده چې د سواد زده کړې پروګرام د ترتیبولو په موخه د یادو کارکوونکو پېژندنه او شهرت له پوهنې وزارت سره شریک شوی دی.

**کتابتون:** په ۱۳۹۶ مالي کال کې د روزنیز مرکز په کتابتون کې په ټولیزه توګه ۱۲،۸۳۳ ټوکه کتابونه، مجلې، راپورونه او قوانین موجود ؤ. حال دا چې د همدې کال په پای کې په یاد کتابتون کې په ټولیزه توګه ۱۳،۰۷۶ ټوکه کتابونه شتون لري.

**ګمارنه (استخدام)** د بشري سرچینو لوی آمریت د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د ستراتیژۍ د تطبیق او د تشکیلاتي اصلاحاتو (ریفورم) په برخو کې د منظمو او معیاري تشکیلاتو په تراو د ژمنتیا په درلودلو سره د افغانستان بانک د اوو واړو زونونو تشکیلات مرور او اصلاح کړي چې په پایله کې یې ۸۷ بستونه حذف شوي. په ورته وخت کې، د لوړو زده کړو درلودونکو کارکوونکو باندې د تشکیلاتو د تعدیل د تطبیق په برخه کې د

دوی د بستونو په ټاکلو کې لومړیتوب ورکړل شو او په اړه یې لاندې کړنې ترسره شوې:

۱. ۹۰۵ کارکوونکي د بست د شرایطو د پوره کولو پر بنسټ ټاکل شوي دي؛
۲. ۳۸ تنه کارکوونکي د لوړ زده کړو د دوام له امله د معاش په درلودلو سره د انتظار په حالت کې دي؛
۳. ۴۰ تنه کارکوونکي د لوړو زده کړو د نه درلودلو له امله تقاعد ته سوق شوي دي؛
۴. له ۱۸ تنو کارکوونکو څخه د بست د ټاکلو، د معاش په درلودلو سره د انتظار په حالت کې او یا هم تقاعد ته د سوق په موخه د ازادې سیالۍ له لارې ازموینه اخیستل شوې ده.

**د معلوماتي ټکنالوژۍ آمریت**

د افغانستان بانک د معلوماتي ټکنالوژۍ آمریت یو له هغو آمریتونو څخه دی چې له اوسني عصر سره سم د ټکنالوژۍ د اسانتیاوو په برابرولو او د بانکي سیستمونو لکه؛ Core Banking Solutions، SWIFT،ACSS ، Auction، AFTS په معیاري کولو کې مهم رول لوبوي. دا آمریت په عصري ټکنالوژۍ سمبال دی او د شته ابزارونو له لارې یې د افغانستان بانک د سیستمونو د اتوماتولو لپاره ډېرې اسانتیاوې برابرې کړې دي.

د معلوماتي ټکنالوژۍ آمریت بیلابیلې برخې لري او هره برخه یې د ځانګړو دندو لرونکې ده چې په ۱۳۹۷ مالي کال کې د دې آمریت د کړنو لنډ راپور د هرې برخې په توپیر په لاندې توګه وړاندې کیږي.

**د شبکې د بیخبنسټونو مدیریت (Network Infrastructure)**

د شبکې د بیخبنسټونو مدیریت د معلوماتي ټکنالوژۍ د آمریت له مهمو برخو څخه ګڼل کیږي چې د انټرنیټي خدمتونو، شبکې او د شبکې د بیخبنسټونو د رامنځته کولو لپاره د افغانستان بانک په مرکز او ټولو ولایتي نمایندګیو کې کار کوي. په ۱۳۹۷ مالي کال کې د دې برخې بنسټیزې لاسته راوړنې په لاندې ډول دي:

- د افغانستان بانک په مرکز او نمایندګیو کې د عصري شبکه ایزو سیستمونو نصبول
- د افغانستان بانک په مرکز او نمایندګیو کې د شبکه ایزو بیخبنسټیزو سیستمونو نوي کول
- د افغانستان بانک په مرکز او نمایندګیو کې د داخلي تیلیفونونو (IP Phone) نصبول او نوي کول
- د امنیتي خوندیتوب په موخه د Site to site VPN له لارې له نمایندګیو سره د مرکزي بانک د سیستمونو نښلول

**د معلوماتو د ساتنې مدیریت (Information Security)**

دا برخه د افغانستان بانک په مرکز او نمایندګیو کې د شبکې، سرورونو، ویب پاڼو او نورو سیستمونو د امنیت مسؤلیت په غاړه لري. همدارنګه د ادارینو د درې ګونو سیستمونو لکه؛ د سویفټ سیستم او د مخابراتو په وزارت کې له افتونو څخه د خوندیتوب د ډیټا سنټر او د دبۍ د ډیټا سنټر د کارولو پر مهال له خطرونو څخه ساتنه کوي. دا برخه د پورته دندو ترڅنګ د ټولو بانکي سیستمونو او شبکې د مانیټورینګ مسؤلیت هم په غاړه لري او هر ډول امنیتي ستونزې ته په ټاکلي وخت رسیدنه کوي. دې مدیریت د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د بانکي سیستمونو د ښه والي او معیاري کولو لپاره لاندې دندې ترسره کړې دي:

د **Incident Response Plan** **پالیسي ترتیبول:** پېښو ته د ځواب ویلو پروګرام او د معلوماتي ټکنالوژۍ له کارکوونکو سره د مرستې د دستورالعملونو ټولګه ده. دا پروګرام د امنیتي پېښو د رامنځته کیدو پر مهال هغه پیژني او د ټیم مسؤل ته راپور ورکوي څو د سایبري خطرونو او د فایلونو د له لاسه ورکولو

مخنیوی وشي.

- **د امنيتي ارزونې (Security assessment) ترسره کول:** د امنيتي ارزونې موخه؛ په ټولو سیستمونو باندې د هغه په طرحه کولو او جراء کولو کې له لازمه امنیتي کنټرول څخه د ډاډ ترلاسه کول او د امنيتي تشو څېړنه او تر ډېره د سیستمونو د امنيتي خطرونو راکمول دي.
- **د Disposal Policy ترتيبول:** دا پالیسي د سیستمونو د فایلونو د ساتنې لپاره طرحه شوې ده. د سیستمونو (د کارکوونکو د کمپیوټرونو، سرورونو او د بانک د نورو سیستمونو) د کار نه کولو په صورت کې په دې پالیسی کې یو داسې ټیم جوړ شوی دی چې هغه سیستمونه چې له فعالیته پاتې کیږي، د هغه فایلونه زیرمه کړي او له دې وروسته ټول هغه فایلونه چې په سیستم کې موجود دي، په داسې ډول له منځه وړل کیږي چې د پوست کالو له لارې د لاسرسی وړ نه وي.
- **په منظمه توګه د Monitoring System نصبول:** داسې سیستم دی چې د بانک د ټولو سیستمونو د مانیټورینګ لپاره کارول کیږي. د امنيتي خطر پر مهال دا سیستم د معلوماتي ټکنالوژۍ له کارکوونکو سره مرسته کوي څو د خطرونو ارزونه وکړي او د بانک سیستمونو ته د هغه د ننوتلو اجازه ورنکړي.
- **د نویو ویروسونو لکه:** Ransomwar, Phishing, warm malware څخه د افغانستان بانک د سیستمونو د فایلونو د ساتنې په موخه د انټي ویروس پالیسیو نوي کول.
- د ISO 27001 په سټنډرډ سره د معلوماتي ټکنالوژۍ آمریت د بیلابیلو برخو بیاکتنه او پلټنه (Audit).
- د کاروونکو د پرمخ بیولو لپاره د کرنلارې او د نوي کاروونکي ترتیبول او د ادراینو او سویفټ په سیستمونو کې د کاروونکي ځنډول.
- د سویفټ په سیستم کې د Self attestations ترسره کول.
- د سویفټ په سیستمونو کې د CSP تطبیقول چې د سویفټ شرکت له لورې په لاره اچول شوې وه.
- د افغانستان بانک د بیلابیلو آمریتونو او مدیریتونو لپاره د یوزرونو ترتیبول او د AFTS، SWIFT او CH په سیستمونو کې د امنيتي نظم رامنځته کول.
- د ACSS او ICPSS په سیستمونو کې د ټولو خصوصي بانکونو لپاره د نویو یوزرونو ترتیبول او د غیر فعاله یوزرونو فعالول.

**د پوستکالي(سافټ ویر) مدیریت (Software Development)**

دا مدیریت د افغانستان بانک د سیستمونو او اپلیکیشنونو د بنسټیز جوړښت مسؤلیت په غاړه لري. په ۱۳۹۷ کال کې د دې برخې لخوا ترسره شوي کړنې په لاندې ډول دي:

- د انلاین ازموینو د سیستم رامنځته کول
- د ټرانسپورټ د انلاین سیستم رامنځته کول
- له مرکزي سیستم سره د اسعاور د لیلام د سیستم نښلول
- د ACSS په سیستم کې د ښارونو ترمنځ د معاملو د برخې پراختیا.
- د لیلام (auction) د سیستم نوي کول او پراختیا.

**د ډیټابیس مدیریت (Database)**

دا مدیریت د افغانستان بانک د ډیټابیسونو د بنسټیز جوړښت مسؤلیت په غاړه لري او د معلوماتو (ډیټابیسونو) د مرکزونو ټول اطلاعات ترتیب او مدیریت کوي چې د دې مدیریت فعالیت له خورا ډیر اهمیت څخه برخمن دی.

په ۱۳۹۷ کال کې د دې مدیریت ترسره شوې کړنې په لاندې ډول دي:

- له پېښو څخه د خوندیتوب په دوه سایټونو (مخابراتو وزارت او عربي متحده اماراتو) کې د داخلي پرمختللو ډیټابیسونو لکه ACSS، AFTS، Cheque System، Document Management System او Exchange Rate لپاره د Real Time Replication فعالول.
- د ATS او CSD سیستمونو د دواړو تخنیکي او عملیاتي برخو UAT کول او همدا ډول په اذربایجان هېواد کې د یادو شویو سیستمونو د آی ټي توکو ځېرنه چې د بانکونو ترمنځ د ادایني او د پانګه ایزو پاڼو د پروژې له مهمو پړاوونو (milestones) څخه ګڼل کیږي.
- د بادغیس او اروزګان د نماینده ګیو په سیستماتیک کولو کې د CBS ټیم سره همکاري او د CBS سیستم سره د یادو دوو نماینده ګیو د ډیټابیسونو یوځای کول.

**د سویفټ مدیریت (SWIFT)**

د نړیوالو اداینو د سویفټ برخه د افغانستان بانک مهمه او بنسټیزه برخه ګڼل کیږي چې د دولتي ادارو او نړیوالو مالي مؤسسو د بهرنیو (وارده او صادره) معاملو او لیږدونو لپاره کارول کیږي او د ټولو تخنیکي مواردو ساتنه یې اړینه ده چې د معلوماتي ټکنالوژۍ د سویفټ مدیریت له خوا پرمخ وړل کیږي. د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د دې برخې لخوا ترسره شوې کړنې په لاندې ډول دي:

- د سویفټ په سرورونو کې په بریالیتوب سره د Windows Server 2016 Standard Edition د نوې نسخې نصبول او تنظیول.
- د اړتیا له مخې او د سویفټ د وړاندیز پر بنسټ او په معیاري طریقو د افغانستان د مرکزي بانک د سویفټ سیستم په عیارولو او په غوره او ښه ډول د بهرنیو راکړو ورکړو په موخه له ۷.۱ څخه ۷.۲ ته د سویفت د نسخې (ورژن) لوړول.
- د سویفټ په نوي سیستم کې د Alliance Web Platform بیا نصبول او تنظیمول چې له مخې یې کاروونکي کولای شي د Browser له لارې له یاد سیستم څخه کار واخلي.
- د سویفټ په سیستمونو کې د CPS پلي کول چې د معلوماتو د ساتنې مدیریت په مرسته د سویفټ شرکت لخوا په لاره اچول شوې وه.

**د مرستې د میز مدیریت (Service Desk)**

د معلوماتي ټکنالوژۍ د لوی مدیریت د مرستې د میز برخه د دې مدیریت له تخنیکي برخو څخه ګڼل کیږي چې د مرکز، د بانک د نماینده ګیو او د کابل زون د کارکوونکو د سیستمونو (د IT د ټولو وسایلو) ستونزو ته رسیدنه کوي. د ولایتونو د نماینده ګیو او ښاري څانګو ډېری ستونزې په لومړي قدم کې د ټیلیفوني اړیکې له لارې حل کیږي او که چېرې ستونزه جدي وي، نو د مرستې میز برخې یو کارکوونکی اړوندې ساحې ته لیږل کیږي څو ستونزه حل کړي.

د کارکوونکو د سیستمونو د ستونزو د ثبتولو په موخه د (Service Desk Ticketing System) په نوم د یو نوي او عصري سیستم نصبول چې دا سیستم یو سټنډرډ سیستم دی او د افغانستان بانک کارکوونکي د دې سیستم په کارونې سره ډېر ژر د مرستې له میز سره وصل او خپلې ستونزې حلولای شي.

**د مالي خدمتونو د پراختیا لوی آمریت**

د مالي خدمتونو د پراختیا لوی آمریت د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې په بېلابېلو برخو کې خورا ښې لاسته راوړنې درلودلې دي. دې آمریت د نړیوال بانک په تخنیکي مرسته د مالي خدمتونو د پراختیا د ستراتیژۍ د جوړولو په موخه تشخیصیه څېړنې او مطالعې چې د کرنې تمویل، د وړو، کوچنیو او منځنیو

اقتصادي کړنو تمویل، د مالي سکتور د مستهلکینو د حقونو ملاتړ او د ادراینو بېخبنستیونه رانغاړي، ترسره کړي دي.
سربیره پر دې، د مالي خدمتونو د پراختیا لوی آمریت د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل د خطرونو د ملي ارزونې په بهیر کې د اړونده آمریت په توګه د دې آمریت د کاري استقامت په تړاو مطالعې چې د غیر بانکي مالي مؤسسو او د بیمې سکتور د پیسو وینځلو د خطرونو ارزونه رانغاړي، ترسره کړي دي او په پام کې ده چې د نورو برخو له بشپړېدو وروسته د مالي او بانکي محصولاتو د خطرونو په تړاو د دې ارزونې دریمه برخه تر ارزونې لاندې ونیول شي او راپور یې ترتیب شي.
دې آمریت د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د مالي سکتور د مستهلکینو د حقونو لارښود د مالي چارو د څارنې لوی آمریت سره په همغږۍ ترتیب او نهایي کړی دی. یاد لارښود د افغانستان بانک عامل پلاوي لخوا د منظورۍ وروسته د یو متحدالمال له لارې بانکونو او مالي مؤسسو ته صادر شوی. همدارنګه په مالي سکتور کې د مستهلکینو د حقونو د تأمینولو د اړوندو چارو د پر مخ بیولو په موخه د مالي خدمتونو د پراختیا، د مالي چارو د څارنې، ادراینو او د افغانستان د ادراینو سیستم لویو آمریتونو څخه یوه کاري ډله جوړه شوه چې دې کارې ډلې ابتدایي روزنیز پروګرامونه پیل کړي دي.
د دې ترڅنګ، د دې دورې په اوږدو کې، د استازي له لارې د بانکدارۍ د مقررې مسوده د مالي چارو د څارنې د لوی آمریت په همغږۍ ترتیب او تمه کېږي چې د ۱۳۹۸ مالي کال په نیمایي کې نهایي او د تصویب په موخه د بانک د عالي شورا غونډې ته وړاندې شي.
د پورته مواردو ترڅنګ، دې آمریت د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د هېوادوالو د مالي پوهې د زیاتیدو په موخه په ساده ژبه د مالي او بانکي مفاهیمو تر سرلیک لاندې یو کتاب جوړ او چاپ کړی او په پام کې ده چې د مالي پوهې د طرحې په اړانه کې چې د بانک د عامل پلاوي لخوا منظور شوی دی، په کابل ښار کې د مالي زده کړې پروګرامونه په ازمايښتي توګه عملي شي.

## د مالي نظام د ټینګښت د پروژو دفتر

په اوسنی نړۍ کې د هر هېواد اقتصادي وده په بانکونو پورې تړلې ده. په افغانستان کې هم سوداګریز بانکونه فعالیت کوي او د هېواد په اقتصادي وده کې مهم رول لوبوي. د افغانستان بانک د بانکدارۍ او مالي نظام د اړوندو قوانینو او مقرراتو د پلي کوونکې مرجع په توګه د بانکونو او خصوصي او دولتي مالي بانکي مؤسسو د کړنو د څارنې دنده په غاړه لري. لکه څنګه چې د هېواد په مالي او بانکي نظام کې له بریښنایي او عصري سیستمونو پرته په معیاري بڼه د پورته یادو شویو اصولو پلي کول شوني نه دي، نو له همدې امله د قوانینو طرحه کولو او تعدیل او د بریښنایي او عصري سیستمونو نصبولو ته جدي اړتیا لیدل کیږي چې د بانکي خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې پیرودونکو ته د اسانتیاوو د رامنځته کولو زمینه برابروي.
د پورته یادو شویو مواردو ترڅنګ، بنسټیز سمونونه د بانکونو ترمنځ او د مشتریانو په معاملو کې د لا خوندیتوب لامل شوي دي، د مالي ثبات په برخه کې یې بنسټیز رول لوبولی او په پای کې د هېواد د اقتصادي ودې لامل شوی دی. له همدې امله، د مالیې وزارت، نړیوال بانک او د افغانستان بانک د مالي چارو په څارنه، د ادراینو د سیستمونو او مالي بېخبنستیونو په رامنځته کولو کې د کاري ظرفیت د لوړولو په موخه په ۲۰۰۹ او ۲۰۱۱ زیږدیز کلونو کې درې اړخیزه هوکړه لیکونه لاسلیک کړي دي، څو د مالي ټینګښت د پروژو بنسټیزې موخې لکه د افغانستان بانک د ظرفیت

ټینګښت، د مالي سکتور د بیخبنسټونو پرمختیا او د افغانستان بانک د مهارتونو پرمختیا له تخنیکي پلوه پلي شي. د مالي چارو د څارنې د کاري ظرفیت لوړولو په موخه د عملیاتي پلان طرحه کول او د مالي سیستمونو او جوړښتونو د چمتو کولو او نصبولو له لارې په مالي معاملو کې اغیزناکتیا او روڼتیا د مالي ټینګښت د پروژو بنسټیزه موخه ګڼل کیږي.

د افغانستان بانک د مالي نظام د ټینګښت د پروژو دفتر په ۱۳۹۷مالي کال کې په ټولیزه توګه ۱۸بنسټیزې کړنې پلان کړې وې چې له دې ډلې یې ۷پروګرامونه بشپړ کړي دي. په ورته وخت کې ۹کړنې د اجراء په حال کې دي، یوه کړنه پیل شوې نه ده او یوه کړنه هم د ځنډ په حال کې ده. خو د ځنډیدلې کړنې د ترون د خبرو اترو پروسه لا بنده شوې نه ده.

(۲۴) جدول:

| ټولیزه پلان شوې کړنې | بشپړې شوې کړنې | د اجراء په حال کې کړنې | ځنډېدلې کړنې | هغه کړنې چې نه دي پیل شوي |
|---|---|---|---|---|
| ۱۸ | ۷ | ۹ | ۱ | ۱ |

د ۱۳۹۷مالي کال د بودجې پر بنسټ د وزارت/ اداري د ټولو کړنو د پرمختګ د سلنې اوسط (۹۳سلنې) ته رسیږي.

د افغانستان بانک د بانکونو ترمنځ د اړیکو د سیستم چمتو کول او نصبول او د افغانستان د اداینو سیستم د دفتر شبکه جوړونه، د افغانستان بانک د معاملو او مالي راپورونو د څیړنې مرکز لپاره د World Check Application جوړول او فعالول، د FSRRP او د افغانستان بانک لپاره د تدارکاتو سلاکار د ترون بشپړول، د عامه اعتبارونو د ثبت سیستم د ساتنې او څارنې د خدمتونو ترسره کول، د افغانستان د اداینو د سیستم د دفتر مالي ملاتړ، د کارت او موبایل له لارې د ادایني سیستم لپاره د تضمین (ورنټي)